# علم څه دئ

# او

# عالم څوك دئ؟

حکمتيار

# علم څه دئ؟

# او

# عالم څوک دئ؟

**حکمتيار**

# فهرست

عنوان　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　صفحه


**مقدمه ------------------------------------------ ۱**

**د انساني مغز مقايسه له کمپيوټر سره ----------------------۸**

**علم څه دئ او عالم څوك دئ؟ -------------------------- ۱۱**

**د هر انسان هر علم يوه الهي پېرزوينه ده؛ که هغه مؤمن وي او که کافر؛ که ئې علم د دنيا په اړه وي او که د دين په اړه ۱۱**

**انسان او مُدْرِکه حواس ئې ----------------------------- ۳۳**

**له مبالغو ډك القاب ---------------------------------- ۵۲**

**د انسان رؤيا؛ د رحمان رب پېرزوينه او د غيب علم نښه--- ۷۵**

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

## مقدمه

قرآن موږ ته دا لارښوونه او وضاحت هم کړی چې علم څه دئ او چا ته عالِم ویلی شو؟؛ د علم تعریف څه دئ او پر چا د عالِم اطلاق کېدی شي؟، آیا علم ښه او بد، سپېڅلی او سپېره هم لري؟ د علم منشأ څه ده او اسباب ئې کوم؟ د قرآن په ډېرو آیتونو کې د علم یادونه شوې؛ دا کلمه له خپلو مشتقاتو سره ۷۷۹ ځله په قرآن کې راغلې؛ د علم، عالِم، علیم، علماء، تَعْلَم، نَعْلَم، یعلمون، تعلمون، معلوم او ... په صیغه؛ او دا ښيي چې علم ته په قرآن کې څومره اهمیت ورکړی شوی؛ د قرآن په ٦٢٣٦ آیتونو کې؛ نژدې ۷۷۹ آیتونو کې د علم یادونه شوې؛ یعني د ټول قرآن نژدې ۱۲,۵۰ %؛ علم ته مختص شوې!! د قرآن لومړني آیتونه چې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم نازل شوي او په همدې سره د قرآن نزول پیل شوی؛ لاندیني پنځه آیتونه دي؛ راشئ وګورو چې محوري موضوع ئې څه ده:

ٱقْرَأْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلَّذِى خَلَقَ ۝١ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِنْ عَلَقٍ ۝٢ ٱقْرَأْ وَرَبُّكَ ٱلْأَكْرَمُ ۝٣ ٱلَّذِى عَلَّمَ بِٱلْقَلَمِ ۝٤ عَلَّمَ ٱلْإِنسَٰنَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ۝٥ العلق

۱- ولوله په نوم د خپل رب؛ هغه چې پیدا ئې کړ. ۲- انسان ئې له ځوړندو پیدا کړ. ۳- ولوله چې رب دي ډېر کریم دئ. ٤- آ چې په قلم ئې پوهه ورکړه. ۵- انسان ته ئې ورزده کړل څه چې نه پرې پوهېدو.

په لومړي آیت کې څو مهمي خبري زموږ پام ځان ته جلبوي:

- د الله تعالی له لوري وحي د اقرأ (ولوله) په امر پیل شوې او دا ښيي

چي د اسلام له نظره د (لوست) مقام او منزلت څومره لوړ دئ او څومره اهميت لري، دا د الله تعالى لومړی امر دئ، په دغه امر سره ئې د وحي لړل پيل کړي.

- دا امر هم رسول الله صلی الله عليه و سلم ته متوجه دئ او هم د ده له لاري ټول امت ته؛ د ښځو او نارينه وو په شمول؛ يعني الله تعالى ټولو مؤمنانو ته امر کړی چي لوستل زده کړي.
- لوستل د خپل رب په نامه او د هغه په مرسته پيل کړه، هغه رب چي هر څه ئې پيدا کړي، ته او دا هر څه يوازي يو رب لرئ، چي هم ستا رب دئ او هم د نورو ټولو مخلوقاتو رب.
- د (اقرأ) له امر معلومېږي چي د وحي فرشتې بايد دا لومړۍ وحي په ليکلې بڼې کې د پيغمبر عليه السلام مخي ته نيولې وي.

په دوهم آيت کې ويل شوي چي انسان ئې له علق پيدا کړ؛ په دې سره موږ ته څو لارښوونې شوې:

- د انسان د پيدايښت څرنګوالی دوهمه ستره او مهمه قضيه ده چي قرآن ئې د خپلو مخاطبينو مخي ته ږدي.
- په دې اړه چي (انسان له ځوړندو پيدا شوی) څو خبري د توجه وړ دي:

الف: علق د علقة جمع ده، اصلي معنى ئې ځوړند ده او دلته له دې کبله د جمع په صيغه راغلې چي له انسان مراد ټول انسانان دي، يعني ټول انسانان ئې له ځوړندو شيانو پيدا کړي.

ب: قرآن د ټولو ژوو پيدايښت له اوبو او د انسان د پيدايښت لومړۍ ماده خاوره او د جوړښت پيل ئې له نطفې ګڼي؛ بايد وګورو چي ولي په دې آيت کې د انسان د پيدايښت پيل له (علقه) ښودل شوی؟ دوه توجيه مومو:

١- ادبي ترکيب د دې تقاضی کوي چي د مخکيني آيت په پای کې د (خلق) صيغې ته ورته صيغه د دې آيت په پای کې راغلې وی؛ د دې

لپاره چې د دواړو فواصل او وزن يو شانته شوى وي.

۲- دلته د انسان د پيدايښت دوه ډېر متفاوت حالتونه (کامل انسان) او (يو ځوړند توکی) يو د بل څنګ کې ايښودل شوي، چې په دې سره خپل مخاطب ته ووايي: لکه څنګه چې الله تعالی انسان له يوه ځوړند توکي پيدا کړي، وده ورکړي او بشپړ انسان ترې جوړ کړي، همداسې په (وحي)، (قرائت) او (تعليم بالقلم) سره انسان د پوهې او علم داسې لوړ پوړ ته رسوي چې په ډېرو اسرارو پوه شي، په هغه څه چې تر دې وړاندې او له دې لارې پرته نه شو پرې پوهېدی.

ج: انسان ډېر وروسته او په تېرې پېړۍ کې په دې پوه شو چې د مور په رحم کې او د انسان د جوړښت په پيل کې د ماشوم لومړۍ جوړه شوې نطفه د رحم په جدار پورې راځوړنده وي چې وروسته بيا د ژوول شوې غوښې ټوټې ته ورته بڼه غوره کړي. دا آيت هم د قرآن يو داسې علمي اعجاز زموږ مخې ته ږدي چې ساينس د ډېرو پرمختللو وسائلو په مرسته څوارلس پېړۍ وروسته پرې پوه شو.

په درېيم او څلورم آيتونو کې ويل شوي: ولوله چې ستا رب ډېر کريم دئ؛ دا د الله تعالی د کرم او پېرزوينې څرګنده نښه ده چې انسان د يوه (ځوړند توکي) له حالت هغه ځای ته رسوي چې (کامل انسان) ترې جوړ شي، ليك او لوست ورښيي، انسان يوازينی مخلوق دئ چې کولی شي د (لوستلو) له لارې د بل په خبره پوه شي او د (ليکلو) له لارې خپل معلومات خوندي کړي او خپل پيغام نورو ته ورسوي او په دې سره د خپل سلف له قيمتي تجاربو ګټه واخلي؛ د معلوماتو د ضائع کېدو مخه ونيسي او راتلونکي نسل ته ئې انتقال کړي؛ له انسان پرته دا وړتيا او امتياز په هيڅ ذيروح کې نه ګورو، الله تعالی په انسان کې دا استعداد او وړتيا ايښې ده چې له (قلم) د تعليم او تعلم وسيله جوړه کړي، له دې اړخه ئې انسان ته پر ټولو نورو مخلوقاتو فضيلت ورکړی. له دې مبارك آيت څو اساسي مطالب استنباطولی شو:

الف: په (قرائت)، (علم) او (قلم) سره هم انسان ته پر نورو

مخلوقاتو فضيلت ورکړی شوی او هم پخپله د انسانانو تر منځ يوه ته پر بل فضيلت.

ب: (قلم) د زده کړي او پوهي ډېره اغېزمنه وسيله ده، په دې سره انسان د دې مجال تر لاسه کوي چي په ډېرو هغو حقائقو پوه شي چي له بلي لاري پرې پوهېدل ورته ممکن نه وو.

ج: لکه څنگه چي دلته د (الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ) فقره په دې معنی ده چي انسان ته له قلم د استفادې استعداد ورکړی شوی، الله تعالی د هغه په فطرت کي دا مَلَکه ايښې چي قلم جوړ کړي، خپل ما في الضمير وليکي او نورو ته ئې انتقال کړي او له دې د زده کړي او تعليم او تعلم وسيله جوړه کړي، همدا راز په نورو آيتونو کي دې ته ورته راغلي الفاظ لکه (عَلَّمَهُ الْبَيَانَ) او (وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاءَ كُلَّهَا)؛ هم هغو استعدادونو ته اشاره کوي چي انسان ته ورکړی شوي، انسان ته د (بيان) ملکه ورکړی شوې، کولی شي خپل (مافي الضمير) اظهار کړي او له کلماتو او الفاظو په استفادې سره خپل قصد، هدف، نظر او پيغام تشريح او توضيح کړي، هغه ته د هر څه د پېژندو او په هر څه د يوه مناسب نوم ايښودو استعداد ورکړی شوی، هغه کولی شي خپله پوهه د نومونو په قالب کي ترتيب، تنظيم او حفظ کړي او نورو ته ئې انتقال کړي. دا د انسان يوه ځانگړتيا ده، دا صفت په نورو مخلوقاتو کي نه شته، په دې سره الله تعالی انسان ته پر ټولو مخلوقاتو فضيلت او شرف ورکړی. هغه محترم مفسرين چي د (وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاءَ كُلَّهَا) فقره په بلي بڼي تفسيروي او وايي چي اسماء توقيفي دي، د الله له لوري وضع شوي او آدم عليه السلام ته ښودل شوي؛ سخته اشتباه ئې کړې، تفسير ئې هم تفسير بالرأی دئ نه تفسير قرآن بالقرآن او هم د واقع خلاف؛ عملاً گورو چي ټول نومونه انسان پخپله وضع کوي، د هر نوي توکي لپاره نوی نوم غوره کوي، که د دوی دا تعبير ومنل شي د (علم بالقلم) او (علمه البيان) آيتونه به د دوی د اسلوب له مخي څنگه تفسيروو؟ که خبره داسي وی لکه دوی چي وايي؛ نو بايد د ټولو شيانو نومونه؛ په ټولو ژبو کي سره

ورته وي؛ خو عملاً ګورو چي خبره د دې عکس ده؛ د نن زمانې په زرګونو نومونه داسي دي چي تر نن وړاندي اصلاً نه وو؛ د ټولو انسانانو نومونه د دوی میندو او پلرونو ایښي.

سره له دې چي قرآن (قلم)، (لیك) او (لوست) ته دومره اهمیت ورکړی او سره له دې چي پیغمبر علیه السلام ته د وحي په پیل کي لومړۍ لارښوونه د قرائت او قلم په اړه ده او ورته ویل شوي چي قلم د تعلیم او تعلم ستره وسیله ده، خو متأسفانه زموږ په زړو دیني مدرسو کي (قلم) هېر شوی، له دغو مدرسو چي څوك فارغېږي په لیکلو نه پوهېږي!! نن د قلم ځای کمپیوټر نیولی، هغه کار چي موږ ئې په قلم سره په څو ورځو مسلسل لیکلو سره نه شو کولی؛ د کمپیوټر په مرسته ئې په څو ساعتونو کي کولی شو؛ ښايي تفاوت به ئې دومره وي لکه د اوښ سفر او د موټر او جهاز سفر. نن چي څوك په کمپیوټر نه پوهېږي؛ بې سواد ګڼل کېږي؛ داسي دئ لکه هغه چي پرون د قلم له کارولو عاجز وو.

له پنځم آیت څو مطالب تر لاسه کولی شو:

الف: د انسان پر مخ چي د معرفت هره دروازه پرانیستل کېږي او په هري نوې خبري چي د پوهېدو توفیق تر لاسه کوي، د ده هر( کشف) او په هر سِر او راز پوهېدل ئې په حقیقت کي د الله تعالی یوه پېرزوینه ده، دا دروازه د ده له لوري ورته پرانیستل کېږي، په دغو حقائقو د پوهېدو توفیق دی ورکوي او د دغو اسرارو د کشف توان دی ورکوي؛ لکه څنګه چي قرآن دا مطلب په دې الفاظو بیانوي:

وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ .... ﴿٢٥٥﴾ البقرة

او دوی د ده له علم یوازي په دومره څه احاطه کولی شي چي دی ئې وغواړي.

هر چا ته علم او پوهه دی ورکوي، سترګي، زړه، غوږونه، دماغ او اعصاب ئې د ده په اراده ورته کار کوي، لار ورته ښيي او د ښه او بد،

مفيد او مضر په پېژندلو کې ئې مرسته کوي؛ دا ټول د الله په خوښه او اذن او په همغه حد کې وي چې الله ئې وغواړي.

ب: د دې عالم يوه برخه داسي ده چې انسان ئې له وحي پرته له بلې هيڅ لارې نه شي پېژندی، الله تعالی د وحي په لېږلو سره انسان ته په هغه څه د پوهېدو امکان هم ميسر کړ چې له دې پرته درك کول او پېژندل ئې ورته ممکن نه وو. دا مطلب؛ د دنيا په يوه جنت (باغ) کې؛ د آدم او حواء عليهما السلام د استقرار قصه؛ په ډېر ښکلي انداز موږ ته توضيح کوي؛ هغوی ته دا سپارښتنه شوې وه چې د دې باغ هره مېوه خوړلی شئ خو له دې خاصي ونې پرته؛ يعني هغوی دې ته اړ وو چې د مفيد او مضر خوراك په اړه معلومات ورکړی شي؛ د نورو ژوو په څېر نه دي چې د مفيد او مضر خوراك پېژندا ئې په فطري شعور کې ايښودل شوې؛ په محض يوه بوی سره پوهېږي چې دا واښه ورته ګټه لري که تاوان؛ بچي ئې د ژوند په لومړيو شېبو کې او پرته له دې چې مور ورته لارښوونه وکړي؛ همدا کار کولی شي؛ اما د انسان ماشوم تر څو کلونو پوري د مور لارښوونې او محافظت ته اړ وي؛ اور ته هم لاس اچوي او خاوره او ډېره هم په خوله منډي[١].

ج: په اصل کې انسان (بې علمه) دنيا ته راځي، په تدريج سره زده کړه کوي او علم تر لاسه کوي. په پيل کې ئې د مغز د حافظې برخه تشه وي؛ ورو ورو خپل علوم او معلومات په کې ذخيره کوي؛ د انسان د پوهې او علم تفاوت د نورو ژوو له شعور او پوهې سره په دې کې دئ چې نور ژوي ثابت او محدود علم لري، له مخکې د دوی په خټه او دماغ کې ايښودل شوی، په فطري او الهامي توګه ورته تفهيم شوې چې څنګه ژوند وکړي، کوم کوم کارونه وکړي، څه وخوري او د څه له خوړلو ډډه وکړي، څنګه مفيد او مضر سره بېل کړي؛ خو انسان به د مفيد و مضر په اړه معلومات؛ يا له بل تر لاسه کوي او يا له خپلې تجربې؛ که کومه

---

[١] د دې مطلب تفصيل د قرآن پلوشې تفسير کې وګورئ

نوې مېوه او بوټی په لاس ورشي؛ یا به ئې پر څو حیواناتو آزمویي او له دې لارې به ئې ګټه او تاوان معلوموي او یا به له هغو انسانانو پوښتي چې دا ئې آزمویلي او په ګټه او تاوان ئې پوه شوي. پر دې سربېره؛ انسان کولی شي چې تر هغه څه زیات هم زده کړي چې په فطري او الهامي توګه ورښودل شوي او په ضمیر کې ئې ایښودل شوي. دی کولی شي زده کړه وکړي، د خپلې پوهې سطح لوړه کړي، اسرار کشف کړي او پټ حقائق ځان ته معلوم کړي، په (لوستلو)، (لیکلو) او له (قلم) په استفادې سره د خپلې حافظې ظرفیت لوړ او پراخ کړي او په هغه څه هم پوه شي چې نور پرې پوهېدلي او دی ترې غافل وو او له پېژندو ئې عاجز. که انسان ته له (قلم) د استفادې استعداد نه وی ورکړی شوی او په لیك او لوست نه پوهېدی نو د هر چا علم او پوهه به له ده سره پاته کېده، نه به په دې توانېدو چې د نورو له پوهې او تجربو ګټه واخلي او نه به ئې خپل تجارب او علم نورو ته انتقالولی شو.

خو متأسفانه موږ مسلمانان چې پر قرآن د ایمان دعوی کوو؛ د همدې (علم) په ارتباط هم په خپلو کې اختلاف لرو؛ دا ځکه چې زموږ علماءو قرآن ته شا کړې؛ قرآن ته مو د بوازیني بشپړ الهي لارښود کتاب په سترګه نه دي کتلي؛ د قرآن په اصطلاح مو د الله تعالی لارښود کتاب مهجور (متروك) پرېښی.

هغه څه چې په عربي کې ورته (علم) وایي، په پښتو کې (پوهه) او په انګریزي کې (science)؛ په حقیقت کې هغه معرفت او پېژندا ده چې انسان ئې د ځان، خپل ماحول، ټول عالم او د عالم د هر څه د خالق او پالونکي په اړه تر لاسه کوي؛ د انسان علم اکتسابي دئ؛ نه ذاتي؛ ورو ورو ئې پخپله یا د بل په لارښوونه تر لاسه کوي؛ خو په ده کې داسې استعدادونه، د فهم او ادراك وړتیاوې، د پېژندا او پوهېدا مَلَکې، عقل، شعور او حواس ایښودل شوي چې ده ته ئې له علمي پلوه پر ټولو مخلوقاتو فضیلت ورکړی.

## د انساني مغز مقايسه له كمپيوټر سره

كه د انسان مغز او عقل د نړۍ تر ټولو ستر كمپيوټر سره مقايسه كړو نو دا كمپيوټر به ئې په وړاندې داسې وي لكه د يوه ستر ښار يوه وړوكې بنګله؛ ښايي ځينو ته به دا مبالغه معلومه شي؛ خو ساينس وايي: «انساني دماغ شاوخوا ۸۶ ميلياړده عصبي حجرې (neurons) لري، چې هره يوه تر ۱۰ زرو زياتې اړيكې نيسي او تنظيموي. د دې معنى دا ده چې د انساني مغز؛ د اړيكو تنظيمولو وړتيا او ظرفيت؛ د ټولې نړۍ د انټرنيټي اړيكو په پرتله ۹۹ سلنه زيات دئ.» د انسان مغز په هره شېبه كې ميليونونه ميلياړده (مليونونه x مليارد) اړيكې تنظيموي، په هرې اړيكې سره پيغامونه تبادله كوي؛ «دا د يوه ژوندي كمپيوټر په څېر دئ؛ داسې كمپيوټر چې نه يوازې معلومات حفظوي او تنظيموي، بلكې ژوند، احساس، شعور او د خپلواكو پرېكړو وړتيا لري او د خپل مستقل تشخيص له مخې پرېكړې كولى شي؛ دا هغه څه دي چې د ۲۱ پېړۍ هيڅ كمپيوټر او مصنوعي هوش ئې نشي كولى.

د مزيد وضاحت لپاره ښايي دا مثال كفايت وكړي: نن د نړۍ نفوس شاوخوا اته ميلياړده دئ؛ كه فرض كړو هر انسان يو مبايل لري او له يوه مركز سره وړيا تماس كې وي، نو دا به يقيناً يوه ستره مخابراتي شبكه وي؛ چې انسانانو ته لا ډېره ګرانه او له وس وتلې خبره ده چې داسې شبكه جوړه كړى شي؛ خو كه دا شبكه د انسان له دماغ سره مقايسه كړو، نو دماغ د څو ميلياړده عصبي حجرو يوه نړۍ ده، چې د انسان د بدن ټول سلولونه او حجرات له هره پلوه مديريت كوي؛ د حجراتو تخميني شمېره نژدې ۳۰ تر ۴۰ ټريليونه (trillion) ده؛ ځيني نوې ساينسي څېړني ئې شمېر نژدې ۳۷ ټريليونه (۳۷ زره ملياړده) اټكلوي؛ يعني د ټولو انسانانو د اوسني شمېر په پرتله ٤٦٢٥ ځله زيات، دا ټول حجرات؛ هره يوه ئې هره شېبه له مركز سره په تماس كې وي، تر منځ ئې پيغامونه تبادله كېږي، مركز هدايات وركوي، اړتياوې ئې پوره كوي،

آکسیجن، اوبه، غذا، ويټامينونه، منرالونه او نور ضروري مواد وررسوي او کاربن دای اوکساید او نور فضله مواد ترې انتقالوي او له بدن ئې خارجوي، د يخني او تودوخي په وړاندي ئې ساتي او د معتدل حرارت د تأمين لپاره لازم اقدامات کوي، که بيمار شي علاج ئې کوي، که کوم مکروب، بکتريا او ويروس پرې حمله وکړي؛ فوراً ئې پېژني، د مقابلې لپاره ئې تيارى نيسي، محاصره کوي ئې، د مخنيوي او له منځه وړلو چاره ئې کوي، د هغه ضد دوا توليدوي، دا وړتيا او توان لري چي هر مرض وپېژني او د هغه دوا توليد کړي، د هغو ويروسونو د تشخيص او پېژندا توان هم لري چي په لومړي ځل ورسره مخامخ کېږي، نوي رامنځته شوي او له نورو ژوو انسان ته انتقال شوي؛ او انسان لا تر اوسه نه پېژندلي او نه ئې پېژندلی شي. د دې ارتباطي او اداري نظام عظمت، دقيق تنظيم او تر منځ ئې دائمي تنسيق او همغږي دومره پراخه او ستره ده چي انسان په خپل قاموس کي د هغه د عظمت بيانولو لپاره الفاظ نه لري او د مقدار بيانولو لپاره ارقام؛ انسان او ټکنالوژي ئې لا د دې لا يتناهي مزل د پيل په څو متري کي دئ.

د ژوو دماغ او په نباتاتو کي تعبيه شوی فطري اداري سيستم او نظام؛ په سلګونو داسي کارونه کولی شي چي ساينسپوهان ئې له کولو عاجز دي؛ اکثر ژوي کولی شي له خوراکي توکيو دا شيان جوړ کړي: ژوندۍ نطفه، ژوندۍ حجرې، وينه، غوښه، هډوکي، وېښتان او د بدن نور غړي؛ د انسان د بدن ټولي زړې حجرې؛ ځيني هره ورځ، ځيني په اونۍ، مياشت او څو کلونو کي په نويو حجرو بدلېږي؛ همداسي د نورو ژوو؛ او په نباتاتو کې زاړه حجرات عموماً نه بدلېږي او نه بهر ايستل کېږي؛ بلکي نوي حجرات د ودي په برخو کي توليدېږي او زاړه حجرات ورو ورو د نبات د بدن برخه ګرځي او خاصي دندي تر سره کوي؛ لکه دا چي پوستکی ترې جوړ شي او د نبات حفاظت کوي؛ له يخني، تودوخي، مکروبونو او حشراتو ئې ساتي؛ ډېري نوري داسي چاري دي چي د نړۍ ټول ساينسپوهان، ډاکټران، انجنيران، له خپلو ټولو لابراتوارونو او

تجهیزاتو سره؛ په ګڼه نه شي کولی یو له دغو کارونو تر سره کړي؛ دا خو پرېږدئ؛ حتی د یوه بوټي یوه پاڼه هم نه شي جوړولی، هیڅ عضوي ماده چې حیوانات، مرغان او بوټي ئې له خاورو جوړوي؛ لکه دانه، مېوه، ګل، پاڼه؛ نه شي جوړولی؛ شیدې، غوړ، غوښه، هډوکی... نه شي جوړولی؛ د انسان او هر ژوي د بدن د غړو د مانور قدرت دومره لوړ دئ چې ساینس ئې لایتناهي ګڼي؛ انسان په ۲۰۲۵ کې داسې روبات جوړ کړ چې ٤ ملیون شخصیت لري؛ یعني ٤ ملیون حرکات اجراء کولی او ښودلی شي؛ ما له مصنوعي هوش وپوښتل: غوښتل مي د خپلي یوې ګوټې حرکات وشمارم؛ ونه توانېدم؛ زما د ټول بدن د ټولو غړو؛ هغه چې زما په واك کې دي او هغه چې زما دماغ ئې پخپله او زما له اداري او دخالت پرته اجراء کوي؛ لکه د زړه حرکات، د ینې، سږي، معدې، پښتورګو، سترګو، غوږونو، پزې، ژبې، رګونو او نورو غړو فعالیتونه به څومره وي؟ ځواب ئې دا وو: دا محاسبه او مقایسه؛ تر ننه انسان ته محال او ناممکنه ده او د انسان د حرکاتو شمېر محدود نه؛ بلکې لایتناهي دئ.

دا کتاب د هغو لپاره دئ چې له ساینسي علومو سره حساسیت لري؛ د حساسیت منشأ ئې خپله ناپوهي او کمعلمي ده؛ د صرف او نحو او د فقهي قضایاوو اړوند څو ابتدائي کتابونه ئې لوستلي؛ هغه هم یوازې په دې موخه چې سند تر لاسه کړي، له کبله ئې د کوم جومات امامت ورپه برخه شي او همدا ئې د رزق او روزي وسیله شي؛ نه ئې قرآن په دقیقه توګه او اهتمام سره لوستلی او نه له هغو ضروري علومو خبر دئ چې انسان ورته اړ دئ او له هغه پرته د زمکې پر سر سوکاله ژوند ورته ممکن نه دئ؛ هیله ده دا لیکنه د دوی ستونزه حل کړي او د علم حقیقت او اهمیت له دیني پلوه او د قرآن له نظره درك کړي. اللَّهُمَّ أَرِنَا الْحَقَّ حَقًّا وَارْزُقْنَا اتِّبَاعَهُ، وَأَرِنَا الْبَاطِلَ بَاطِلًا وَارْزُقْنَا اجْتِنَابَهُ. آمین

حکمتیار

## علم څه دئ او عالم څوك دئ؟

**د هر انسان هر علم يوه الهي پيرزوينه ده؛ که هغه مؤمن وي او که کافر؛ که ئې علم د دنيا په اړه وي او که د دين په اړه**

مسلمان به د (علم) او (عالِم) تعريف هم له قرآن زده کوي؛ بايد وګورو چې الله تعالی څه ته علم ويلي او چا ته عالِم؛ قرآن موږ ته د آدم عليه السلام د پيدايښت په قصې کې هم علم راښودلی او هم عالِم؛ هلته چې وايي: الله تعالی اراده وکړه چې د زمکې د خلافت او چارو سمبالولو لپاره د انسان په نامه نوی مخلوق؛ له خاصو ځانګړتياوو او امتيازي استعدادونو سره پيدا کړي؛ تر ټولو لوړ صفات ئې دا چې: ١- هغه به د عالِم د ټولو اشياءو د پېژندو داسې علم او استعداد لري چې د فرشتو په شمول په نورو مخلوقاتو کې نشته؛ ٢- دی به د نورو مخلوقاتو په پرتله د نسبي اختيار خاوند وي، د ښه او بد، صحيح او غلط؛ جائز او ناجائز له منځه د يوه په انتخاب او غوراوي کې به آزاد وي؛ يعني نه به د فرشتې په څېر وي چې هم ئې کار او دنده مشخصه ده او هم ئې علم محدود او فقط دومره چې د خپل مشخص کار علم لري او بس؛ نه بد کار کولی شي او نه د الله تعالی له اوامرو عصيان او سرغړاوی، او نه به د شيطان په څېر وي چې د عصيان لار ئې غوره کړه، د شر سمبول ترې جوړ شو او د الله تعالی له رحمت ورټل شو. فرشتو ته ئې عملاً وښوده چې د آدم علم تر دوی زيات او جامع دئ؛ فرشتې ونه توانېدې د اشياءو نومونه واخلي، وئې پېژني، توصيف ئې کړي او خصوصيات ئې وښيي؛ خو آدم عليه السلام وتوانېدو هر يو وپېژني، داسې نوم ورته غوره کړي چې له هغه سره ښايي او مواصفات ئې بيانوي؛ نو د دې معنی دا ده چې د

آدم علیه السلام او د ده د اولاد امتیاز او فضیلت پر نورو مخلوقاتو؛ د فرشتو په شمول؛ د ده دغه د اشیاء د پېژندو علم دئ؛ نه بل څه؛ نو د قرآن له نظره عالِم هغه دئ چي د عالَم په پېژندو کي تر نورو وړاندي وي؛ او بیا د همدې علم په رڼا کي خپل رب ښه پېژني؛ دا چي د قرآن لویه برخه؛ په دریو کي تر دوه زیاته برخه؛ د عالم په اړه بحث کوي؛ آسمان، زمکه، لمر، سپوږمۍ، ستوري، ورېځي، غرونه، سمندرونه، نهرونه، د انسان پیدایښت، د عالم پیدایښت، د حیواناتو پیدایښت، د ونو، بوټو، دانو او مېوو پیدایښت، د شپې او ورځي تګ راتګ، رڼا، تیاره، مرګ، ژوند او .... یادوي او بیا خپل مخاطب ته وایي: دا چا پیدا کړي، آیا له الله تعالی پرته بل داسي څوك مومئ چي د دغو په پیدایښت کي ئې څه ونډه وي؟ د دې معنی دا ده چي علم یعني د عالم پېژندا او له دې لاري د عالم خالق او رب پېژندا؛ تاسي به په ټول قرآن کي؛ نه صراحتاً او نه اشارتاً داسي کوم آیت او فقره ئې ونه مومئ چي صرف، نحو، کلامي بلاغت، تجوید، منطق او فلسفه ئې د علم په نامه یاد کړي وي؛ د قرآن لومړی آیت چي له پرانستو سره ئې متصل زموږ مخي ته راځي دا دئ:

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ۝٢ الفاتحة

ټولي ستاینې د عالمونو رب الله ته دي

په دې لومړني آیت کي ویل شوي چي الله همغه دئ چي په دې عالم کي ئې د ربوبیت، پالني او روزني نښې په هر ګام کي ګورو، همغه چي د عالم هر څه په دې شهادت ورکوي چي خالق او پالونکی ئې له هر عیب او نقص منزه او د ټولو ستاینو وړ دئ؛ هر څه له نشت پیدا شي، پخپل ذات کي ئې د ودې او رشد وړتیا تعبیه شوې، ورو ورو وده کوي، د کمال په لور درومي، پیدایښت ئې حکیمانه او هدفمن، د خاص مقصد او غرض لپاره پیدا شوی، یوه تشه پرې ډکه شوې، یوه اړتیا پرې رفع شوې، د ودې او رشد لپاره ئې په زمکي کي لازم شرائط برابر شوي، زمکه

ئې کور او آسمان ئې د دې کور چت، له آسمان اوبه ورته راورېږي او په همدې اوبو سره له زمکې رنګ رنګ، ښايسته او خوندور خوراکي توکي، دانه او مېوه ورته راټوکېږي، داسي چي د انسان لپاره هم غذا ده او هم دوا؛ چا چي دا عالَم له دې نظم، دقت، همغږۍ، هدفمنۍ، کمال او جمال سره پيدا کړی؛ او په هر څه کي د ده د علم او حکمت نښي په څرګند ډول وينو؛ فقط د ستاينو وړ الله دئ.

دلته يوې داسي ستري او اساسي خبري ته اشاره شوې چي د توحيد او خدای پالني لومړی بنسټ او د الله د پېژندلو لومړی پړاو دئ؛ او تر هر څه وړاندي وربانديي پوهېدل ضروري او فرض. په دې آيت کي ويل شوي: هغه ذات چي دا عالمونه ئې پيدا کړي، ساتنه او پالنه ئې کوي، په هر څه او ټولو برخو کي ئې د رب (پالونکي) په توګه تصرف کوي؛ د ربوبيت، پالني او روزني دا آثار او مظاهر هري خوا ته په هر ګام کي تر سترګو کېږي، بې شکه چي دا ذات د ټولو ستاينو وړ دئ، دا پراخ او بې انتهاء، مشهود او ستا تر سترګو لاندي عالَم او په هغه کي دا بې شمېره ښايسته او له ډول ډول ګټو ډك توکي تا ته همدا پيغام لري؛ دا هري خوا ته په هر څه کي ښکلا او ښايست، کمال او جمال، نظم او دقت او دا چي ګورئ هر څه سم پيدا شوي، هر يو د خاص مقصد لپاره پيدا شوی، سمه پالنه او روزنه ئې کېږي، اړتياوو ته ئې ځواب ويلي کېږي؛ دا ټول په دې شهادت ورکوي چي د دې عالمونو رب د ستاينو وړ او له هر عيب او نقص منزه او پاك دئ.

د قرآن په لارښوونو کي زياته پاملرنه طبيعت، ژوند، پوهاوي، عزت، ځواک، ترقۍ، کمال او جهاد ته ده، نه تشو ظاهري عبادتونو ته؛ عبادتونه ئې هم داسي چي مسلمان د ښه او مثالي ژوند لپاره چمتو کوي، لمونځ ئې داسي ورځنی عبادت دئ چي هره ورځ پنځه ځله؛ له نورو مسلمانانو سره يو ځای؛ په ګډه د الله تعالی په وړاندي ودرېږي؛ دا تعهد تکراروي چي له ده پرته به نه د بل چا عبادت او بندګي کوي او نه به له بل چا مرسته غواړي، د بنده له بندګۍ د آزادۍ داسي اجتماعي عبادت چي

ټول به يوازي الله تعالی ته ځانځي، له ده پرته به هيچا ته نه سر ټيټوي او نه لاس اوږدوي، له منکراتو او بدو کړنو د مخنيوي عبادت، له الله تعالی سره هم خپلي اړيکي ساتل او د هغه له بندګانو سره هم؛ زکات ئې له فقيرانو او مسکينانو سره د مرستي عبادت، روژه ئې له حرامو د ځان ساتني مشق او تمرين، حج ئې کلنۍ نړۍ واله غونډه، د يووالي، مساوات او برابروالي داسي مظاهره چي ټول به په يو رنګ جامو کي د يوه کور طواف کوي؛ خو نه د کوم انسان کور؛ بلکي د الله تعالی کور؛ هغه چي الله پخپله د بيت العتيق په نامه نومولی؛ يعني د آزادۍ کور؛ د آزادۍ د دې کور په طواف سره؛ حاجي عملاً تعهد کوي چي له نن وروسته به نه د قصرونو طوافونه کوي او نه د قبرونو؛ قبله به ئې داسي يوه وي لکه چي الله او معبود ئې يو دئ.

د عالِم او طبيعت په اړه د قرآن د ډېر تفصيلي بحث څرنګوالی او کچه له دې معلومولی شو چي ٤٦١ ځله ئې د زمکي يادونه کړې، ٣١٠ ځله ئې د آسمان او اړوند مشتقاتو، ١٣٣ ځله "جبل: غر" او مشتقات ئې؛ ٦٣ ځله اوبه، ٤٨ ځله سمندر؛ د بحر او يم په نامه؛ ٥٤ ځله نهر (درياب)، ٢٤ ځله د کښتۍ يادونه؛ ټول قرآن شاوخوا ٦٢٣٦ آيتونه لري؛ په دې کي يوازي د دغو ٧ شيانو (آسمان، زمکه، غرونو، اوبو، سمندرونو، نهرونو او کښتۍ) يادونه په ١٠٩٩ آيتونو کي شوې؛ له دې قياسولی شئ چي په څومره نورو آيتونو کي به د عالِم د نورو اجزاءو او حالاتو؛ لکه باران، واوره، سيلۍ، طوفان، ژلۍ، ژمي، دوبي، رنګ رنګ مېوې؛ لکه کجوري، انار، انګور، زيتون، انځر؛ ډول ډول حيوانات لکه اوښ، پسه، آس، زمري، غوا او غويي، او نورو .. په اړه څومره بحثونه شوي وي؟! دا څو آيتونه موږ ته همدا درس راکوي:

إِنَّ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَٱلْفُلْكِ ٱلَّتِي تَجْرِي فِي ٱلْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن مَّآءٍ فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ وَتَصْرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ وَٱلسَّحَابِ

ٱلْمُسَخَّرِ بَيْنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ لَأَيَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴿١٦٤﴾ البقرة

يقيناً چي د آسمانونو او زمكي په پيدايښت كي او د شپې او ورځي په اختلاف (يوه په بلې پسي راتلو) كي او په هغو بېړيو كي چي په بحر كي درومي، له هغه څه سره چي خلكو ته ئې گټه رسي او په هغو اوبو كي چي الله له آسمان نازل كړې، چي په هغه سره ئې زمكه له خپلي مړيني وروسته بيا راژوندۍ كړې او په هغې كي ئې ډول ډول خوځېدونكي خواره كړي او د بادونو په گرځولو راگرځولو او د آسمان او زمكي تر منځ په دې مسخر شوو وريځو كي؛ هرومرو عقلمنو ته څرگندي نښي دي.

دا آيت موږ ته لارښوونه كوي: په داسي حال كي چي زمكه او آسمانونه الله پيدا كړي، شپه او ورځ د ده په ارادې ځي راځي، په بحرونو كي بېړۍ د ده په إذن او اراده خوځي، له آسمان اوبه هغه رانازلوي، په دې سره مړه زمكه راژوندۍ كوي او دانه او مېوه په كي راشنه كوي او ډول ډول ژوي په كي راپيدا كوي، بادونه د ده په حكم چلېږي، وريځي د ده په امر د آسمان او زمكي تر منځ يوې خوا بلې خوا ته درومي، نو كه څوك عقل لري ولي به له الله پرته له بل چا طمع او وېره لري، ولي به په خپل رزق او روزي او په خپل مرگ ژوند له الله پرته له بل چا وېره كوي او د دې وېري او طمعي له كبله به حق پټوي؟! دا كار يوازي هغه څوك كوي چي نه ئې پر الله ايمان وي او نه هر څه د الله په واك او اختيار كي گڼي.

ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ فِرَٰشًا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءً وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۖ فَلَا تَجْعَلُوا۟ لِلَّهِ أَندَادًا وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ﴿٢٢﴾ البقرة

هغه چي زمكه ئې تاسو ته فرش او آسمان ئې چت كړ او له آسمان ئې اوبه راكوزي كړې او په هغه سره ئې مېوې راوايستې، ستاسو لپاره روزي، نو الله ته سيالان مه نيسئ؛ په داسي حال كي چي پوهېږئ (هغه سيال

نه لري).

دا آیت له خپل مخکیني آیت سره په ګډه موږ ته وايي: د هغه ذات عبادت وکړئ چي تاسو او له تاسو مخکي ټول انسانان ئې پیدا کړي، همغه چي زمکه او آسمان ئې داسي پیدا کړي او د دواړو تر منځ ئې داسي تنسیق او یووالی راپیدا کړی چي یو ئې ستاسو د کور د فرش او بل ئې د چت په څېر وي، له یوه اوبه راوربېږي او بل په همدغو اوبو تاسو ته دانه او مېوه راشنه کوي او تاسو ته روزي برابروي. ښه پوهېږئ چي نه ستاسو په پیدایښت کي او نه له آسمان د باران په ورولو او له زمکي د دانې او مېوې په راایستلو کي له الله پرته بل څوك څه ونډه لري، ښه پوهېږئ چي الله سیالان نه لري.

دلته درې نوري خبري هم دقت او غور غواړي:

- زمکه ستاسو د کور فرش ده، نه د تیږي په څېر سخته او نه د ختې په څېر نرمه، نه ډېره سړه او نه ډېره توده، نه ئې فشار ډېر زیات نه ډېر کم او آسمان د دې کور لپاره چت دئ، د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کي آسمان د چت او محفوظ سقف په نامه یاد شوی، نن او له څوارلس پیړیو وروسته انسانان په دې پوهېږي چي د دوی د زمکي په فضاء کي داسي څه شته چي د زمکي لپاره د یوه محفوظ چتر او سقف حیثیت لري، چي هم ئې د لمر له ځینو خطرناکو وړانګو خوندي ساتي او هم له شهاب ثاقب چي په ډېر سرعت سره د زمکي په لوري خوځي خو له دغه سقف سره د تصادم په نتیجه کي یا ذره ذره شي او یا ئې مسیر بدل او په بل لوري مخه کړي. که یوه باانصاف ساینس پوه ته ووایئ چي زموږ په یوه کتاب کي چي څوارلس پېړۍ پرې تېري شوې، څو ځایه راغلي چي دا آسمان ستاسو د زمکي لپاره محفوظ سقف او چت دئ، خو یو وخت به په دې کي چاودونه او سوري راپیدا شي! همغه خبره چي تاسو ئې نن کوئ، د زمکي فضاء د هغې خوندي سقف ګڼئ او د اوزون پرده ئې د لمر له مضرو وړانګو د خوندي پاته کېدو وسیله؛ همغه پرده چي اوس د کاربن دای اکساید ګازونو د زیاتېدو په وجه ځای ځای کي سولیدلی او

سوري په کې راپيدا شوي، ما ته ووايئ چي د هغه عکس العمل به څه وي؟ د دې دقيقي علمي وينا او وړاندويني په اړه به څه وايي؟ د قرآن او د هغه د راوړونکي په اړه به څه قضاوت کوي؟ آيا له دې پرته د بلي خبري مجال ورته شته چي ووايي: دا خبره د يوه انسان خبره نه شي کېدی، هغه څوك ئې کولی شي چي زموږ د فضاء له ډېرو اسرارو خبر وي؛ او په قرآن کې د دغسي خبرو په استناد ويل شوي چي د دې کتاب رالېږونکی هغه ذات دئ چي د زمکي او آسمانانو په اسرارو پوه دئ. په دې خبرو او ارزښت ئې واقعي عالمان او ساينسپوهان پوهېږي؛ متأسفانه زموږ په مدرسو کې د دې علومو بازار سوړ دئ.

• همدا راز د آسمان او زمکي تر منځ دا دقيق يووالی او تنسيق ښيي چي د انسان او د آسمان او زمکي پيدا کوونکی او پالونکی يو ذات دئ، له يوه اوبه راوروي او په همدغو اوبو له بلي ښايسته بوټي او دانې او خوندوري مېوې راپيدا کوي او په دې سره د انسان اړتيا ته ځواب وايي او هغه ته رزق او روزي برابروي. دا تنسيق چا راوستی او د کومي خبري شهادت ورکوي؟ آيا همدا کافي نه دئ چي ووايئ: الله سيالان نه لري.

• په دې آيتونو کې موږ ته دا هم ويل شوي چي د الله په عبادت سره په انسان کې تقوی راپيدا کېږي او دغه تقوی انسان ته د الله په کتاب د پوهېدو دروازه پرانيزي، د البقره سورې په لومړي آيت کې ويل شوي چي د الله دا کتاب د متقيانو لارښود دئ؛ د فاتحې سورې او د ټول قرآن تر منځ رابطه داسي ده چي د قرآن لوستونکی د فاتحې سوره کې الله تعالی ته دعاء کوي او وايي: په سمي لار مو هدايت کړه او له خپل غضب او ضلالت مو وساته: (ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ؛ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ)؛ يعنی له الله تعالی د هدايت مطالبه کوي او په ځواب کې ئې د بقره سورې په لومړي آيت کې ويل شوي: (ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ: دا همغه کتاب دئ چي هيڅ شك په کې نشته او د پرهيزګارانو لپاره لارښود دئ؛ نو په حقيقت کې قرآن؛ د هدايت په اړه زموږ د تلوسې، دعاء او اړتيا ځواب

دئ. خو د دې الهي كتاب له لاربښوونو هغه څوك ګټه اخيستی شي او به اسرار ئې سم پوهېدی شي چي د (تقوا: ځان ساتني) په نامه يو خاص صفت او ځانګړتيا ځان كي پيدا كړي؛ له هغه څه ځان وساتي چي د ده او پر دې كتاب د پوهېدو او عمل كولو تر منځ خنډ كېږي؛ د بقرې سورې په دوهم او درېيم آيتونو كي د دې وضاحت شوی؛ خلاصه ئې دا ده: پر خپلو محدودو حواسو اكتفاء او هغه څه نه منل چي د ده له نظره پټ او حواس ئې له ادراك عاجز وي، هغه انسانی روابط شلول چي د انسان فطرت ئې غوښتنه كوي؛ كه دا د انسان او الله تعالی تر منځ وي او كه د انسان او انسان تر منځ، د سپېڅلو او لوړو اهدافو او آرمانونو لپاره د مال او ځان له قربانۍ ډډه كول، د خپلو شخصي او مذهبي باورونو په ارتباط ړوند تعصب؛ او د قيامت پر ورځ او الهي محاسبې او مكافات او مجازات عدم باور؛ شرح او تفصيل ئې (د قرآن پلوشی) تفسير كي لوستلی شئ.

إِنَّ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ لَءَايَٰتٍ لِّأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿١٩٠﴾ ٱلَّذِينَ يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَٰطِلًا سُبْحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٩١﴾ رَبَّنَآ إِنَّكَ مَن تُدْخِلِ ٱلنَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُۥ ۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴿١٩٢﴾ رَّبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُنَادِى لِلْإِيمَٰنِ أَنْ ءَامِنُوا۟ بِرَبِّكُمْ فَـَٔامَنَّا ۚ رَبَّنَا فَٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّـَٔاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ ٱلْأَبْرَارِ ﴿١٩٣﴾ رَبَّنَا وَءَاتِنَا مَا وَعَدتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ ٱلْمِيعَادَ ﴿١٩٤﴾ آل عمران

[۱۹۰]- يقيناً چي د آسمانونو او زمكي په پيدايښت كي او د شپې او ورځي په تلو راتلو كي عقلمنو ته ډېري نښي دي. [۱۹۱]- هغه چي الله په ولاړه، ناسته او په خپل اړخ ملاسته يادوي او د آسمانونو او زمكي په

پيدايښت کې فکر کوي؛ چې اې زموږ ربه! دا دې خوشې نه دي پيدا کړي، پاکي تا ته ده؛ موږ د اور له عذاب وساته. [۱۹۲]- اې زموږ ربه! بې شکه څوك چې اور ته داخل کړې نو هغه دې رسوا کړ او ظالمان خو هيڅ مرستندوی نه لري. [۱۹۳]- اې زموږ ربه! يو بلونکی مو واورېدو چې د ايمان په لوري ئې دا بلنه ورکوله چې په خپل رب ايمان راوړئ؛ نو ايمان مو راوړ. اې زموږ ربه! نو زموږ گناهونه راته وبخښه او زموږ بدي او سيئات رانه ورېژوه او له نېکانو سره مو وفات کړه. [۱۹٤]-ای زموږ ربه! هغه څه راپه برخه کړه چې وعده دې د پيغمبرانو په واسطه راسره کړې ده او د قيامت په ورځ مو مه رسوا کوه؛ بې شکه چې ته له وعدې نه په شا کېږې.

د دې آيت او ورپسې څو آيتونو د عظمت او اهميت لپاره دا کافي ده چې وايو: پيغمبر عليه السلام به هره شپه د تهجد له لمانځه مخکې دا د آل عمران د سورې وروستي لس آيتونه لوستل، دا نه يوازې د دې آيتونو اهميت په گوته کوي بلکې ښيي چې دا لس آيتونه په اصل کې يو بشپړ مضمون دئ.

په دغو آيتونو کې څو اساسي خبري زموږ پام ځانته اړوي:

- څوك چې د سالم عقل خاوند وي؛ د آسمانونو او زمکې په پيدايښت کې او د شپې ورځې په تلو راتلو کې د ډېرو حقائقو په لوري څرگندي نښې گوري.
- خو هغه د عقل خاوندان چې الله ئې تل او په هر حالت کې په ياد وي؛ له الله غافل زړه په دغو حقائقو د پوهېدو وړتيا او اهليت نه لري.
- دوی نه يوازې پر الله باور لري او تل ئې په ياد وي؛ بلکې د آسمانونو او زمکې په پيدايښت کې فکر کوي، هم ئې پر الله باور له دغه فکر کولو راولاړ شوی او هم د الله ياد او ذکر، د زمکې او آسمانونو هر څه؛ الله ورپه يادوي؛ دوی په هر څه کې د الله د قدرت نښې گوري.
- د زمکې او آسمانونو په پيدايښت کې د دوی د غور او تفکر نتيجه او

حاصل او دا وي چي: الله هیڅ څه خوشي او عبث نه دي پیدا کړي، هر څه ئې حکیمانه پیدا کړي، الله له دې عیب منزه او لوړ ګڼي چي څه ئې عبث او بې فائدې پیدا کړي وي.

• دا احساس او د غور او تفکیر دا نتیجه؛ دوی په دې باور کولو ته اړ کوي چي الله تعالی به له خپلو بندګانو سره هرومرو محاسبه کوي او حتماً به تېري کوونکو ته سزا ورکوي؛ دا ځکه چي عدم محاسبه او د مجرم عدم مجازات په دې معنی ده چي دا زمکه او آسمان خوشي او عبث پیدا شوي. د همدې لپاره د عقلمنو لومړی دعاء دا وي چي: موږ د اور له عذاب وساته.

• عقلمن په دې پوهېږي چي له الله انکار کوونکي ظالمان؛ هیڅوك او هیڅ څه د الله له عذاب نه شي ژغورلی.

• عقلمن د هغه منادي نداء اوري چي دوی پر الله ایمان راوړو ته بلي؛ دا منادي څوك دئ؟ دوی د کوم منادي غږ ته لبیك ویلی او پر الله ئې ایمان راوړی؟ پیغمبر، کوم داعي، خپل عقل او ضمیر، که کوم بل منادي؟! دا هر یو کېدی شي د دوی منادي وي؛ خو د آیت له سیاق او سباق معلومېږي چي دا همغه منادي دئ چي د مضمون په سر کې ورته اشاره شوې: د آسمانونو او زمکې په پیدایښت او د شپې ورځې په تګ راتګ کې پرتې نښې؛ دغه منادي دوی پر خپل رب ایمان ته وربللي، د دغه منادي دعوت ته ئې لبیك ویلی او په خپل رب ئې ایمان راوړی.

• له ایمان وروسته دوی له خپل رب پنځه اساسي غوښتني لري: زموږ ګناهونه راوبخښه، زموږ بد عادات او اخلاق رااصلاح کړه، دا توفیق راپه برخه کړه چي مرګ مو د ابرارو او نېکانو مرګ وي، تا چي د پیغمبرانو په لاس کومي وعدې له موږ سره کړې دي هغه تر سره کړه او د قیامت د ورځې له رسوایي او سپکاوي مو وساته. باید دې ته متوجه وئ چي د "تغفیر ذنوب" او "تکفیر سیئات" مطلب بېل بېل دئ؛ یو ئې د ګناهونو بخښنه او بل ئې د بدو اخلاقو او عاداتو اصلاح افاده کوي. ورپسې آیتونه موږ ته ښیي چي د دغو دعاءګانو د اجابت لپاره الله تعالی کوم

كوم شرائط ايښي او دا دعاءګاني په كوم صورت كې منل كېږي. تفصيل ئې د پلوشې تفسير كې وګورئ.

په دې آيتونو كې دومره علوم او اسرار پراته دي چې يو ساينسپوه ديني عالم؛ پرېږ او ضخيم كتاب پرې ليكلى شي؛ دا چې عقلمنو ته په دې پراخ عالم كې بې شمېره نښې پرتې دي؛ دا كومي نښي دي؟ دا چې هيڅ باطل او بېهوده شى په كې نه شته؛ يعني په ټول عالم كې هيڅ اضافي، بې ګټې، خوشې او ناسم شى نه شته؛ دا به څنګه ثابتوو؟ شپه او ورځ څنګه په منظمه توګه ځي راځي؟ او څنګه له همدې كبله په زمكې كې د ژوندون او حيات لپاره داسې مساعد او مناسب شرائط برابر شوي چې د ميليونونو په شمېر كې ډول ډول ژوي، حيوانات، مرغان، كبان، حشرې، خزندې او نباتات په كې راټوكېږي؛ تر ننه په ټول كائنات كې چې د ستورليكو شمېر ئې تر دوه ټريليون زيات دئ او په هر يوه كې شاوخوا ۱۲۰ مليارد ستوري دي؛ انسان نه دئ توانېدلى بل داسې ستورى پيدا كړي چې د زمكې په څېر؛ د ژوندون لپاره مناسب او ضروري شرائط په كې تعبيه شوي وي؛ قرآن وايي چې په دې كې د عقلمنو لپاره ډېري نښي دي؛ خو موږ د دې پر ځاى چې همدا نښي ولټوو او ځان پرې پوه كړو؛ په دې آيتونو كې يوازې صرفي او نحوي تحقيق كوو؛ جار و مجرور، صفت او موصوف، مضاف او مضاف اليه، ظرف او مظروف، عطف او معطوف، او ... لټوو او څېړو؛ په قرآن كې صرف او نحو زده كوو يا له قرآن د صرف او نحو د مشق او تمرين كتاب جوړوو؛ د جلالين تفسير مو د همدې لپاره خوښېږي چې د صرف او نحو په پوهېدو او تمرين كې ښه مرسته راسره كوي!؛ زموږ له كليوالو مدرسو فارغ شوي ښاغلي د منبر پر سر هم د عوامو په وړاندې خبره له دې ځاى پيل كړي چې (إن) د تأكيد لپاره ده... او بيا قرآن پرېږدي او په بې سنده او بېهوده كيسو او د خپل پير او شيخ په خوبونو كې مصروف شي!! بيا د زمكې په اړه وايي چې دا د غوايي پر ښكر ولاړه ده او زلزلې هم ځكه او هغه مهال رامنځته كېږي چې غويي زمكه له يوه ښكر بل ته لېږدوي؛ خو دې ته ئې پام نه دئ او

ترې خبر هم نه دئ چي قرآن وايي: د زمكي د پيدايښت په لومړيو كې؛ او د انسان تر پيدايښت وړاندي؛ د زمكي زلزلې تر نن ډېري زياتي وې؛ الله تعالی د دغو زلزلو د كمولو لپاره په زمكي كې غرونه پيدا كړل؛ د غرونو د پيدايښت يوه وجه هم همدا زلزلې، چاودني، اور شيندي او د زمكي له زړه د ويلو موادو راوتل وو؛ او دا له شك پرته د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز دئ؛ چي تجربي علوم ئې نن پر حقيقت پوه شوي او وايي: د زمكي د پيدايښت په پيل كې؛ د هغې بهرنی ډبرين پوستكی نری او كمزوری وو؛ او د بهرني او داخلي فشار په وړاندي ئې مقاومت نه شو كولی؛ له كبله ئې پر له پسې چاودېدو او زلزلې ئې رامنځته كولې؛ په زمكي كې د غرونو له پيدايښت وروسته دا چاودني او زلزلې په تدريج سره كمي شوې.

دا هم بايد واضح كړو چي كله زلزلې او عام مصيبتونه د يوه قوم او ولس د مجازات په ډول وي؛ لكه د لوط او نوح عليهما السلام قومونو مؤاخذه؛ او د عاد او ثمود مجازاتونه؛ او كله زلزلې، ساري بيماري او نور عام مصيبتونه داسي عام الهي پېښي وي چي له كبله ئې هم صالح انسانان مري او هم گنهگاران؛ له صحابه وو او عشره مبشره هم ځيني په دغسي عام مصيبتونو كې په شهادت رسېدلي. د علم او عقل خاوندان دا ټول په پام كې نيسي او قضاوت كوي؛ خو هغه چي هم ئې علم نيمگړی وي او هم عقل خام؛ داسي څه وايي او دين ته ئې منسوبوي چي هم د دين خلاف وي او هم د علم او عقل؛ يقيناً چي په دين د پوهېدو او نورو ته د ښودلو لپاره عقلمنو ته ضرورت دئ؛ كله چي دين د بې عقلو، بد مغزو او بد غرضو كړيو لاس ته ورشي؛ هم د دين ماڼۍ نسكوره كړي او هم د دينپالو د دنيا او آخرت كور وران كړي.

د قرآن په وينا؛ څوك چي د سالم عقل خاوند وي؛ د آسمانونو او زمكي په پيدايښت او د شپې ورځي په تلو راتلو كې د ډېرو حقائقو په لوري ځرگندي نښي گوري؛ دا كومي نښي دي؛ ولې زموږ په مذهبي كتابونو كې دا نښي نه دي توضيح شوي؟ قرآن خو موږ ته ويلي چي

عقلمن انسانان حتماً دا نښې موندلی او ليدلی شي؛ د قرآن په لومړي آيت (الحمد لله رب العالمين) کې موږ ته دا لارښوونه شوې چې: دا عالم يو داسې رب (پيدا کوونکی او پالونکی) لري چې د ټولو ستاينو وړ او له هر عيب او نقص منزه دئ؛ د دې پراخ او ستر عالم دا بې شمېره توکې په همدې حقيقت شهادت ورکوي؛ هر يو ئې په ډېر دقت او ظرافت سره، په ډېره غوره او ښايسته بڼه کې پيدا شوی، هر يو ئې د يوه مشخص هدف او ځانګړې غايې د تحقق لپاره په کار ګمارل شوی، چې په منظم او پرله پسې توګه او په کامل انهماك سره په خپل خاص کار او د خپل ځانګړي مأموريت په تر سره کولو کې شپه ورځ لګيا دي، پخپله او په خپل وجود سره ئې هم يوه تشه ډکه کړې او په هغه څه هم چې د ده په کار او هلو ځلو مرتب کېږي هم يوه تشه ډکوي او يوې اړتيا ته ځواب وايي. په ټول خور وور عالم کې، خوشی، بې هدفه، له اړتياوو زيات او له ضرورت کم څه نه شئ موندلی، هغه ذات چې دا بې انتهاء پراخ عالم ئې له ټولو دغو ښکلاوو او ښېګڼو او له دې ژور او دقيق نظم سره پيدا کړی، د عالم پالنه او روزنه ئې په واك کې ده، هره ذره ئې ساتي او پالي، رشد ورکوي، کمال ته ئې رسوي، د کمال په لوري د خوځېدو توفيق ورکوي او له مخکې ټاکل شوې نتيجې پرې مرتب کوي، بې له شکه چې دا ذات د ټولو ښېګڼو واجد او د ټولو ستاينو وړ دئ. دغه ذات؛ الله دئ او ټولې ستايني همدغه د عالمونو پالونکي او ساتونکي الله ته دي، چې زه په دې خور عالم کې هري خوا ته، د ده د ربوبيت، پالني او روزني څرګند مظاهر او نښې ګورم، د دې عالم هري خوا ته چې مخ واړوم، ګورم چې هر څه له هيڅ پيل شي، ورو ورو ستر شي، د کمال په لوري وده ورکړی شي، د خپلې ارتقاء او کمال آخري پوړ ته ورسول شي، يو ضروري او لازم کار پرې تر سره شي، يو ضرورت پرې رفع کړی شي، يوه خلا او تشه پرې ډکه کړی شي، بيايې زوال پيل شي، په زړښت او مرګ محکوم شي او ځای ئې بل ته خالي کړی شي. دا کار هره شېبه، هري خوا ته تکرارېږي، د دې مظاهرو تر شا، ما ته د ربوبيت او پالني يو نامرئي او ناڅرګند لاس

په نظر راځي، همغه زما الله دئ او همغه د دې عالم الله دئ. زه نه يوازي په دې عالم کې د روزنې او پالني يو نامرئي لاس احساسوم، بلکې گورم چې د هر څه پيدايښت، پالنه، روزنه او ساتنه په ډېر دقت سره تر سره کېږي. د دې عالم په هر جزء او د هر جزء په حرکت او خوځښت کې زه ښايست، ښکلا، کمال او هدفوالی گورم. خوشې، بې مقصده، غير ضروري او اضافي شی مې په نظر نه راځي. زما هري خوا ته خواره شيان، هر يو بېل بېل هم او ټول په گډه هم؛ د خاص مقصد لپاره په کار لگيا دي، د ټولو تر منځ د نظم، يووالي او ژور تنسيق شاهد يم. د دې عالم همدا ملموس او مشهود کيفيت، زما په ژبه د دې الفاظو د جاري کېدو باعث دئ چې: ټولي ستايني د عالمونو رب الله ته دي. موږ د دې خور عالم په پراخي غېږ کې داسې شی نه شو موندلی چې پيدايښت ئې بې مقصده او بې هدفه وي، داسې شی نه شو په گوته کولی چې ځای ئې خالي وي، هر څه ښه پيدا شوي او د واضح هدف او مقصد لپاره پيدا شوي، په پيدايښت کې ئې د "علم"، "حکمت" او "قدرت" څرگند آثار گورو.

د دې عالم هر څه د الله په شتون شهادت ورکوي، پر الله له ايمان پرته نه د دې ستر او خور عالم عظمت او په ډېر دقت سره د هغه ساتنه او پالنه تعبيرولی شو او نه په دې عالم کې نظم، ښايست او هدفوالی تفسيرولی شو. دلته موږ د "ربوبيت" او پالني آثار گورو چې د "رب" او "پالونکي" په شتون شهادت ورکوي، گورو چې هر څه له هيڅ پيل شي، ورو ورو وده کوي، پالنه او روزنه ئې تر سره کېږي، اړتياوو ته ئې ځواب ويل کېږي، د خپلي ودي او تکامل آخري پوړ ته ورسېږي، په هغه سره يوه خلا ډکه شي، يو ضرورت رفع شي، د خپل مأموريت په پای کې د هغه زوال پيل شي، د ضعف او ناتوانۍ په لوري وخوځېږي، په زړښت محکوم شي او عمر ئې پای ته ورسېږي، له منځه ولاړ شي، خپل ځای نوي ځوان توکي ته پرېږدي، زموږ عقل د دې بهير تر شا د يوه داسې پالونکي ذات؛ د قدرت لاس احساسوي چې د هر څه پالنه او روزنه د ده

له لوري تر سره کېږي.

که تاسو ټول قرآن په دقت سره تلاوت کړئ؛ وبه ګورئ چې په ځای ځای کې او په ګڼ شمېر آيتونو کې د الله د اثبات لپاره؛ د فاتحې د سورې د دغه آيت په څېر؛ استدلال شوی او ويل شوي: دا زمکه او آسمان چا پيدا کړي؟ د دې لمر، سپوږمۍ ختل او پرېوتل د چا په اراده تر سره کېږي؟ دا له آسمان باران څوك وروي او له زمکې دانه او مېوه څوك راباسي؟ دا د مرګ، ژوند پرېکړه څوك کوي؟ دا مړه خاوره د چا په حکم په ژوندي توکي بدلېږي؟ او دې ته ورته په سلګونو نور دلائل.

د آسمانونو او زمکې د پيدايښت تر څنګ؛ د شپې او ورځې تګ راتګ يادونه؛ ښيي چې دا يو له بل سره خاصې اړيکې لري؛ آسمان او زمکه داسې تنظيم شوي چې په نتيجه کې ئې د شپې او ورځې بدلون دا خاص نظم او ترتيب رامنځته شوی؛ حقيقت دا دئ چې په ټول عالم او ملياردونو ستورليکو کې ئې؛ زموږ د اړوند ستورليکی خاص موقعيت او په دې کې زموږ د شمسي نظام موقعيت او بيا په شمسي نظام کې زموږ د زمکې موقعيت او له لمر ټاکلې فاصله، وضعي او انتقالي حرکتونه ئې په دې منتج شوي چې شپه او ورځ مو په ګډه ۲٤ ساعته وي او په مختلفو فصلونو کې اوږدې او لنډې شي او په همدې سره د زمکې هوا معتدله او د ډول ډول ژوو او نباتاتو د پيدايښت او پايښت لپاره چمتو شي؛ که په دې پراخ او دقيق تنظيم او تنسيق کې ډېر لږ تغيير راشي نو د زمکې په غېږ کې د ژوو پايښت به ناممکن شي؛ يعني که شپه او ورځ تر اوسني مقدار اوږده او لنډه شي، که د لمر، سپوږمۍ او زمکې تر منځ موجود واټن لږ يا ډېر شي، که د زمکې د عناصرو او مرکباتو د مقدار دقيق اوسنی تعادل او توازن له منځه ولاړ شي او که هر نوی تغيير راشي نو د زمکې دا د مور د غېږي په څېر کور به مو ګور شي؛ پوښتنه کوو: دا کوم ځواکمن، عليم، حکيم او مهربان ذات دئ چې دا ستر او عظيم عالم ئې په داسې حکيمانه او عالمانه نظم او ترتيب سره پيدا کړی او له پيدايښت تر ننه ئې ساتلی او نه پرېږدي دا دقيق نظم متلاشي شي؟! قرآن دې

پوښتني ته څومره ښايسته او کافي او شافي ځواب ويلی؛ باور وکړئ؛ کله چي زه دا آيتونه لولم يا تلاوت کوم نو په سترګو کي مي اوښکي رغړي؛ هلته چي فرمايي:

ٱللَّهُ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ لِتَسۡكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبۡصِرًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشۡكُرُونَ۝٦١ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ۝٦٢ غافر

٦١- الله هغه ذات دئ چي شپه ئې ستاسو لپاره داسي ګرځولې چي په هغې کي هوسا شئ او ورځ ئې د ليدو وسيله، بې شکه چي الله پر خلکو د پېرزويني خاوند دئ خو د خلکو ډېری شکر نه کوي، ٦٢- همدا ستاسو رب دئ، د هر څه خالق، له ده پرته بل معبود نه شته، نو څنګه دوکه کېږئ؟

د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- د چا په اراده چي شپه او ورځ ځي راځي، يوه ئې ستاسو د هوسايني لپاره بله ئې تاسو ته د رڼا او تودوخي درکولو لپاره؛ او په دې توګه ئې خپل ستر فضل ستاسو په برخه کړی، همدا ذات الله تعالی دئ.
- د شپې او ورځي همغږي او هدفمني او هغه نتائج چي د دوی په تلو راتلو مرتب کېږي، داسي چي شپه ستاسو د هوسايني او سکون لپاره ده، چي د ورځي له خوا د مسلسل کار په نتيجه کي ضايع شوې انرژي جبران او خپل قوت تجديد او اکمال کړئ او د سبا ورځي لپاره مستعد او تيار شئ او ورځ ئې ستاسو د معاش د تأمين وسيله ګرځولې، داسي چي هر څه د هغې په رڼا کي پېژندلی او کارولی شئ، په دې ترتيب رحمان رب خپل ستر فضل ستاسو په حال شامل کړی، چي ستاسو اړتياوو ته د دې طبيعت په غېږ کي او د هغه په تحولاتو او بدلونونو کي ځواب وايي.
- شپه او ورځ په دې سربېره چي د الله د فضل او پېرزويني نښي او مظاهر دي؛ د هغوی تګ راتګ د دې عالِم له ګڼ شمېر اجرامو سره لکه

لمر، سپوږمۍ، زمکه، حتی ستوري، ستور ليکو؛ او هر څه چي په آسمانونو او زمکه کي دي؛ عميق ربط او تړاو لري، د دغو ټولو خاص تنظيم او په خپلو منځونو کي خاص تعلق؛ په دې منتج شي چي شپه او ورځ په خپل موجوده شکل کي يوه په بلي پسي راشي، د دې ټول عالم د بېلو بېلو اجرامو تر منځ تناسق، يووالی او هم غږي او بيا د دوی او د انسان د طبيعت تر منځ دا موزون او متناسب پيوند او تعلق پخپله ثابتوي چي د ټول عالم پيدا کوونکی او پالونکی رب يو دئ، هغه دا عالم اداره کوي، هر څه ته ئې د خوځېدو خاص لوری او جهت ټاکلی او د ټولو تر منځ ئې دا توافق او يووالی راپيدا کړی.

خو دا حقائق هغه د عقل خاوندان درك کولی شي چي الله ئې تل او په هر حالت کي په ياد وي؛ له الله غافل زړه په دغو حقائقو د پوهېدو وړتيا او اهليت نه لري.

دوی نه يوازي پر الله باور لري او تل ئې په ياد وي؛ بلکي د آسمانونو او زمکي په پيدايښت کي فکر کوي، هم ئې پر الله باور له دغه فکر کولو راولاړ شوی او هم د الله ياد او ذکر؛ د زمکي او آسمانونو هر څه؛ الله ورپه يادوي؛ دوی په هر څه کي د الله د قدرت نښي گوري.

د زمکي او آسمانونو په پيدايښت کي د دوی د غور او تفکر حاصل او نتيجه دا وي چي: الله هيڅ څه خوشي او عبث نه دي پيدا کړي، هر څه ئې حکيمانه پيدا کړي، الله له دې عيب منزه او لوړ گڼي چي څه ئې عبث او بې فائدې پيدا کړي وي.

دا احساس او د غور او تفکير دا نتيجه؛ دوی په دې باور کولو ته اړ کوي چي الله تعالی به له خپلو بندگانو سره هرومرو محاسبه کوي او حتماً به تېري کوونکو ته سزا ورکوي؛ دا ځکه چي عدم محاسبه او د مجرم عدم مجازات په دې معنی ده چي دا زمکه او آسمان خوشي او عبث پيدا شوي. د همدې لپاره د عقلمنو لومړۍ دعاء دا وي چي: موږ د اور له عذاب وساته.

موږ په مخلوقاتو کې د حيات او ژوند خاوند ژوي ګورو او دا ښيي چې د ژوو پيدا کوونکی به حتماً په دې صفت په اولی او اتمه درجه متصف وي؛ په طبيعت کې د ژوو شتون ښيي چې دا عالَم يو ژوندی خالق لري؛ قرآن د دې حقيقت د اثبات لپاره چې د عالَمونو رب (بصير: ليدونکی) دئ؛ له خپلو بندګانو سره به حتماً محاسبه کوي او د دوی د عملونو په اړه به قضاوت کوي؛ په لاندې مضبوطو دلائلو استناد کوي:

أَلَمْ نَجْعَل لَّهُۥ عَيْنَيْنِ ﴿٨﴾ وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ﴿٩﴾ وَهَدَيْنَٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ ﴿١٠﴾

۸- آيا ده ته مو ورنه کړلې دوې سترګې؟ ۹- او يوه ژبه او دوې شونډې؟ ۱۰- او ده ته مو ونښودې دوې لارې؟

د دې حقيقت د اثبات لپاره چې د (انسان پيدا کوونکی رب) حتماً بصير دئ او د ده د کړنو ناظر او شاهد؛ د انسان په دوو سترګو استدلال کوي او فرمايي: ته مخلوق يې، خالق لرې، بل پيدا کړی يې، ستا ټول استعدادونه ستا پيداکوونکي درکړي، ستا دوې سترګې هم د هغه وديعه ده، ستا عقل څنګه دا خبره مني چې په تا کې به دا صفت وي خو ستا پيدا کوونکی به ترې محروم وي؟! د عقل حکم خو له دې پرته بل څه نه شي کېدی چې ستا خالق بايد په دې صفت په اکمل او بشپړه توګه متصف وي؟! آيا ممکنه ده په مصنوع او مخلوق کې داسې غوره صفت وي چې د هغه په خالق او صانع کې نه وي؟! د انسان بصر او بصيرت په دې شهادت ورکوي چې الله تعالی بصير دئ. موږ چې د عالَم پيدا کوونکی رب په کومو صفتونو يادوو مظاهر ئې په عالَم او د ده په مخلوقاتو کې ګورو، که وايو الله تعالی بصير دئ دا ځکه چې د ده په مخلوقاتو کې د دې بېلګه ګورو، که وايو الله تعالی سميع او اورېدونکی دئ، دا د دې لپاره چې د سمع د صفت مظهر د ده په مخلوقاتو کې ګورو، که وايو: الله تعالی عليم دئ دا ځکه چې د (علم) مظاهر د عالَم د هر څه په پيدايښت کې ګورو او زموږ عقل راته وايي چې دا عالَم حتماً داسې ذات پيدا کړی چې په هر څه ښه پوهېږي.

ستا ژبه او دوه شونډي د تکلم وسائل دي، ته له دغو وسائلو په استفادې سره خپل مافي الضمير بيانوې، خپل قضاوتونه منعکس کوې او خپلي پرېکړي صادروې، په تا کي د دغه استعداد شته والی په دې شهادت ورکوي چي ستا رب حتماً د تکلم په صفت متصف دئ. حتماً به ستا د کړنو په اړه قضاوت کوي، وروستۍ پرېکړه به صادروي. په انسان کي د دغه صفت شته والی موږ د الله تعالی د دغه صفت په څرنګوالي پوهوي. ټول عالم د الله تعالی د صفاتو مظهر دئ، د الله تعالی د صفاتو مظاهر په ټول عالم کي ګورو، موږ له مظاهرو الله تعالی او صفات ئې پېژندی شو.

الله تعالی انسان داسي پيدا کړی چي د ده په فطرت او خټه کي ئې د (ښه او بد) د پېژندو لپاره خاص معيارونه او استعدادونه ايښي، د (فجور) او (تقوی) څېره ئې د ده د ضمير په صفحې انځور کړې، د دغه فطري استعداد له کبله ښه ورته ښه ښکاري او خوښوي ئې او بد ورته بد ښکاري او کرکه ترې لري، نېکي ورته معروف برېښي، منل شوی او پېژندل شوی حقيقت ئې بولي او له خپل فطرت سره ئې آشنا ګڼي، خو بدي ورته منکر ښکاري، کرکجنه ئې ګڼي او د خپل فطرت منافي ئې بولي، له ښو دفاع کوي او له بدو کرکه لري، داسي ملکې او غريزې ئې ورکړې چي دی ښېګڼو ته هڅوي او له بديو ئې منع کوي او په هر بد کار کي ئې ملامتوي، دغه استعداد د دې لامل دئ چي انسان د هر ښه او بد عمل په اړه قضاوت کوي، غواړي سزا او بدله ورکړي، که دوه انسانان د نښتي په حال کي وګوري، يو ئې ظالم بل ئې مظلوم، غواړي د مظلوم مرسته وکړي او ظالم په خپل ځای کښېنوي، په ده کي دا د (قضاوت استعداد) د دې نښه ده چي د ده (پالونکی او پيدا کوونکی) ذات، هغه چي ده ته ئې دا استعداد ورکړی، هرومرو په دغه صفت متصف دئ، حتماً به د انسان د عملونو په اړه قضاوت کوي، د مظلوم مرسته به کوي او ظالم ته به سزا ورکوي.

دا دئ ګورئ چي قرآن د الله تعالی د صفاتو د اثبات لپاره د همدغو

صفاتو په هغو مظاهرو او بېلګو استناد کوي چې د ده په مخلوق کې ئې ګورو؛ هغه چا ته چې ګمان کوي: الله تعالی د خلکو له عملونو سره هیڅ کار نه لري او د دوی د ښو او بدو عملونو په اړه قضاوت نه کوي؛ فرمايي: ستا دا دوه سترګې، شهادت ورکوي چې خدای بصیر دئ او ستا د عملونو ناظر، ستا دوې شونډې او ژبه په دې شهادت ورکوي چې ستا رب به حتماً ستا د عملونو په اړه قضاوت کوي، د ښه او بد په اړه ستا دا احساس د دې نښه ده چې الله تعالی به هم ستا عملونه په دوو برخو وېشي؛ ښه ته به ښه او بد ته به بده سزا ورکوي.

عقلمن په دې پوهېږي چې له الله انکار ظلم دئ او انکار کوونکي ظالمان دي؛ هم له ځان او خپل عقل سره ظلم کوي او هم د خالق او مخلوق په اړه د دوی قضاوتونه ظالمانه دي؛ دا ظالمان د مجازات مستحق دي؛ هیڅوك او هیڅ څه به ئې د الله له عذاب ونه شي ژغورلی.

أَفَغَيْرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ۝٨٣ آل عمران

آيا د الله له دين پرته (بل دين) لټوي، حال دا چې د آسمانونو او زمکې هر څه؛ طوعاً اوکرهاً، ( په خوښه او ناخوښه) ده ته غاړه ایښې او د ده لوري ته ورګرځول کېږي.

یعني د زمکې او آسمان هر څه الله ته تسلیم دي، د ټولو دين اسلام دئ، هغه څه کوي چې الله پرې ګمارلي، په همغه لار درومي چې الله ورته ټاکلې، لمر، سپوږمۍ، ستوري په خپل خپل مدار کې خوځي، په خپل خپل وخت او له خپل خپل ځای راخېژي او پرېوځي، ونې، بوټي او حیوانات د خپل فطرت مطابق په خپل کار لګيا دي، په ټولو مخلوقاتو کې یوازې کافر او عاصي انسان داسې دئ چې د الله له دين پرته د بل څه په لټه کې شي، هم د الله د دين په نسبت کافر شي او هم د خپل فطرت په نسبت، دی ستر باغي دئ، له هغه دين ئې بغاوت کړی چې د زمکې او د آسمان د هر څه دين دئ. د دې وينا په ارزښت او اهمیت

هم يوازي يو حقيقي عالِم او ساينپوه ښه پوهېږي.

سَنُرِيهِمۡ ءَايَٰتِنَا فِي ٱلۡأٓفَاقِ وَفِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّۗ أَوَلَمۡ يَكۡفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ۝٥٣ فصلت

ډېر ژر به خپل آيتونه په آفاق (كائنات) كې هم او د دوی په خپلو نفسونو كې هم وروښيو چې ورته څرګنده شي هغه حق دئ؛ آيا ستا د رب په اړه دا كافي نه ده چې هغه په هر څه شاهد دئ؟

يعني ستا په نفس او خپل ځان كې د قدرت نښي او په دې آفاق او عالِم كې د قدرت نښي؛ د دې مقروء كتاب قرآن پر حقانيت شهادت وركوي، دا ځكه چې الله د هر څه شاهد دئ، د هر څه شاهد خو به خود داسي څه وايي چې هر څه د ده د هري وينا په حقانيت شهادت وركړي.

په دې مبارك آيت سره الله تعالى فرمايي چې ژر به خپل آيتونه په آفاق او فضاء كې هم او د دوی په بدن كې هم وروښيم چې ورته څرګنده شي چې هغه حق دئ.

د دې مبارك آيت مدعى دا ده چې الله تعالى به خلكو ته د قرآن د آيتونو مصداق او حقيقت هم په آفاق كې جوت كړي او هم د انسان د نفس په بېلو بېلو برخو كې، يعني قرآن چې د عالِم او انسان په اړه كومي څرګندوني كړې دي؛ د دغو څرګندونو حقيقت به دوی ته جوت شي او په دې به پوه شي چې الله تعالى حق دئ او د ده كتاب رښتينى او له حقائقو ډك كتاب دئ. او دا ښيي چې د قرآن علمي اعجاز به ورو ورو خلكو ته جوتېږي.

دغو حقائقو ته په پام سره ده چې نن په غربي نړۍ كې هر كال په زرګونو خلك ايمان راوړي او په دوی كې ډېری ئې داسي څېړې دي چې په ساينسي علومو كې ئې څېړني او مطالعات كړي او په ترڅ كې ئې د قرآن حقيقت ورته څرګند شوی او ايمان ئې راوړی.

د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو كې د عالِم، آسمانونو، زمكي، لمر، ستورو،

شپې، ورځې، د انسان پیدایښت، نباتاتو، حیواناتو، حشراتو، ورېځو، بارانونو، بادونو، غرونو، سیندونو، سمندرونو او نورو طبیعي شیانو په اړه داسي دقیق او علمي بحثونه تر سترګو کېږي چي انسان ډېر وروسته پرې پوه شوی، انسان له اوږد علمي سفر وروسته او د ډېرو پرمختللو وسائلو په مرسته توانېدلی دغه حقائق درك کړي او نن هغه خبره وکړي چي قرآن څوارلس پېړۍ وړاندي کړې وه.

یقیناً چي الله تعالی د خپلو آیتونو مصداق هم په آفاق، کائنات او عالم کي خلکو ته ښیي او هم ئې د دوی په خپلو نفسونو کي، ورو ورو د دوی علم د خپل نفس په اړه هم زیاتېږي او د عالم او آفاق په اړه هم، په تدریج سره به د دوی علم، پوهه او تجارب اضافه کېږي، دا علم او پوهه به له یوه نسل بل نسل ته انتقالېږي او په دې توګه به دوی په آفاق او په خپل نفس کي د الهي آیتونو مصداق په خپلو سترګو وګوري او په دې به پوه شي چي دا حق دئ، الله حق دئ او د ده له لوري رالېږل شوی کتاب حق دئ. دا ځکه چي الله تعالی د دې عالم د هر جزء او توکي په اړه علم لري، د خپل دغه جامع او کامل علم له مخي ئې چي کوم کتاب رالېږلی د هغه د هري وینا حقانیت او د هر قضاوت مصداق به هم په آفاق کي وګوري او هم په خپلو نفسونو کي.

قرآن د دې ستري ادعاء د اثبات لپاره دا دلیل او توجیه وړاندي کوي: أَوَ لَمۡ يَكۡفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ شَهِيدٌ: آیا ستا د رب په اړه دا کافي نه ده چي هغه په هر څه شاهد دئ؟ یعني د هر شي په نسبت علم لري او د هغه د څرنګوالي شاهد دئ؟ د داسي شاهد ذات وینا خو به خود داسي وي چي هر څه د ده د هري وینا په حقانیت شهادت ورکړي.

په دې توګه قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي د دې الهي کتاب آیتونه هم زموږ د نفسونو په پټو او څرګندو برخو احتواء کړې او اړوند حقائق ئې موږ ته ښودلي او هم ئې د عالم په آفاق کي خواره حقائق احتواء کړي او د هر څه حقیقت ئې موږ ته ښودلی، خو موږ به په تدریج سره او ورو ورو په دې حقائقو پوهېږو. دا آیت موږ ته دا هم ښیي چي انسان

به په تدريج سره او هر څومره چي د ده علم وده کوي او فهم او بصيرت ئې زياتېږي همدومره به د دې کتاب په حقانيت پوهېږي، د قرآن ډېر حقائق داسي دي چي انسان نن او د قرآن له نزوله څوارلس پېړۍ وروسته د هغوی په حقيقت پوه شو، تر دې د مخه ډېرو ته مبهم، غامض او غير قابل فهم برېښېدل.

## انسان او مُدْرِکه حواس ئې

د انسان دماغ د پوهي او علم زده کړي او د عالَم د ادراك لپاره پنځه بهرني حواس لري: د اوريدو حس (سامعه) غوږونه، د ليدلو حس (باصره) سترګي، د بويولو حس (شامه) پزه، د خوند حس (ذائقه) ژبه او د لمس کولو حس (جلد) پوستکی؛ د دغو حواسو په مرسته؛ د ماحول اشياء او اوضاع په اړه معلومات تر لاسه کوي، هغه څېړي، ښه او بد، ګټه او ضرر ئې معلوموي؛ په اړه ئې مناسب تصميم نيسي؛ او د لازم تعامل څرنګوالی ټاکي، حس مو د (علم) فطري منشأ او وسيله ده؛ ځينو انساني حواس په همدغو پنځو کي راخلاصه کړي؛ دا د يوناني فلسفې او فيلسوفانو انګېرنه ده؛ چي موږ تر ننه د هغې تقليد کوو؛ په داسي حال کي چي د انسان د (علم) مبدأ او سرچينه يوازي دغه پنځګوني بهرني حواس نه دي؛ موږ ډېر نور څه درك کوو خو د درك منشأ ئې لا راته معلومه نه ده؛ او لا مو نوم نه دئ ورته غوره کړی؛ د عالم ډېر څه زموږ د درك او فهم له دائرې وتلي او حواس مو د هغوی له درك کولو عاجز دي او زموږ د بدن ډېري برخي او فعاليتونه ئې داسي دي چي لا ئې په اړه کافي معلومات نه لرو؛ دا ئې ځيني موارد دي: خندا او ژړا چي ماشوم ئې د پيدايښت په لومړيو شيبو کي تجربه کوي؛ دا د کوم حس کار دئ؟؛ همدا راز مينه او کرکه، خوښي او خفګان، وېره او جرأت، تصديق او تکذيب، موافقه او مخالفت، لوږه او تنده، اندېښنه او ډاډ، کياست (زيرکتيا) او سفاهت (حماقت او سربدالي)... او ډېر نور؛ وزن څنګه درك کوو او په تګ کي خپله موازنه څنګه ساتو او کوم حس مو په دې کي

مرسته کوي؛ د نري پړي پر سر څنګه کولی شو ولاړ شو او په تګ کې خپله موازنه وساتو؟ پر دي سر بېره انسان کولی شي د خپلو شته معلوماتو په رڼا کې د راتلونکو پېښو په اړه وړاندويني وکړي او د ماضي پېښو په اړه دقيق او حقيقت ته نژدې قضاوتونه؛ دا د کوم حس کار دئ؟؛ د انسان په دماغ کې حتماً داسي برخه شته چې د نورو حواسو له لاري تر لاسه شوو معلوماتو په رڼا کې هم سمه او مناسبه پرېکړه کولی شي، هم د راتلوکو پېښو په اړه وړاندويني او هم د ماضي په اړه دقيق قضاوتونه؛ هغه څه چې د عقل او شعور په نامه ياد شوي.

موږ په خپل ويښ ضمير او خوبولي ضمير او شعور کې داسي مَلَکې، غرائز، هڅوونکي، پاروونکي او تشويقوونکي محرکات، بدو کړنو ته هڅوونکی نفس (امارة بالسوء)، ملامتوونکی نفس (النَّفْسِ اللَّوَّامَةِ) او ډاډمن نفس (النفس المطمئنة)، ... لرو؛ چې همدغو له موږ د انسان په نامه داسي مخلوق جوړ کړی چې له نورو مخلوقاتو متفات او ممتاز دئ؛ د مظلوم په نسبت زړه سوی او مهرباني، له ظالم کرکه او نفرت، په ښه او نېك کار رضايت، پر بدو کړنو ندامت او پښيماني، عدالت خوښول، د ستم مخالفت او مقابله؛ او امثال ئې؛ زموږ په فطرت او معنوي او روحي جوړښت کې تعبيه شوي؛ هغه څه چې موږ ئې د شعور په نامه يادوو؛ د همدغو غريزو او فطري جوړښتونو مجموعه ده؛ چې له ښو او بدو تلقيناتو متأثر کېږي او په نتيجه کې ئې يا رشد مومي يا تت کېږيله اولاد سره د مور او پلار هغه کلکه مينه او زړه سوی چې له امله ئې دې ته چمتو کېږي چې خپل راحت او سلامتيا د اولاد د روغتيا او سلامتيا لپاره قرباني کړي، نه يوازي انسانان بلکې ټول ژوي همداسي دي؛ دا هر څه د هغه وجدان او شعور کار دئ چې د ټولو ژوو په فطرت کې تعبيه شوی.

د سپېڅلو اهدافو او آرمانونو لپاره د مال او ځان قرباني هم په دغه لړ کې راځي؛ دا ئې هم د قرآن ځيني آيتونه چې همدې مطلب ته اشاره کوي:

وَمَآ أُبَرِّئُ نَفۡسِيٓۚ إِنَّ ٱلنَّفۡسَ لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓۚ إِنَّ رَبِّي غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٥٣﴾ يوسف

او زه خپل ځان نه سپينوم، په دې کې شك نشته چې نفس د بدۍ په لور ډېر هڅوونکی دئ؛ مگر هغه چې زما پالونکی خدای پرې ورحمېږي؛ بې شکه چې زما پالونکی رب ډېر مهربان بخښونکی دئ.

دا د عزيز مصر د مېرمنې وينا ده چې د پاچا د استفسار او پوښتنې په ځواب کې کړې؛ که څه هم ځينو مفسرينو دا د يوسف عليه السلام وينا گڼلې؛ نه د هغې مېرمنې؛ د دوی دليل دا دئ چې دغه خبرې د هغې له شأن ډېرې اوچتې دي؛ خو دا توجيه په ډېرو دلائلو کمزورې ده؛ تفصيل ئې د قرآن پلوشې تفسير کې وگورئ. خبره دا ده چې دا مېرمن څه شي او کوم حس دې ته وهڅوله او چمتو کړه چې پر خپلې گناه او اشتباه اعتراف وکړي؛ هغه هم د پاچا او ډېرو مېرمنو په وړاندې؟ څنگه داسې له عظمت ډکې خبرې ئې له خولې وتلې چې ډېری مفسرين؛ د دې خبرو عظمت ته په پام سره هغه يوسف عليه السلام ته منسوبوي؟ يقيناً چې دا د هغه وجدان اغېز دئ چې يوه دنده ئې په حقيقت اعتراف او په گناه کې د انسان ملامتول دي.

د نفس تر دې هم لوړ خصلت ته قرآن په دې صيغه اشاره کوي:

يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَرْضِيَّةً فَادْخُلِي فِي عِبَادِي وَادْخُلِي جَنَّتِي ﴿٢٧﴾ الفجر

۲۷- آی اې ډاډه نفسه! ۲۸- د خپل رب په لوري گرځه؛ ته راضي شوی؛ له تا راضي شوی. ۲۹- نو زما په بندگانو کې شامل شه. ۳۰- او جنت ته مې داخل شه.

قرآن، انساني نفس درې ډوله گڼي او داسې ئې معرفي کوي:

- لوامه نفس: هغه نفس چې انسان په خپل بد کار کې ملامتوي، د گناه په هر هغه کار کې پرې اعتراض کوي چې انسان ئې کولو ته ملا

تړي.

- اماره بالسوء نفس: هغه چي انسان بدو کارونو ته هڅوي، د ګناه هر کار، هر ناولی او کرکجن عمل، ظلم او د بل په حق تېری ورته ښايسته کوي او تر سره کولو ته ئې تيارويي.
- مطمئنه نفس: مطمئن، ډاډه، آرام، قانع او راضي نفس، هغه چي سمه لار ئې غوره کړې، حقيقت ئې پېژندلی، زړه ئې پرې ډاډه شوی، نه د حقيقت په پېژندو کې مضطرب او پرېشان وي او نه ئې په متابعت او پلي کولو کې، هيڅ حالت ورته شك او شبهه نه شي پيدا کولی، په خپل جائز حق قانع او راضي وي.

قرآن فرمايي چي دا د زړه ډاډ او اطمئنان او د روح سکون او آرامښت يوازي د الله تعالی په ذکر سره تر لاسه کېدی شي.

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ﴿٢٨﴾ الرعد

هغه چي ايمان ئې راوړی او د الله په ذکر سره ئې زړونه ډاډه کېږي؛ پام چي د الله په يادولو سره زړونه ډاډه کېږي.

مطمئن نفس همغه دئ چي رابطه ئې له خپل رب سره ټينګه ساتلې، زړه ئې د الله په ياد سره ډاډه کېږي، د الله تعالی په پرېکړو راضي او قانع وي او خپل خير په هغه کې لټوي، څوك چي خپل رب نه پېژني، خپله رابطه ئې له الله تعالی سره شلولې، تل په وېري، اضطراب او پرېشانۍ کې ژوند کوي، نه ئې زړه ډاډه وي او نه ئې روح آرامه، اضطراب او پرېشاني به حتماً د هغه روح او زړه په برخه وي چي خپل رب ئې هېر کړی، دا اوس تاسو په غربي ټولنو کې ګورئ چي هري خوا ته او د هر چا په څېره کې د ژور اضطراب او ناآرامۍ نښي له ورايه ښکاري، د غربي ټولني اکثر وګړي له خوب راوړونکو او مسکن دوا پرته خوب نه شي کولی، غواړي په شراب، چرس، سګريټ، هيروئين، موروفين او نورو مخدره موادو خپل روحي اضطراب علاج کړي او څو شېبې خپل ناآرامه زړه ته کاذب ډاډ

او سکون ورپه برخه کړي، ورو ورو ئې کار هغه ځای ته ورسېږي چې له سخت روحي اضطراب د نجات لپاره ځان وژني ته ملاتړي، دا پراخي ځان وژني چې په هر غربي هېواد کې ئې گورو او حکومتونه ئې له مخنیوي عاجز او راتلونکي ته سخت پرېشانه، ټول په خدای له عدم باور او له الله سره د خپلو اړیکو د شلولو نتیجه ده، دا ځان وژني ښيي چې غربي تمدن، افکار، عقائد، د ژوند طریقه او اسلوب ئې د انسان له سالم فطرت سره اړخ نه لگوي، نه شي کولی انسان ته روحي آرامي او د زړه سکون ورپه برخه کړي، په دې غیر فطري او په الحاد او بې دینۍ ولاړ تمدن کې انسان د اضطراب او پرېشانۍ احساس کوي، روح ئې ناآرامه، هیڅ څه ئې نه شي ډاډه کولی، زغم، حوصله، صبر او استقامت نه شي ورکولی، د معمولي کړاو په نتیجه کې له ژوند بې زار شي، یا مخدره موادو ته پناه وړي او یا ځان وژني ته. دا ولې آسیایي او افریقایي انسان په سختو سختو ستونزو او کړاونو کې، په فقر او لوږې کې، په ژوند راضي وي او له کړاوونو د نجات لپاره ځان وژني ته پناه نه وړي، په یوه ستر آسیایي هېواد کې په یوه کال کې دومره کسان ځان وژنه نه کوي لکه چې د غربي هېوادونو په یوه یوه ښار کې چې تر دې په کمه موده کې ځان وژني کېږي، دا ولې؟ آیا د دې لپاره کومه بله توجیه موندلی شو؟ آیا له دې پرته بل څه ویلی شو چې هلته زړونه له ایمان تش شوي او دلته پر خدای باور په یوه او بله بڼه کې شته!! مخدره او نشه یې موادو ته د پناه وړلو اصلي او بنیادي وجه روحي اضطراب دئ، په دې خطرناکې بیمارۍ هغه څوك اخته کېږي چې له روحي سکون محروم وي، د دې بیمارۍ علاج له دې پرته په بل څه نه شي کېدی چې انسان بېرته الله ته وروگرځي، له الله تعالی سره خپلې شلېدلې اړیکې ټینگې کړي. عظیم الشأن قرآن دلته د جنت مستحق مؤمن بنده د نفس مطمئنة په نامه یادوي او په دې سره موږ ته لارښوونه کوي چې فقط ایمان کولی شي انسان ته ډاډ او اطمئنان ورپه برخه کړي، ایمان د انسان روح ته سکون او زړه ته ئې ډاډ ورکوي، عقل ئې قانع کوي، پوښتنو ته ئې ځواب وایي،

په ټولني کي ئې عدالت راولي او له اضطراب او پرېشانۍ ئې ژغوري.

يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفۡسُ ٱلۡمُطۡمَئِنَّةُ: اې مطمئن او ډاډه نفسه! (ٱرۡجِعِيٓ إِلَىٰ رَبِّكِ) د خپل رب لوري ته وګرځه، (رَاضِيَةً مَّرۡضِيَّةً: پخپله راضي شوی او بل ترې راضي شوی)، ته له الله تعالی راضي او الله تعالی له تا راضي، تا ته چي څه درکوي ته پرې راضي او ستا له کړنو دی جل شأنه راضي. الله تعالی به ورته خطاب کوي: زما په بندګانو کي شامل شه او جنت ته مي داخل شه.

لَا أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ ۝١ وَلَا أُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ ۝٢ القيامة

۱- نه؛ زما دي قسم وي د قيامت په ورځې. ۲- او نه؛ زما دي قسم وي په ملامتوونکي نفس.

دلته په (يَوْمِ الْقِيَمَةِ) او (النَّفْسِ اللَّوَّامَةِ) لوړه شوې، خو له قسمونو وروسته په ټولي سورې کي داسي څه نه مومو چي د قسمونو ځواب وي. د قرآن په ټولو نورو سورتونو کي معمول دا ده چي لومړی په څرګند او منل شوي شي لوړه کېږي، بيا د قسم ځواب د يوې داسي مسلمي او انکار نه منونکې دعوی په څېر ذکر کېږي چي همدا قسمونه ئې په حقانيت شهادت ورکوي، د دې عامي قاعدې مطابق بايد لومړی په (نفس لوامة) لوړه شوې وی او بيا د قيامت راتګ د دې قسم د ځواب په توګه ورپسې راغلی وی، خو دلته (يوم القيٰمة) د داسي يوه حقيقت په توګه ذکر شوی چي د قرآن هر مخاطب بايد د هغه په اړه شك او ترديد ونلري او د مسلم او قطعي حقيقت په توګه ئې ومني او بيا د قيامت د اثبات لپاره په (نفس لوامة) استناد شوی. دا چي ولي دلته د نورو سورتونو په څېر د قسم ځواب په څرګنده توګه نه دئ ذکر شوی او ولي د قرآن د عمومي قاعدې مغاير په داسي څه لوړه شوې چي څرګند نه دئ؟! په دې پوهېدل لږ غور غواړي. په لږ دقت سره په دې خبري پوهېدی شو چي د قسمونو ځواب پخپله په قسمونو کي نغښتی دئ؛ او هغه داسي: د انسان په وجود کي د وجدان په نامه د داسي يوې مَلَکې

شاهد یو چې په هر بد عمل او گناه کې انسان ملامتوي، د ده بد عمل غندي، دا استعداد کسبي نه دئ بلکې د ده په فطرت او خټه کې ایښودل شوی، په هر ښه او بد، صالح او طالح انسان کې شته، دا وجداني محاکمه په هرچا کې تل فعاله وي، نه یوازې د هرعمل په اړه قضاوت کوي بلکې د مجازات پرېکړه هم کوي، مگر نه گورئ چې انسان کله له یوه غلط کار وروسته خپل مخ په څپېړه وهي، کله ئې وجدان دې ته اړ کړي چې محکمې ته رجوع وکړي او په خپل داسې جرم اعتراف وکړي چې له ده پرته هیڅوك پرې خبر نه وي، کله بیا د وجدان له عذاب د نجات لپاره ځان وژنې ته پناه وړي، وجدان ئې د دې فیصله کوي چې دی د مرگ وړ دئ، پخپله ځانته همدا سزا ورکوي. په انسان کې دا (ملامتوونکی نفس) د قیامت د اثبات لپاره قوي دلیل دئ، دا ځکه چې په انسان کې د قضاوت او محاسبې دا صفت په دې شهادت ورکوي چې د انسان خالق او پیداکوونکی به هم خامخا په دې صفت متصف وي، د (مخلوق) او (مصنوع) هر کمال او نېك صفت، په (خالق) او (صانع) کې د همدې صفت په شته والي شهادت ورکوي، ممکنه نه ده چې په مصنوع کې دې داسې کوم غوره صفت وي چې د ده په صانع کې دې همدا صفت په اتم او اکمل طور نه وي. نو هغه ذات چې انسان ئې پیدا کړی او په ده کې ئې (ملامتوونکی نفس) ایښی او د وجدان مَلَکه ئې ورکړې او هغه ئې داسې جوړ کړی چې د هر بد عمل او هرې گناه په اړه ئې قضاوت کوي، حتی خپل ځان ملامتوي او مناسبه سزا ورکوي، دا ذات به حتماً په دې صفت متصف وي، حتماً به د انسان د کړنو په اړه قضاوت کوي، ستا وجداني محاکمه په دې خبرې شهادت ورکوي چې د قیامت ورځ به هرو مرو راځي او هغه ذات به ستا د عملونو په اړه قضاوت کوي چې ستا وجدان او ملامتوونکی نفس د ده ودیعه او پېرزوینه ده. که انسان د هرې پېښې او صحنې په اړه خامخا قضاوت کوي، یوې ته په بلې ترجیح ورکوي، یوه تأییدوي، بله تردیدوي، دوه کسان د دوو بېلا بېلو کړنو په حال کې گورې، یوه ته ښه او بل ته بد وایې، دوه کسان د جگړې په

حالت کې ګوري، يو ظالِم او بل مظلوم، د يوه په نسبت په خپل زړه کې ترحم او زړه سوی احساسوي، غواړي د هغه مرسته وکړي، د بل په نسبت په خپل زړه کې کرکه محسوسوي، غواړي د هغه مخنيوی وکړي، که ئې له وسه پوره وه حتماً د مظلوم مرستې ته راوړاندې کېږي او د ظالِم مقابله کوي، ظالِم ته د خپل ظلم جزاء ورکوي. ووایاست: په انسان کې دا د قضاوت استعداد چا ايښی، دا د مکافات او مجازات تصور چا ورکړی، دا د ښه او بد د تفکيك او تمييز فهم ئې له کومه کړی؟ ته څنګه دا منې چې په انسان کې دې دا صفت وي او د ده پيدا کوونکی ذات دې په دې صفت متصف نه وي؟ د عقل تقاضی خو دا ده چې د انسان پيداکوونکی او خالق بايد په اتم او اکمل صورت کې د (قضاوت) او مکافات او مجازات په صفت متصف وي، هغه به حتماً د قيامت ورځ راولي چې دا قضاوت تر سره کړي.

د دغې شرحې په پام کې نيولو سره د دې قسمونو مطلب او په خپلو منځونو کې ئې تړاو ښه څرګندېږي او دا معلومېږي چې دلته هم د نورو قسمونو په څېر د قرآن عمومي قاعده مراعات شوې. دلته د قرآن مخاطب ته داسې ويل شوي چې: نه؛ قيامت يو مسلم حقيقت دئ، حتماً به راځي، له قيامت ستا انکار خوشې بې بنسټه انکار دئ، ستا (نفس لوامة) په دې شهادت ورکوي چې د قيامت او محاکمې او محاسبې ورځ به حتماً راځي.

وروسته په همدې سلسله کې فرمايي: آيا انسان دا ګمان کوي چې د ده وراسته هډوکي او په خاورو بدل شوي اندامونه؛ د بيا راغونډولو نه دي او الله به بيا د ده جثه جوړه نه کړي او هغه ته به سا ورنه کړي؟! په داسې حال کې چې الله نه يوازې د ده په بيا راژوندي کولو قادر دئ بلکې په دې هم قادر دئ چې د ده د ګوتو د سرونو ليکې او ګارې په خپل مخکيني شکل کې بياجوړې کړي. د قيامت په اړه د انسان د انکار وجه دا نه ده چې هغه ته کافي او قانع کوونکي دلائل په لاس نه دي ورغلي او يا له دې حقيقت د ده انکار د جهل او ناپوهۍ له کبله دئ؛

داسي نه ده؛ برعکس د گناه اراده او په راتلونکي کي د فجور او بدکارۍ عزم ئې دې ته هڅوي چي له قيامت عمداً انکار وکړي. په قيامت باور خو د ده د وجود په ختِه کي ايښودل شوی، د ده وجدان د قيامت او حساب کتاب يوه څرگنده بېلگه ده، د ده مشکل له دې راولاړ شوی چي (هوی او هوس) ئې دې ته اړ کوي چي د خپل (وجدان) او (عقل) پرېکړه تکذيب کړي، د ده قضاوتونه له هوس راخوټېږي، تل د خپل وجدان د حکم او غوښتني خلاف گناه ته ملا تړي. که دی د خپل هوس فرمان ته غاړه کښېنږدي؛ او د گناه د ارتکاب اراده او عزم پرېږدي نو د ده او قيامت تر منځ به ټول حجابونه له منځه ولاړ شي او په خپل نفس کي به د هغه لپاره شواهد ومومي.

همدا راز هغه کوم حس دئ چي انسان نه پرېږدي د هوس او شيطان بنده شي؛ ناولو، گنده او پليتو موخو او اغراضو ته مخه کړي او د گناهونو او فسادونو په ناولي ډنډ کي پرېوځي؛ تر لاس ئې نيسي، په سمي، پاکيزه او انساني لاري ئې تگ ته چمتو کوي، د لوړو او سپېڅلو اهدافو لپاره ئې قربانۍ ته تياروي؟؛ هغه کومه غريزه ده چي له انسان داسي متعهد، ايثار ته چمتو، انقلابي او مجاهد شخصيت جوړوي چي د سترو او سپېڅلو اهدافو، له خپل حق او حيثيت، د خپلي کورنۍ، ملت او هېواد له عزت، خپلواکي او آزادي دفاع او د الله تعالی د رضاء تر لاسه کولو لپاره ... په ورين تندي د بېدرېغه قربانيو لار غوره کوي؟! لکه چي قرآن فرمايي:

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡرِي نَفۡسَهُ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ۝٢٠٧ البقرة

او له خلکو ځيني داسي دي چي د الله د رضا په لټه کي خپل ځان پلوري؛ او پر داسي بندگانو رءوف او مهربان دئ.

همدا راز فرمايي:

وَٱلَّذِينَ تَبَوَّءُو ٱلدَّارَ وَٱلۡإِيمَٰنَ مِن قَبۡلِهِمۡ يُحِبُّونَ مَنۡ هَاجَرَ إِلَيۡهِمۡ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمۡ حَاجَةٗ مِّمَّآ أُوتُواْ وَيُؤۡثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ وَلَوۡ كَانَ بِهِمۡ خَصَاصَةٞۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفۡسِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ۝٩ الحشر

او هغه چي تر دوی وړاندي ئې په دې کور او د ایمان (غېږ) کي ځای نیولی، له هغو سره محبت لري چي د دوی لوري ته ئې هجرت کړی؛ او په خپلو سینو کي هغه څه ته اړتیا نه مومي چي دوی ته ورکړی شوي او پر خپل ځان نورو ته ترجیح ورکوي که څه هم پخپله ډېر حاجتمن وي؛ او څوك چي د خپل نفس له حرص او بخل خوندي پاته شو همدا دوی بریالي دي.

په دې مبارك آیت کي؛ الله تعالی د مدیني د انصارو ستاینه کړې؛ د هغو چي رسول الله صلی الله علیه و سلم او د ده مهاجرو یارانو ته ئې پنا ورکړه، په پراخه غېږ، ورین تندي، محبت او درناوي سره ئې ومنل؛ تر ځان ئې هغوی ته ترجیح ورکوله، سره له دې چي پخپله نه د شتمنیو خاوندان وو او نه مدینه داسي کوم بېل ملك او هېواد وو چي د قریشو له مذهبي، سیاسي او اقتصادي واکمنۍ بهر وو؛ فقط د یوه لوی کلي حیثیت ئې درلود؛ هغه هم داسي چي یهوادان ئې یو اغېزمن او ځواکمن لوری وو او له اقتصادي پلوه بازار د دوی په لاس کي، او د مسلمانانو ډېری د هغوی پوروړي؛ همدا دوی ول چي تر ایمان وړاندي ئې د اوس او خزرج قبیلې سره جنګولې؛ خو له ایمان وروسته داسي هدفمن، مخلص او قربانیو ته چمتو مجاهدین ترې جوړ شول چي خپل ځان، مال او هر څه ئې د الله په لار کي قرباني کړل؛ او اسلام ئې نه یوازي د ټول حجاز؛ بلکي د نړۍ د پراخي برخي ګوټ ګوټ ته ورساوو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم او د هغه یارانو ته پنا ورکول؛ څه ساده او آسان کار نه وو؛ بلکي له ځواکمنو او واکمنو قریش او د دوی تر اغېز او واکمنۍ لاندي د ټولو عرب قبائلو خلاف د جنګ له اعلان سره مترادف اقدام ګڼل کېدو؛ هغه مهال چي د یثرب یوه دروند او لوی هیئت؛ د ۷۳ نارینه او ۲

مېرمنو په شمول؛ د حج په موسم او د منیٰ په مراسمو کې؛ د عقبه په نامه یوه خوړ کې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره بیعت وکړ او مدینې ته ئې د تگ بلنه ورکړه؛ په غونډې کې؛ یو غیرتي مؤمن ځوان د دوی له منځه پاځېد او په درانه او متین غږ سره ئې خپلو ملگرو ته په خطاب کې وویل: اې یثرب والو؛ لږ تم شئ او پام وکړئ؛ آیا پوهېږئ چي د دې دعوت او بلنې پایلې به څه وي؟ آیا دې ته چمتو یئ چي قریش او ټول عرب قبائل له خپلو لوڅو تورو سره پر تاسو برید وکړي؛ تورزن زامن مو ووژل شي او مېرمنې مو اسیرې؟! که یقیناً دې ته چمتو یئ او له رسول الله او د هغه له ملگرو داسې دفاع کوئ لکه له خپلې کورنۍ او اولاد؛ نو په صداقت او اخلاص سره تعهد وکړئ؛ اجر ئې له الله تعالی وغواړئ؛ که نه نو له دې بلنې همدا اوس منصرف شئ؛ او خپله بې وسي؛ الله تعالی ته د عذر په توگه وړاندې کړئ؛ ټول پوهېدل چي د دې بلنې معنی او پایله همدا ده؛ سره له دې واقعي او جدي مخاطراتو ئې کلك او صادقانه تعهد وکړ او د ژوند تر پایه پر خپل تعهد ثابت پاته شول؛ که د تاریخ پاڼې وپلټئ نو وبه گورئ چي د مدینې ډېری انصار؛ د جنگ په میدانونو کې او د اسلام تر بیرغ لاندې؛ له حجاز تر چین، هند، مرکزي آسیا، اسپانیا او د افریقا تر غرب او جنوب پورې په شهادت رسیدلي؛ او همملته دفن شوي او قبرونه ئې تر اوسه پاته دي؛ یقیناً چي د نړۍ ټول مسلمانان د دوی د جهادونو او قربانیو مرهون او پوروړي دي؛ پوښتنه دا ده چي څه او د دوی کوم احساس، معنوي غریزه او کوم فطري جوړښت د دې باعث شو چي دا لار غوره کړي او فقط د الله تعالی د رضاء تر لاسه کولو لپاره دا ټول کړاوونه، اوږده اوږده مزلونه، له لویو لویو مجهزو ځواکونو سره ډغري ووهي، پرهارونه او شهادتونه ومني؟! هو؛ د انسان په فطري جوړښت کې داسې څه شته چي که صیقل شي او وده ورکړی شي؛ نو انسان دغسې لوړو معنوي مقاماتو ته رسولی شي.

ښايي يوه ورځ به انسان وکولی شي چي دا سافټوير وپېژني؛ خو اوس د ډېرو دلايلو له امله؛ په ځانګړي ډول د هغو د شمېر د زياتوالي له امله؛ د هغه له پېژندلو عاجز يو؛ ځکه ادراک لرونکي سافټويرونه چي شعور، فهم او درک لري او کار ئې د معلوماتو راټولول، تنظيمول، څېړل، نتيجه ئې تر لاسه کول او په اړه ئې مناسب تصميم نيول دي؛ او هغه ټول سافټويرونه چي د انسان په دماغ، ډي اېن اې، جينوم او د بدن د هري حجرې په داخل کي تعبيه شوي دي؛ دومره زيات دي چي که د ډيجيټل کوډونو په بڼه وليکل شي او په ډي وي ډي‌ګانو کي ثبت شي؛ نو څو مليون ډي وي ډي ته ضرورت لرو. د يوه عادي انسان په دماغ کي شاوخوا ($10^{14}$ تا $10^{15}$) سيناپس تعبيه شوي؛ سيناپس د دوو عصبي حجرو د نښلېدو او د معلوماتو د تبادلې ځای دئ. د انسان د دماغ د خامو معلوماتو وړتيا د شاوخوا ۱۲۵،۰۰۰ DVD سره برابره ده. خو که د انسان په ټول بدن کي تعبيه شوي معلومات او سافټويرونه؛ ډيجيټل کوډ ته واړول شي؛ نو شاوخوا ۱۰ تر ۱۰۰ پټابايت (يعني ۱۰،۰۰۰ تر ۱۰۰،۰۰۰ ټيرابايت) ته رسېږي. يو پټابايت د ۱،۰۰۰،۰۰۰ يو مليون ګيګابايت دئ؛ که وغواړو چي دا معلومات په ډي وي ډي کي چي ظرفيت ئې ٤,٧ ګيګابايت دئ؛ ثبت کړو؛ نو نژدې ۲ تر ۲۰ ميليونه DVD ته اړتيا لرو.

انسان په خپلو حواسو او تجهيزاتو سره کولی شي تر هغه اشياء درك کړي چي مادي حيثيت ئې ساتل شوی وي؛ جسم او وزن ولري، مکان ولري او له يوه ځای تر بل رسېدو کي د زمان تابع وي؛ خو کله چي ئې مادي حيثيت منتفي شي، د مکان او زمان له محدودې ووځي؛ بيا ئې انسان يوازي آثار حس کولی شي؛ نه جسم او جسد ئې؛ څو مثالونه ئې دا دي:

• د مادي اشياءو آخري وړوکې برخه اتم دئ او د اتم اجزاء؛ الکترون، پروتون او نيوترون چي وروستۍ مادي بڼې ئې دي؛ له دې آخوا ساحه ده چي نه مادي بڼه لري او نه د مادې د قواعدو تابع دي؛ نه د زمان

تابع دي او نه د مکان. کله چې ماده په انرژۍ تبديل شي مادي خصوصيات او ځانګړتياوې ئې له منځه ولاړې شي؛ او د مادې اړوند قواعدو او ضوابطو له تابعيت او سيطرې هم آزاد شي؛ هم ئې مکان لا يتناهي شي او هم ئې زمان صفر؛ د مکان له پلوه هر ځايي شي او له يوه ځای بل ته رسېدا ئې هيڅ وخت نه ترې غواړي. موږ د حرارت، جاذبې او ساحې آثار درك کولی شو؛ قوت او د اغېز درجه ئې معلومولی شو خو ليدلی ئې نه شو.

• زموږ حواس او قدرت او توان ئې محدود او د درك ساحه ئې لنډه ده؛ سترګې مو د عادي حجاب آخوا نه شي ليدلی، غوږونه مو يوازې هغه غږونه اوريدی شي چې څپې ئې د غوږونو نرې عصبي تارونه وخوزوي؛ پزه هغه مهال بوی احساسوي چې د بوی ساحې ته داخل شو؛ ذائقه او لامسه حواس مو هم دې ته ورته دي.

• موږ د زمان او مکان تابع يو؛ په دې نه پوهېږو چې يوه لحظه او شېبه وروسته به څه کېږي؛ د ماضي په اړه مو علم هم ذاتي نه دئ بلکې له بل اورېدلی او په کتابونو کې لوستلی علم دئ؛ زموږ د حال، ماضي او مستقبل تر منځ داسې مکاني او زماني حجابونه دي چې ترې وتل راته ممکن نه دي؛ د هر چا وړاندوينې د هغه د پوهې او علم له دائرې او محدودې سره متناسب وي؛ علم مو محدود دئ؛ د عقل د الوت وزرونه مو د دې توان نه لري چې له ټولو مکاني او زماني حجابونو تېر شي. د مستقبل په اړه وړاندوينه او د ماضي په اړه جامع او دقيقه وينا هغه څوك کولی شي چې علم ئې جامع، کامل او له هره پلوه بشپړ وي؛ خو د انسان علم په همدې يوويشتمې پېړۍ او د مصنوعي هوش په عصر کې دومره محدود دئ چې لا د انسان د دماغ په اړه بشپړ معلومات نه لرو؛ د امريکا مخکيني جمهور رئيس اوباما په وينا "مريخ ته ورسېدو خو لا د انسان د يو پونډ مغز په اړه کافي معلومات نه لرو". د قرآن دا وينا ډېره دقيقه او د واقعيت مطابق ده چې وايي: په زمکې او آسمانونو کې له الله تعالی پرته هيڅوك په غيب نه پوهېږي؛ نه فرشتې، نه انسانان

او نه پېریان؛ دا ځکه چي د ټولو د علم منشأ او د درك اسباب دومره ضعیف دي چي په څو متر او څو کیلومتر کي کار کولی شي؛ انسان چي اشرف المخلوقات او د استعدادونو له پلوه په مجموعي توگه تر ټولو وړاندي دئ؛ په ځینو برخو کي ډېر حیوانات تر انسانانو مخکي دي؛ لکه آسمان ځکالي (خفاش یا چچړي) چي کولی شي د امواجو خپرولو په مرسته په هوا او د شپې تیاره کي وړې الوتونکې حشرې وویني او ښکار ئې کړي؛ د مانور توان ئې هم دومره لوړ او تېز چي ښایي بل الوتونکی ورسره سیالي ونه شي کړی؛ موږ دا کار نه شو کولی، ځیني کبان د برېښنایي شارت له لاري ښکار کوي، سپی چي د بوی تشخیص کي کومه وړتیا لري انسانان ئې نه لري.

علاوه پر دي چي انسان د ابتکار، اختراع، د معمول خلاف نوښت؛ وړتیا او استعداد لري؛ کولی شي د حاضر او موجود نښو او علائمو له مخي هم د ماضي په اړه حقیقت ته ورته او نږدې قضاوتونه وکړي او هم د راتلونوکو پېښو په اړه نسبتاً دقیقي وړاندویني؛ پر دې سربېره د رؤیا (خوب) په نامه داسي څه لري چي له ماضي، حال او مستقبل ئې خبروي؛ خو دا چي آیا دا هم د دماغ کار دئ چي د شپې له لوري او د خوب په حالت کي هم فعال وي، یوه شېبه هم نه ویده کېږي؛ او د ویښي په څېر وړاندویني او قضاوتونه کولی شي؛ یوازي د څو غړو اړوند فعالیتونه یا متوقف کړي او یا ئې د نیمه فعال؛ standby حالت کي ساتي؛ کېدی شي ځیني خوبونه همداسي وي؛ خو داسي خوبونه هم لري چي قطعاً ورته مشخصه طبیعي منشأ نه شو موندلی؛ تقریباً هر انسان؛ کافر او مؤمن؛ عالم او جاهل؛ داسي خوبونه تجربه کړي؛ انکار ترې سفاهت او لجاجت کېدی شي؛ نه بل څه؛ په بایبل کي هم داسي خوبونه راغلي، په قرآن کي هم او نورو مذهبي کتابونو کي هم او عملاً ډېرو انسانانو په خپل ژوند کي په وار وار تجربه کړي. علمي څېړني او عادلانه قضاوتونه دا ایجابوي چي که په ټولو انسانانو کي څو کسانو هم داسي رښتیني خوبونه لیدلي وي چي د ماضي او مستقبل په اړه وي؛ باید منشأ

ئې ولټول شي او له خوا ئې په بې‌اعتنائي سره تېر نه شو؛ لکه د یوسف علیه السلام خوب، د مصر د ملك خوب او د یوسف علیه السلام د دوو زنداني ملګرو خوبونه؛ چې په قرآن او د مسیحیانو او یهودانو په مذهبي کتابونو کې راغلي.

دا هم باید په پام کې ولرو چې زموږ عالم دوه برخې لري: ۱- هغه چې موږ ئې په خپلو حواسو درك کولی شو او ۲- هغه چې زموږ حواس ئې له درك کولو عاجز دي؛ د قرآن په اصطلاح لومړی ئې (مشهود: څرګند) دئ او دوهم ئې (غائب: له سترګو پټ)؛ په دې دواړو کې موږ یوازي حاضر، ظاهر او څرګند شیان په خپلو حواسو درك کولی شو؛ اما هغه څه چې زموږ د حواسو د درك له دائرې بهر دي؛ لکه جاذبه، ساحه، انرژي، الکترو مقناطیسي امواج، د نور وړانګي او اشعه، د غږ څپې، هوا او ډېر نور چې کتله او وزن نه لري؛ نه شو لیدلی؛ یوازي اغېز او اثر ئې درك کولی شو؛ د مستقبل پېښو په اړه هم د پوهېدو او علم هیڅ توان او مجال نه لرو؛ د مقدماتو له مخې کولی شو د احتمالي پېښو په ارتباط څه ووایو او کېدی شي وړاندوینه مو رښتیني شي؛ خو دې ته د علم نوم نه شو ورکولی؛ علم هغه څه دئ چې احتمالات نه قبلوي، د هر څه په اړه داسي بشپړ او کامل معرفت ته علم ویل کېږي چې د خطأ او اشتباه هیڅ مجال په کې نه وي؛ لکه ۲+۲= ٤ نه کم نه زیات؛ ښایي ځیني به د باران او واورې ورېدو په ارتباط وړاندوینو ته په غیب د پوهېدا نوم ورکړي؛ خو دا یوه مغالطه ده؛ هغوی دې ته متوجه نه دي چې دا وړاندوینه د کوم فرد کار او غیب وینه نه ده؛ د ګڼ شمېر پېچلو تجهیزاتو عیني او تر نظر لاندي کار دئ؛ هغه چې هم د ورېځو ډول او له زمکې ارتفاع عملاً تر نظر لاندي لري او مخامخ ئې څېړي، هم ئې د حرکت سمت او سرعت ورته معلوم وي، هم له هر لوري د بادونو سمت او سرعت په پام کې نیسي، هم ټولې هغه سیمې چې دا ورېځې ترې تېرېږي او ګوري چې د کومي سیمې هوا به داسي وي چې له ورېځو به د باران یا واورې ورېدو باعث کېږي؛ اړوند تجهیزات دا ټول فکتورونه

په پام كې نيسي او وړاندويني كوي؛ خو سره له دې په خپلو وړاندوينو كې مجبور دي ووايي: سبا په فلانۍ سيمي كې د باران يا واوري ورېدو احتمال شته او كه همدا د (احتمال) يادونه ونه كړي نو خبره ئې اصولاً غلطه ده او كېدى شي غلطه ثابته شي؛ ځكه د ورښت عمليه په ډېرو فكتورونو پوري تړلې ده؛ پر ټولو بشپړه احتواء او له مخې ئې سل په سلو كې قطعي او نهائي خبره كول؛ ممكن نه دي؛ سل په سلو كې يقيني خبره د علم خبره وي؛ او د علم وينا فقط هغه ده چې د ثابتو فكتورونو له مخې كېږي؛ انسان د راتلونكو پېښو په اړه قطعاً پرېكنده او حقيقي قضاوت نه شي كولى او حتى د وزن او طول په ارتباط د انسان پرېكړې او قضاوتونه نسبي او احتمالي دي نه په مطلقه توگه رښتيني او نهائي؛ كه څه هم د داسي ډېرو حساسو تلو او وسائلو په مټ وي چې د گرام او ملي متر زرمه هم معلومولى شي؛ قرآن همدې ته په پام سره د عادلانه وزن په ارتباط ويلي:

.... وَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَٱلۡمِيزَانَ بِٱلۡقِسۡطِۖ لَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۖ ﴿١٥٢﴾ الأنعام

.... پيمانه او تله په انصاف سره بشپړه كوئ؛ هيڅوك تر خپل وس په زيات څه نه گمارو...

د وزن او پيمانې په ارتباط دا خبره كول چې الله تعالى هيڅوك تر خپل وس په زيات څه نه گماري؛ د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز دئ او ښيي چې د قرآن هره وينا د احكامو او لارښوونو په اړه څومره دقيقه ده؛ نن او وروسته له هغه چې انسان د وزن او پيمانې لپاره تر دې هم حساس وسائل جوړ كړل چې د گرام او ملي متر تر زرمي برخي هم واړه شيان تللى او پيمانه كولى شي او ورته معلومه شوه چې په مكمله او بشپړه توگه تلل او پيمانه كول انسان ته محال او ناممكن دي، د قرآن د دغي وينا په اهميت پوهېدى شو؛ دلته قرآن همغه خبره كړې چې انسان اوس او څوارلس سوه كاله وروسته پرې پوه شوى.

حقیقت دا دئ: څوك چې وايي؛ له الله تعالی پرته بل څوك په غیب پوهېږي؛ هغه هم جاهل دئ او هم د قرآن د ګڼ شمېر هغو آیتونو په نسبت کافر او ترې منکر دئ چې وايي: له الله تعالی پرته هیڅوك په غیب نه پوهېږي.

دې ته هم باید متوجه وو چې قرآن موږ ته په مکرره توګه او په تأکید سره لارښوونه کوي چې د آسمانونو، زمکې؛ او په غېږ کې ئې د ډول ډول مخلوقاتو، د شپې او ورځې تګ راتګ او د وضعیت او حالاتو بدلېدو رابدلېدو په اړه له غور، تفکر، تدبر او تعقل کار واخلو؛ لکه چې فرمايي:

إِنَّ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ لَءَايَٰتٍ لِّأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿١٩٠﴾ ٱلَّذِينَ يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَٰطِلًا سُبْحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٩١﴾ آل عمران

[١٩٠]- یقیناً چې د آسمانونو او زمکې په پیدایښت کې او د شپې او ورځې په تلو راتلو کې عقلمنو ته ډېرې نښې دي. [١٩١]- هغه چې الله په ولاړه، ناسته او په خپل اړخ ملاسته یادوي او د آسمانونو او زمکې په پیدایښت کې فکر کوي؛ چې اې زموږ ربه! دا دې خوشې نه دي پیدا کړي، پاکې تا ته ده؛ موږ د اور له عذاب وساته.

د دې آیتونو مختصر شرح او تفسیر د دې لیکنې په (٣٠) صفحه کې هم لوستلی شئ او مفصله شرح ئې د پلوشې تفسیر آل عمران سوره کې هم؛ دلته د پورتنیو آیتونو اړوند څو اساسي خبرې ستاسو مخې ته ږدم:

د آسمانونو او زمکې په پیدایښت او د شپې او ورځې په تلو راتلو کې کوم آیتونه او نښې دي چې یوازې عقلمن پرې پوهېدی شي؟ آیا موږ په دې اړه غور، فکر او تحقیق کړی او هغه لارښودونکې نښې مو درك کړې چې په دې کې شته؟ له هغو پوښتنه کوم چې ځان ته عالِم وايي او

د شیخ القرآن نوم ئې هم پر ځان ایښی؛ کله مو په دې کې څو شېبې فکر او غور کړی؟ د منبر پر سر په خپلو خطبو کې مخاطبینو ته او د تدریس په دوران کې خپلو شاګردانو ته مو څه ویلي؟ له عام ولس پوښتم: له کوم خطیب مو په دې اړه څه اورېدلي؟ ما په خپل ټول ژوند کې داسې خطیب او مدرس نه دئ لیدلی؛ او دا ځکه چې زموږ په مدرسو او تدریسي نصاب کې داسې کتابونه نه دي شامل چې د آسمانونو او زمکې او په دوی کې د بې شمېره ژوندیو او جامدو مخلوقاتو په اړه ئې پراخ علمي تحقیقات او څېړني کړې وي؛ سره له دې چې قرآن موږ ته وایي: ستاسو جد؛ آدم علیه السلام ته ځکه پر ملائکو فضیلت ورکړی شوی چې د اشیاءو په اړه د ده علم او پوهه تر هغوی پراخه ده؛ په عالمَ کې تحقیقات خو پرېږدئ؛ موږ قرآن هم شا ته غورځولی وو او په هغه کې مو له غور او دقت ډډه کوله؛ نه مو په خپلو خطبو کې د قرآن آیتونه یادول او څېړل او نه د تدریس په دوران کې؛ د طالبانو د حکومت له راتلو وروسته مي په حیرانتیا سره له ډېرو واورېدل چې ویل ئې: د سلفي، وهابي او پنجپیري لومړی نښه دا ده چې د قرآن په آیتونو به استناد کوي او دوهمه ئې دا چې وایي په احادیثو کې داسې راغلي!! یعني سلفیان، وهابیان او پنجپیریان ځکه د حنفي مذهب مخالفین دي او پام کوئ د هغوی خبري وانه ورئ او لمونځ ورپسې ونه کړئ؛ دا ځکه چې په قرآن او حدیث استناد کوي؛ دا هسې د څو جاهلانو خبري هم نه دي؛ بلکې له یوه خاص مسلك زېږېدلی ذهنیت او راولاړه شوې فتنه ده؛ هغه مسلك چې وایي: موږ او د دې زمانې مسلمانان باید د مخکینیو فقهاءو په آراءو اکتفاء وکړو، هغوی په قرآن او حدیث پوهېدل او کار ئې موږ ته آسان کړی؛ د هغوی فقهي آراء موږ ته کفایت کوي؛ دا جسارت باید ونه کړو چې د خپلو ویناوو او بحثونو په دوران کې مخامخ قرآن او حدیث ته رجوع وکړو؛ قرآن او حدیث زموږ د فهم او پوهې له سویې لوړ دي!! او دا یقیناً الله تعالی او د هغه پر سپېڅلي کتاب کرکجن او دروغجن تور دئ؛ الله تعالی له دې منزه دئ چې د خپلو بندګانو تر فهم

لوړ یا مبهم کتاب راولېږي او قرآن له دې عیب منزه دئ چي په هغه کي دي اغماض، ابهام او د شك مورد وي؛ الله تعالی د قرآن په اړه مکرر فرمايلي: (ذَٰلِكَ ٱلْكِتَٰبُ لَا رَيْبَۛ فِيهِۛ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ: دا هغه کتاب دئ چي د شك مورد په کي نه شته؛ د پرهيزگارانو لپاره لارښود)؛ همد راز څلور ځلي ئې د القمر سوره کي او دوه ځلي ئې د مریم او الدخان سورتونو کي فرمايلي چي دا قرآن مو هم د پیغمبر لپاره آسان کړی او هم د ټولو مخاطبينو لپاره:

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا ٱلْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿١٧﴾ القمر ۱۷-۲۲ -۳۲-۴۰

او یقیناً چي موږ قرآن د پند اخيستلو لپاره آسان کړی؛ نو آیا کوم عبرت اخیستونکی شته؟

او د رسول الله صلی الله علیه و سلم په ارتباط فرمايي:

فَإِنَّمَا يَسَّرْنَٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ ٱلْمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِۦ قَوْمًا لُّدًّا ﴿٩٧﴾ مریم

نو ستا پر ژبه مو (قرآن) آسان کړ چي متقيانو ته زېری پرې ورکړې او سرټمبه وگړو ته خبرداری ورکړې.

فَإِنَّمَا يَسَّرْنَٰهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾ الدخان

نو یقیناً چي ستا پر ژبه مو (قرآن) آسان کړ چي پند واخلي.

او رسول الله صلی الله علیه و سلم د قرآن په اړه فرمايلي:

... أَيُّهَا النَّاسُ، قَدْ ترکت فيكم ما إن اعْتَصَمْتُمْ بِهِ لَنْ تَضِلُّوا: كِتَابَ اللَّهِ.

... اې خلکو! په تاسو کي مي هغه څه پرېښود چي که منګولي پرې ټينګي کړئ؛ نو هيڅکله به بې لاري نه شئ: د الله کتاب.

دا روايت موږ ته په پرېکنده او صريح الفاظو وايي چي د هدايت اصلي او يوازينی مرجع قرآن دئ او څوك چي پر دې کتاب اکتفاء وکړي او په کلکه عمل پرې وکړي؛ هيڅکله به سمه لار ترې ورکه نه شي؛ دا

روایت د إسنادو له پلوه دومره دروند او معتبر دئ چې د حدیث په ټولو کتابونو کې د صحیح بخاري په شمول؛ د ګوتو په شمېر لږ روایات ورسره برابري کولی شي؛ تر اتو زیاتو صحابه وو روایت کړی؛ او له صحیح بخاري پرته د حدیث په ټولو کتابونو کې بلا استثناء راغلی؛ پر امام بخاري د اعتراض یو مورد همدا دئ چې ولې ئې داسي ډېر مهم او معتبر حدیث؛ په خپل کتاب کې نه دئ راوړی؛ په داسي حال کې چې ټولو محدثینو؛ د ده استاد ابن راهویه او د ده شاګرد امام مسلم په شمول؛ په خپلو کتابونو کې راوړی؟!

## له مبالغو ډك القاب

که صحابه وو او تر دوی وروسته څو نسلونو ته ځیر شو نو وبه ګورو چې هیڅا ته د ملا، مولوي، شیخ القرآن، شیخ الحدیث، آیت الله، حجة الاسلام، او بل امتیازي نوم او لقب نه دئ کارول شوی؛ که به یوه د بل د علم په اړه پوښتنه کوله نو ورته ویل به ئې: له قرآن څه ورسره دي؟ یا څه درسره دي؟

متأسفانه ځیني داسي انګېري او غواړي خپله واهي انګېرنه سمه ثابته کړي او هغې ته مذهبي رنګ ورکړي؛ چې ګواکې علم یوازي هغه څه دي چې دوی په خپلې مدرسې او هغه هم په کلیوالي مدرسې کې او له یوه استاد او مدرس ټول کتابونه زده کړي، کتابونه ئې هم د عربي صرف، نحو، د خپل مذهب څو ابتدائي فقهي کتابونه، د یوناني مسخره فلسفې، منطق او حکمت زاړه او له موډ لوېدلي آثار او لیکني؛ ګمان کوي چې همدا او فقط همدا بشپړ علم دئ او بس او له دې آخوا هر څه خوشې او بې ارزښته خبري دي!! ساینس او د ساینسپوهانو خبري خو اصلاً او په بشپړ ډول د قرآن ضد او د دین خلاف ګڼي!! ساینس هغه علم دئ چې الله تعالی په دې عالم کې اېښی او ساینسپوه هغه عالم دئ چې دغه الهي علم ئې کشف کړی؛ د ساینس هیڅ خبره او کشف به څوك د قرآن خلاف ونه مومي او د قرآن هیڅ آیت به د ساینسي علومو

خلاف؛ ساینس به د مخکیني آیت مطابق؛ د قرآني آیتونو مصداقونه زموږ مخي ته ږدي؛ په کوم قرآن چي د غرب ستر ستر ساینسپوهان ایمان راوړي؛ زموږ ډېرو علماءو شا ته غورځولی؛ او پر شرح مائة عامل او خلاصه کیداني ئې اکتفاء کړې؛ او د همدې کتابونو په لوستلو سره به دومره مغرور شي چي د علامه، مفتي، شیخ القرآن، شیخ الحدیث، نور المشائخ، شمس العلماء، او ... په القابو سره ئې هم تنده نه ماتېږي او د کبر خم ئې نه ډکېږي، دا په داسي حال کې چي په عربي به نه څو جملې سمي لیکلی شي او نه ویلی، صرف او نحو ئې له یوه لس کلن عرب ماشوم سره هم نه شو پرتله کولی؛ دی د ژبي په څو قواعدو پوه شوی خو له تطبیق ئې عاجز دئ؛ خو هغه ماشوم له دې قواعدو خبر نه دئ خو سره له دې ئې وینا او لیکنه تر دوی ډېره دقیقه او سمه؛ که د دوی مخي ته که کوم عربي، پښتو او فارسي کتاب یا کومه ورځپاڼه پرانیزې؛ نه ئې سم لوستلی شي او نه په سمه توګه پرې پوهېږي؛ له قرآن سره ئې چلن همغسي دئ لکه چي الله تعالی د اهل کتاب ملایانو په اړه فرمایلي:

وَلَمَّا جَآءَهُمْ رَسُولٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيقٌ مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ كِتَـٰبَ ٱللَّهِ وَرَآءَ ظُهُورِهِمْ كَأَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٠١﴾ البقرة

او کله چي د الله له لوري داسي کوم پیغمبر ورته راغلی چي له دوی سره د شته (کتاب) تصدیقوونکی وو، نو د اهل کتاب یوې ډلي د الله کتاب داسي شا ته وغورځاوو لکه (په هیڅ) چي نه پوهېدل.

یعني د الله کتاب ئې په بشپړ ډول داسي شا ته غورځولی لکه چي له هیڅ څه ئې خبر نه وي. د ژبي قواعد زده کول خو وسیله ده او هدف ئې د ژبي زده کړه ده؛ دوی د قواعدو زده کړي کې دومره غرق شي چي د الله تعالی د کتاب لوستل او زده کول هم ترې پاته شي؛ دوی هغه چا ته ورته دي چي د ډرېوري سبقونه ئې په کتاب کې لوستلي خو په عمل کې لا د اشترنګ شا ته نه دئ کښېنستی؛ که ګاډی په لاس ورشي نو خدای دې له ټکرونو او ضررونو په خپل امان کې وساته.

قرآن د الهي لارښوونو جامع او کامل کتاب دئ؛ انسان ته هر هغه څه ښيي چې دی ورته اړ دئ؛ د ښه ژوندون لپاره ئې مکمل او بشپړ لارښود کتاب؛ هغه ته هم خپل خالق او رب ورښيي، هم خپل ځان او هم ټول عالم او په دې عالم کې د ښه او موفق ژوند ټولې لارې چارې؛ قرآن د ټولو مخکينيو کتابونو پر ټولو لارښوونو محيط کتاب دئ؛ داسې چې د هغوی ټول اصلي مطالب په کې راغلي، د ټولو خلاصه او مکمِل دئ؛ تفاوت ئې له نورو الهي کتابونو سره په دې کې دئ چې دا په عربي نازل شوی او نور د خپل خپل پيغمبر او د هغه د امت په ژبه؛ د رسول الله صلی الله عليه و سلم په شمول هيڅ پيغمبر خپل امت ته ژبه او قواعد ئې نه دي ورښودلي؛ هر چا خپله ژبه له مور او پلار زده کړې؛ پيغمبر د الله تعالی لارښوونې دوی ته ښودلې؛ او پر هغوی ئې عمل کولو ته بللي؛ لوستي او نالوستي، باسواد او امي ته ئې د الله تعالی هغه کتاب وړاندې کړی چې د دوی په ژبه ئې نازل کړی او د هر چا د فهم او پوهېدا لپاره ئې آسان کړی؛ موږ د کتاب اصلي مطالب پرېښي او ټول ژوند مو د عربي ژبې د قواعدو په زده کړې کې تېر کړی؛ خو دواړه رانه نيمگړې پاته شوې. قرآن د اهل کتاب د مذهبي مشرانو بل صفت داسې بيانوي:

وَإِذۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهُۥ لِلنَّاسِ وَلَا تَكۡتُمُونَهُۥ فَنَبَذُوهُ وَرَآءَ ظُهُورِهِمۡ وَٱشۡتَرَوۡاْ بِهِۦ ثَمَنٗا قَلِيلٗاۖ فَبِئۡسَ مَا يَشۡتَرُونَ ١٨٧ آل عمران

او کله چې الله له هغو چې کتاب ورکړی شوی؛ دا ژمنه تر لاسه کړه چې هرومرو به ئې خلکو ته بيانوئ او نه به ئې پټوئ؛ خو خپلې شا ته ئې وغورځاوو او ناځيزه بيع ئې پرې وپېرله؛ څومره بد دئ هغه څه چې دوی ئې پېري.

د دې آيت لارښوونه دا ده: چا ته چې الله کتاب او د کتاب علم ورکړی؛ دا ژمنه ئې ترې اخيستې ده چې دا کتاب به خلکو ته رسوئ،

لاربښووني به ئې بيانوئ او هيڅ څه به ئې نه پټوئ؛ خو د اهل کتاب دين پلورونکو مذهبي مشرانو هم د الله کتاب شا ته وغورځاوو او هم ئې خپله ژمنه هېره کړه، دين ئې په دنيا خرڅ کړ، هغه هم ډېر ارزان، په ډېره ناڅيزه بيه، د ظالمانو په ګټه د فتوی ګانو په بدل کې سپېره اجوره، خلك دوکه کول او له دين بې خبره ساتل.

قرآن د اهل کتاب مذهبي مشران او د دوی خصلتونه په ډېر تفصيل سره معرفي کړي؛ وايي: دوی د الله له کتاب لږ څه زده کول؛ په همدې وړې برخې کې به ئې هم تحريفونه کول، ډېر څه به ئې پټول، حق او باطل به ئې سره ګډول، منافق او دوه مخي ول، ډېر قسمونه به ئې خوړل، درواغ ئې ويل، د جادو، فال، تعويذ، دم... په بدل کې شکرانې تر لاسه کول او په ټګماريو سره د خلکو مال په ناحقه خوړل د دوی کسب، مشغله او پېشه وه، د ظالمانو او باغي حکامو په خدمت کې ول، کافر ته به ئې پر مؤمن ترجيح ورکوله... دا ئې څو مثالونه دي:

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ يُؤْمِنُونَ بِٱلْجِبْتِ وَٱلطَّٰغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ هَٰٓؤُلَآءِ أَهْدَىٰ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ سَبِيلًا ﴿٥١﴾ النساء

آيا هغو ته دي پام ونه کړ چې د کتاب څه برخه ورکړی شوې، خو په جبت او طاغوت ايمان راوړي او د کافرانو په اړه وايي: دوی تر مؤمنانو ډېر په سمه لار دي.

دلته د يهودانو علماءو ته اشاره شوې، کله چې د اهل کتاب د علماءو په اړه بحث کېږي نو قرآن ئې په دغه صيغه يادوي، د دې وړ ئې نه ګڼي چې د عالم په نامه ئې ياد کړي؛ بلکې وايي: هغه چې له کتابه ئې نيمګړی علم په برخه شوی، علم ئې ناقص دئ، هسې ئې د کتاب څو خبري زده کړې دي. دلته د دوی درې ځانګړتياوې په ګوته کوي:

- په اوهامو، خرافاتو، فال، کوډو، منتر، جادو او دې ته ورته شيانو

باور لري.

- د طاغوت په خدمت کې دي، د هر ظالم، عاصي، سرکښ او مفسد واکمن ملاتړ کوي، په خوله ئې د الله نوم وي خو په زړه کې ئې له طاغوت وېره او طمع، دين د طاغوت په پښو کې ذبح کوي او د طاغوت په ګټه ئې کاروي.
- تر مؤمنانو کافران غوره ګڼي، تبليغات ئې د هغوی په ګټه وي، خلکو ته وايي چې د کافرانو مسلك او مذهب تر مؤمنانو غوره دئ.

دا داسې وګړي لکه د روسانو او امريکايانو په لاس د افغانستان د اشغال په وخت کې چې ځيني دين پلورونکي ملايان له دوی سره يو ځای شول او د واقعي علماءو او مجاهدينو په ضد به ئې تبليغات کول، د امريکايانو کرکجنه او په وينو لړلې ديموکراسي به ئې ستايله او تأييدوله او د مجاهدينو په اړه به ئې ويل چې دوی متعصب او افراطي دي، د هېواد د آزادۍ او بيا ودانولو دښمنان دي.

همدا راز فرمايي:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلۡأَحۡبَارِ وَٱلرُّهۡبَانِ لَيَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۗ وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿٣٤﴾ التوبة

اې مؤمنانو! د احبار (ملايانو) او رهبان (پيرانو) ډېری د خلکو مالونه په ناحقه خوري او د الله له لارې مخنيوی کوي او هغه چې سره او سپين زر ذخيره کوي او د الله په لار کې ئې نه مصرفوي نو د دردناك عذاب زېری ورکړه.

د دې مبارك آيت په ترځ کې الله تعالی موږ ته د اهل کتاب ګمار علماء او دوکه مار پيران معرفي کوي او فرمايي:

- د دوی ډېری د خلکو مالونه په ناحقه خوري.
- د الله له لارې مخنيوی کوي.

يعني له دين ئې ځان ته دكان جوړ كړى، خلك غولوي او شكرانې ترې اخلي، د پيسو په مقابل كي فتوى ګاني پلوري، د حكامو په خدمت كي وي، د هغوى د تخت او تاج د بقاء دعاء كوي چي څه زهر او زقوم په خوله كي ورواچوي، د سودخورو په ګټه سودي معاملات روا ګڼي، د دې لپاره چي سودخورو هغوى ته كومه چپنه او پګړۍ وركړې وي.

دغو ټګمارانو به په دې توګه حرام مال تر لاسه كاوو: رشوت، سود، د الله په نامه څه تر لاسه كول او پخپله ئې خوړل، د ګناهونو د بخښلو، جنت ته د ننوتو او له دوزخ د ژغورل كېدو اسناد پلورل، د حكامو لپاره فتوى ګاني وركول، په فال، تعويذ، كوډو او دم شكرانې او نذرانې تر لاسه كول. قرآن د همدې لپاره د دوى په اړه فرمايي:

وَتَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٦٢﴾ لَوْلَا يَنْهَىٰهُمُ ٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلْأَحْبَارُ عَن قَوْلِهِمُ ٱلْإِثْمَ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ ﴿٦٣﴾ المائدة

او ډېرى به ئې وګورې چي په ګناه، تېري او د حرامو په خوړلو كي تلوار كوي، څومره بد دئ هغه څه چي دوى ئې كوي. ولې ئې خداى پالونكي او علماء د ګناه له وينا او د حرامو له خوړلو نه منع كوي؟! ډېر بد دئ هغه څه چي دوى ئې كوي.

په ٦٢ آيت كي د ايمان منافي درې ستر ستر كارونه په ګوته شوي:

- په ګناه كي تلوار.
- د بل پر حق تېري او تجاوز كي تلوار.
- د حرامو په خوړلو كي تلوار.

له دغو بدو كړو وړو سره سره به الله تعالى څنګه د دوى د ايمان دعوى قبلوي؟

د دوى د علماءو او مشائخو حالت هم داسي دئ چي نه خلك له بدي او غلطي وينا منع كوي او نه د حرامو له خوړلو، د چا په ښه او بد

کار نه لري، له بدو حساسيت په کې مړ شوی او له وضعيت سره ئې روغه جوړه کړې، د حکامو په خدمت کې دي، په يوه مفسد او گنهگار قوم کې هغه څوك د منلي عالم او پير په نامه شهرت مومي چې د عام ولس په خبر وي، د دوی د خوښې خبرې کوي، نه د غلطې وينا مخالفت کوي او نه سمې او حق وينا ته خلك رابلي، له حکامو سره ئې لاس يو کړی وي؛ د کومې ټولنې علماء او مشائخ چې داسې وي؛ نو حکام او عام ولس به ئې څنگه وي؟

که تاريخ ته رجوع وکړو نو په څرگنده توگه به وگورو چې دين يا ظالمو واکمنانو تباه کړی، يا دين پلورونکو بدو علماءو او يا دوکه مارو پيرانو؛ او دا همغه څه دي چې عبدالله بن مبارك رحمه الله په خپلې کښلې (شکلې) وينا کې ويلي: و هل افسد الدين الا الملوك و احبار سوء و رهبانها؟؛ هر کله چې د الله دين د ټگمارو علماءو او دوکه مارو پيرانو په لاس کې پرېوتی، له دين ئې دام او دکان جوړ کړی، خلك ئې پرې غولولې او خپل جيبونه ئې ډك کړي، په دين کې ئې داسې لاسوهنې کړې چې خلك دوی د خدای استازي وگڼې او په خپلو مالونو کې د الله تعالی برخه دوی ته وسپاري؛ زکات، عشر او صدقات د بې وزلو، فقيرانو او مسکينانو په ځای دوی ته ورکړي، الله تعالی هغه مهال نوی کتاب له نوي پيغمبر سره رالېږلی چې دغو ټگمارانو د الله مخکينی دين تحريف کړی او دوی پدې توانېدلي چې له دين د خلکو د تحميق او ناوړه گټې تر لاسه کولو وسيله جوړه کړي، د پيغمبر د لېږلو وجه ئې دا ښودلې چې هم الهي دين او هم د الله مظلوم بندگان د ټگمارانو له منگولو وژغوري، د دوی له خوا جوړ شوي خرافات او په دين پورې تړل شوي تورونه له منځه يوسي، د خلکو پر اوږو په ناحقه ايښودل شوي درانه بارونه کوز کړي او د همدې مکارو او دروغجنو له خوا د خلکو په لاس پښو کې اچول شوي زنځيرونه مات کړي، د الله تعالی او خلکو تر منځ جوړ شوي هغه حجابونه او خنډونه نسکور کړي چې خلك له خپل رب لرې کوي او د دغو ټگمارانو پښو ته ئې غورځوي، خلکو ته دا وښيي چې

دا د دين دروغجن او مكار ټيكه داران، د بندگانو او الله تر منځ واسطه نه دي، الله تعالى ته د رسېدو لاره له دوى نه ده تېره شوې، هر بنده كولى شي له خپل رب سره مخامخ او له واسطې پرته؛ او چا ته له شكرانې او نذرانې وركولو پرته راز او نياز وكړي او دا ورته په ډاگه كړي چې خداى د ټولو رب دئ، هر چېري د هر چا دعاء او فرياد اوري، هر بنده ته د غاړي تر رگ ورنژدې دئ، هغه ته د رسېدو لپاره هيڅ وسيلى ته اړتيا نه شته، هيڅوك د هغه له اجازې او امر پرته د هيچا شفاعت نه شي كولى، چا ته چې الله تعالى د زيان اراده كړې وي هيڅوك خير نه شي وررسولى او چا ته ئې چې خير غوښتى وي هيڅوك ضرر نه شي وررسولى.
او ټولو ته اعلانوي چې خداى ته رجوع وكړئ، يوازې د ده عبادت وكړئ او يوازې له ده مرسته وغواړئ. دا د رسول الله صلى الله عليه و سلم دعاء وه:

اللهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا رَادَّ لِمَا قَضَيْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ "  شعب الايمان

يا الله! چا ته چې ته څه وركړې؛ هيڅ منع كوونكى نه لري؛ او له چا چې تا څه وسپمول؛ هيڅ وركوونكى نه لري، او تا چه كومه پرېكړه وكړه هيڅ ردوونكى نه لري؛ او ستا په وړاندې؛ هيڅ د لويي او هاند خاوند ته د هغه لويي او هڅه هيڅ گټه نه شي رسولى.

الله تعالى آدم عليه السلام او د ده اولاد ته پر ټولو مخلوقاتو؛ د فرشتو په شمول؛ ځكه فضيلت وركړ چې علمي استعداد او په هر څه د پوهېدا وړتيا او ظرفيت ئې تر ټولو نورو مخلوقاتو جامع دئ؛ خو موږ ته ئې دا لارښوونه هم كړې چې دا كوم علم دئ؛ دا د اشياءوو د پېژندا علم دئ؛ نه د صرف او نحو علم؛ له ده او فرشتو ئې د اشياءو د پېژندا پوښتنه كړې نه د صرف، نحو، تجويد، فلسفه او منطق پوښتنه؛ دا پوښتنه د آدم عليه السلام له پيدايښت سره متصل شوې؛ تر هغه ډېر وړاندې چې دى د پيغمبر په توگه غوره او وحي يا كومه صحيفه او

کتاب پرې نازل شي؛ نو هغه علم ئې نه د کوم کتاب علم وو او نه د کومې ژبې د صرف او نحو علم؛ قرآن موږ ته وايي: عالِم هغه دئ چې خپل رب ئې ښه پېژندلی نو څکه زيات ترې وېرېږي؛ نه هغه چې کتابونه پرې بار وي؛ .... فرمايي: إِنَّمَا يَخْشَى ٱللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ ٱلْعُلَمَٰٓؤُا۟: يقيناً چې له الله يوازې د ده پوه بندګان وېرېږي،...

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ ثَمَرَٰتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهَا ۚ وَمِنَ ٱلْجِبَالِ جُدَدٌۢ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ ﴿٢٧﴾ وَمِنَ ٱلنَّاسِ وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلْأَنْعَٰمِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ كَذَٰلِكَ ۗ إِنَّمَا يَخْشَى ٱللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ ٱلْعُلَمَٰٓؤُا۟ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ ﴿٢٨﴾ فاطر

٢٧- آيا نه ګورې چې الله له آسمان اوبه وروي او په دې سره داسې مېوې راباسو چې رنګونه ئې ډول ډول دي؛ او له غرونو ځيني ئې سپيني او سرې ګاري دي چې رنګونه ئې ډول ډول دي او ځيني ئې تك تور؛
٢٨- او همداسې د خلکو، خزنده وو او څارويو رنګونه ډول ډول دي، يقيناً چې له الله يوازې د ده پوه بندګان وېرېږي، يقيناً چې الله بخښونکی عزتمن دئ.

په دې مبارکو آيتونو کې د توحيد اړوند څو عميق او مضبوط دلائل وړاندې شوي، په دې کې قرآن خپل مخاطب ته وايي: آيا نه ګورې چې الله تعالی له آسمان اوبه وروي او بيا په دغو اوبو سره له زمکې داسې ډول ډول مېوې راباسي چې رنګونه ئې مختلف او بېل بېل دي، دا د زمکې او آسمان تر منځ ژور تنسيق او همغږي د چا په اراده رامنځته شوې؟ دا کوم خلاق ذات دئ چې له خاورې خوندورې رنګينې مېوې جوړوي، هغه هم نه يو ډول مېوه او په يوه رنګ کې بلکې ډول ډول مېوې چې هم په خوند کې ژور توپيرونه لري، هم په شکل او بڼې کې او هم په رنګ کې؟ دا خو هر عقلمن ناظر ته په جګ غږ وايي: د دغو خوندورو، رنګينو او ښکلو مېوو پيدايښت هرومرو د يوه داسې عليم، حکيم او خلاق ذات کار دئ چې هم آسمان د ده تر واك

او حکم لاندي دئ او هم زمکه، آسمان ته وايي اوبه ووروه او زمکي ته وايي په دغو اوبو ډول ډول مېوې راوټوکوه، دواړو ته ئې لارښوونه کړې چي د انسان په خدمت کي اوسئ او د ده اړتياوي پوره کړئ!! دا په زرگونو ډوله خوندوري مېوې چي نه يوازي د نوع، شکل، رنگ، خوند، جوړښت، ترکيب، بوی، ذائقې... له پلوه ژور توپيرونه لري بلکي د انسان ډول ډول غذائي اړتياوو ته ځواب وايي، انسان ئې له رنگ، شکل، بوي او ذائقې خوند اخلي، په يوه نوع مېوې کي يوه له بلي دومره توپيرونه لري چي هر انسان پرې پوهېدی شي، آيا دا نه ښيي چي د عالَم د ټولو مخلوقاتو تر شا د يوه داسي حکيم خلاق رب نامرئي لاس لگيا دئ چي نه غواړي يو مخلوق او مصنوع ئې له هره پلوه بل ته ورته وي، په هر يوه کي بايد د ده د خلاقيت او حکمت بېل بېل اړخونه راڅرگند شي، د عالَم ټول مخلوقات بايد د ده د بې انتهاء علم، حکمت او خلاقيت مظاهر زموږ په وړاندي انځور کړي؟! که دا عالَم يوې فابريکې ته ورته وی او رب ئې احسن الخالقين: تر ټولو غوره پنځوونکی او خالق نه وی؛ نو هيڅکله به د دومره بې شمېره تنوع، بې انتهاء ښايست او ژور تنسيق شاهد نه وو؛ لکه څنگه چي يوه فابريکه له يو ډول خامو توکو يوازي يو ډول يا په ډېر مخکي تللي حالت کي څو ډوله شيان جوړولی شي نو د آسمان له اوبو او د زمکي له خاوري به يوازي څو محدود ډوله شيان پيدا کېدل او هغه هم په بشپړه توگه يو بل ته ورته، خو دا دئ گورو چي خبره کاملاً بل ډول ده، له دې زمکي دومره ډول ډول مېوې پيدا کېږي چي انسان ئې هم له شمېرلو عاجز دئ او هم له توصيف!! دا تنوع چي د حکيم خلاق ذات د بې انتهاء قدرت يو څرگند مظهر دئ يوازي په مېوو کي نه بلکي د عالَم په هري برخي کي تر سترگو کېږي، په غرونو کي سپيني او سرې گاري گورئ چي رنگونه ئې ډول ډول دي، داسي گاري هم گورئ چي رنگ ئې تك تور دئ، نه يوازي د رنگ له پلوه يوه له بلي توپيرونه لري بلکي د ترکيب له پلوه هم د دوی تر منځ ژور او پراخ توپيرونه شته، همداسي د خلکو، خزنده وو او څارويو رنگونه ډول ډول دي، د انسان له پيدايښت بيا تر نن پوري داسي

دوه انسانان نه دي پيدا شوي چي له هره پلوه په بشپړه توگه سره ورته وي؛ او د رنگ، شکل، جوړښت، استعدادونو او ځواکونو له پلوه توپيرونه ونه لري!! په مخلوقاتو کي بې انتهاء او پراخه تنوع په دې شهادت ورکوي چي خالق او پيدا کوونکی ئې د پراخ او بې انتهاء ابتکار او نوښت خاوند خالق دئ؛ ماشيني طبيعت نه دئ چي يو يا څو محدود ډوله شيان پيدا کولی شي او له هغه وروسته ئې ابتکار او نوښت په ټپه ودرېږي؛ ولي دوه انسانان په بشپړ ډول د شکل، رنگ، غږ، استعدادونو او وړتياوو له پلوه يو شانته نه دي؟؛ ولي دوه بوټي، وني، مېوې، دانې او ژوي په کامله توگه سره ورته نه دي؟ حتی د يوې وني مېوې له هره پلوه سره ورته او يو ډول نه دي؟ په داسي حال کي چي د ټولو مخلوقاتو د پيدايښت اصلي ماده يوه او پيدا کوونکی ئې هم يو دئ؛ تر ننه مو داسي ستوری نه دئ موندلی چي د جوړښت اصلي ماده ئې له زمکي توپير ولري او په هغه کي حاکم قوانين او سنن د زمکي په څېر نه وي؛ د پراخ عالَم په هيڅ برخي کي مو د دوهم خالق د لاس او پيدايښت هيڅ نښه نه ده موندلې؛ د عالَم د پيدايښت په اړه کومه خبره چي قرآن ١٤ پېړۍ وړاندي کړې او ويلي ئې دي: زمکه او آسمانونه سره يو وو او الله تعالی سره بېل کړي؛[٢]نن ساينس همدا خبره کوي؛ او معنی ئې دا ده چي زموږ دا زمکه د عالَم له ټولو ستورو او اجرامو سره گډه منشأ لري؛ هم ئې د جوړښت ماده سره ورته ده، هم ئې سنن او ضوابط او هم ئې خالق يو دئ.

د زمکي او عالَم عمر ملياردونه کلونه دئ؛ خو په پيدايښت کي د نوښت او ابتکار لړۍ لا روانه ده او د احسن الخالقين رب نوښتونه لا پای ته نه دي رسېدلي!! نه گورئ چي په څو وروستيو پېړيو کي د انسان د ابتکاراتو کار کوم ځای ته رسېدلی او په څومره نويو نويو اکتشافاتو بريالی شوی؛ د انسان او بل هر مخلوق هر نوښت هم په حقيقت کي د هغه خالق او رب ته گرځي؛

---

[٢] أَوَ لَمۡ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ كَانَتَا رَتۡقٗا فَفَتَقۡنَٰهُمَاۖ وَجَعَلۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّۚ أَفَلَا يُؤۡمِنُونَالانبياء:٣٠ آيا کافرانو دې ته پام نه دئ کړی چي آسمانونه او زمکه سره نښتي ول، نو موږ سره بېل کړل او هر ژوی مو له (اوبو) پيدا کړی، نو آيا ايمان نه راوړي؟!

خالق ئې دا وړتيا او استعداد ورکړی.

دا ړاخه تنوع هر سترګور او عقلمن انسان ته څه وايي؟ د دې تنوع د خالق په اړه موږ ته څه لارښوونه کوي؟! يقيناً چي د علم خاوندان نه يوازي دا د رب العالمين د قدرت څرګند مظاهر ګڼي او همدغي تنوع ته په پام سره پر رب العالمين ايمان راوړي؛ بلکي دا (علم) او (ايمان) په دوی کي د خپل رب په وړاندي د قصور داسي احساس راولاړوي چي زړونه ئې رېږدوي، همغسي لکه چي الله تعالی فرمايي: له الله يوازي د ده پوه بندګان وېرېږي. هو؛ د الله تعالی په اړه ښه معرفت او د هغه ښه پېژندنه په انسان کي خشوع راپيدا کوي، څوك چي تر نورو زيات پوه او عالم وي هغه به تر نورو زيات له خپل رب وېرېږي، د ده په وړاندي به ځان قاصر بنده ګڼي او خپل الهي مسئوليت به تر هغه څه ډېر لوړ ګڼي چي کړي ئې دي يا ئې کوي. دا آيت موږ ته حقيقي (عالم) راښيي، وايي: عالم هغه دئ چي له الله تعالی ډېر وېرېږي؛ نه هغه چي ډېر کتابونه ئې لوستلي، عالم هغه نه دئ چي ځان يا نور ئې په لويو لويو او اوږدو القابو ستايي، عالم هغه دئ چي په وينا، کړنو او څېرې کي ئې له الله تعالی د وېري آثار له ورايه برېښي. عالم هغه دئ چي په عالم کي د ځواکمن او عزتمن رب د قدرت، حکمت او عظمت مظاهر د دوی په زړونو کي وېره راولاړوي او خپل قصور ته په پام سره د هغه مغفرت او بخښني ته طمع ساتي؛ او په دې باور وي چي يقيناً الله تعالی بخښونکی عزتمن دئ.

الله تعالی عليم (ډېر پوه) دئ؛ علم د ده ذاتي صفت دئ؛ ټول عالم ئې د خپل کامل علم له مخي پيدا کړی؛ په هر څه کي به ئې د علم څرګند مظاهر ومومې، علم (پوهه او پېژندنه) دا ده چي هم الله تعالی وپېژنې او هم په عالم کي د ده د علم مظاهر او آثار؛ هغه ته عالم ويلی شو چي همدا پوهه ئې په برخه شوې وي؛ د انسان هر علم، کشف او اختراع يوه الهي پيرزوينه ده؛ همغسي لکه عقل، شعور، فهم، پنځګوني حواس، سترګي، غوږونه، ژبه، پزه، لاسونه او پښې چي هر يو ئې ستر

نعمت دئ؛ د انسان (مؤمن او کافر) هر علم د الله تعالی نعمت دئ؛ همغسي لکه چي عقل، فهم، شعور او حواس ئې د هغه نعمتونه دي؛ د الله تعالی په إذن ورپه برخه کېږي؛ لکه چي قرآن فرمايي:

**... وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ ...﴿٢٥٥﴾ البقره**

... او دوی د ده له علم يوازي په دومره څه احاطه کولی شي چي دی ئې وغواړي،...

هر چا ته علم او پوهه دی ورکوي، سترګي، زړه، غوږونه، دماغ او اعصاب ئې د ده په اراده ورته کار کوي، لار ورته ښيي او د ښه او بد، مفيد او مضر په پېژندلو کي ئې مرسته کوي، په هر څه چي انسان علماً احاطه کوي او پر خصوصياتو ئې د پوهېدو توفيق تر لاسه کوي؛ نو دا ټول د الله په خوښه او اذن او په همغه حد کي وي چي الله تعالی غوښتي او وئې غواړي.

هر نوی کشف او علمي اختراع؛ يو الهي نعمت او پېرزوينه ده؛ په عالم کي دا تسهيلات او امکانات الله تعالی ايښي؛ او انسان ته دا استعداد او مَلَکَه الله تعالی ورکړې چي د عالم هر څه وپېژني او ګټه ترې واخلي؛ د انسان دغه الهي وړتيا او استعداد هغه څه دي چي انسان ته ئې پر ټولو مخلوقاتو؛ د فرشتو په شمول؛ فضيلت ورکړی او الله تعالی له همدې امله ملائکي پر دې وګمارلې چي د هغه پر فضيلت اعتراف وکړي. د انسانانو ټولي علمي او ساينسي لاسته راوړني، په حقيقت کي کشف دئ؛ نه اختراع او ابداع؛ د نورو له نظره پټ حقائق ئې کشف کړي او په مرسته ئې ګټور توکي جوړ کړي؛ برېښنا په طبيعت کي له همغي ورځي موجود وه چي الله تعالی زمکه او آسمانونه پيدا کړل؛ انسان اوس کشف کړه او نن ئې د ژوند ډېر تسهيلات په همدې برېښنا پوري تړلي دي؛ له يوه ځای بل ته او د څپو له لاري د غږ انتقال عملاً تر سره کېدو او اړوند امکانات ئې په طبيعت کي تعبيه شوي وو؛ انسان وتوانېدو څرنګوالی ئې کشف کړي، لومړی د تار، بيا د فلزي سيم او نن د برېښنايي څپو او

امواجو له لارې؛ په سريع توګه انتقال کړي. دا ځکه چي انسانانو نه مخلوقات او په هر يوه کي خاص ظرفيتونه او امکانات پيدا کړي او نه د دوی تر منځ د تعامل قواعد او ضوابط انسانانو وضع کړي؛ د انسان کار فقط د هغو الهي سننو کشفول دي چي الله تعالی په عالم کي ايښي دي او په قرآن کي د سنت، قضاء او قدر په نامه ياد شوي؛ انسان نه يوازي دا سنن، قضاء او قدر وضع کړي نه دي بلکي بدلولی ئې هم نه شي؛ ثابت او نه بدلېدونکي دي؛ هيڅوك ئې نه شي بدلولی. قرآن فرمايي:

... فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗاۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَحۡوِيلًا ﴿٤٣﴾ فاطر

.... نو هيڅکله به د الله د سننو لپاره هيڅ تبديلي ونه مومې او هېڅکله به د الله د سننو لپاره هيڅ تحويل (تغيير) ونه مومې.

يعني الهي سنن او مقدرات ثابت او تغيير نه منونکي دي، نه ئې څوك په خپلو هڅو او تدبيرونو سره بدلولی شي او نه کوم تغيير په کي راوستلی شي.

د انسان علم داسي عام الهي نعمت دئ چي د خپلو ټولو بندګانو لپاره ئې مقدر کړی؛ که مؤمن وي که کافر؛ همغسي چي نور عام نعمتونه ئې ورته مقدر کړي؛ په انسان او د ده په انتخاب پوري تړاو لري چي څومره ئې تر لاسه کوي او څنګه ئې کاروي؛ خوښه ئې چي غواړي د نعمتونو شاکر شي او په ښه توګه ئې وکاروي او که د نعمتونو کافر او منکر چي په ناسمه او غلطه توګه ئې کاروونکی شي؛ که د ده د تنفس لپاره له اوکسيجن ډکه هوا ده، که د لمر تودوخه او رڼا ده، که باران او واوره ده، که دانې او مېوې دي او د رزق نور توکي؛ د ټولو بندګانو لپاره ئې پيدا کړي؛ مؤمن ته ئې هم ورکوي او له کافر ئې هم نه سپموي؛ لمر ئې ټولو ته رڼا او تودوخه ورکوي او آسمان ئې ټولو ته هوا، اوبه او باران؛ او دوی چي د هر څه او هر مخلوق په اړه کومه پوهه تر لاسه کوي، کوم څه پېژني او د هغه علم ئې په برخه کېږي؛ دا هغه څه دي چي الله تعالی غوښتي؛ او ده ته ئې ورپه برخه کړي.

يعني چي د مؤمن او كافر انسان هر علم او پوهه د الله تعالى يوه پېرزوينه ده؛ متأسفانه ځيني د جهالت له كبله له ساينسي علومو سره حساسيت ښيي؛ له هر نوي شي او نوي بدلون سره د مخالفت لار غوره كوي؛ په داسي حال كي چي الله تعالى د همدې علم له امله انسانانو ته پر ټولو نورو مخلوقاتو فضيلت وركړى؛ دا د انسانانو د هغه جد علم دئ چي له امله ئې فرشتو د ده پر فضيلت اعتراف وكړ او د الله تعالى په امر ئې سجده وكړه! آيا ډېره ډېره عجيبه نه ده چي له دې علم بې برخي او جاهل؛ ځان ته عالم وايي؟ ښاغليو! الله تعالى له آدم عليه السلام او فرشتو؛ نه د كوم كتاب آزموينه اخيستې او نه د كومي ژبي د صرف، نحو او گرامر؛ آيا پوهېږئ چي الله تعالى په دې اړه په خپل قرآن كي څه فرمايلي؟

وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلۡأَسۡمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمۡ عَلَى ٱلۡمَلَـٰٓئِكَةِ فَقَالَ أَنۢبِـُٔونِي بِأَسۡمَآءِ هَـٰٓؤُلَآءِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٣١﴾ قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ لَا عِلۡمَ لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمۡتَنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٣٢﴾

[٣١]- او آدم ته ئې نومونه ورزده كړل؛ ټول ئې؛ بيا ئې ملائكو ته وړاندي كړل، نو وئې ويل: د دغو پر نومونو مي خبر كړئ؛ كه رښتيني ياست.
[٣٢]- وئې ويل: پاكي ده تا ته، موږ له هغه پرته چي تا راښودلي هيڅ علم نه لرو، ته خو بې شكه چي ښه پوه او ښه د حكمت خاوند يې.

يعني الله تعالى آدم عليه السلام او د ده نسل ته پر ملائكو دا فضيلت وركړى چي علم ئې تر فرشتو جامع دئ، د هر څه پېژندلو او هغه ته د خاص نوم وركولو استعداد په كي ايښودل شوى، خو ملائكي داسي دي چي هر صنف ئې د خپل خاص كار په اړه علم لري او د نورو شيانو په اړه نه پوهېږي، هر څه پېژندل او بيا هغه ته خاص نوم وركول؛ د انسان ځانگړتيا ده، دا خصوصيت په بل هيڅ مخلوق كي نشته، د زمكي د خلافت لپاره همداسي يوه مخلوق ته ضرورت وو، ملائكو د دې خلافت وړتيا نه درلوده او دا كار ئې نه شو كولى.

آيا پوه شوې چې له دوی دواړو د کوم علم په اړه امتحان اخستل شوی؟! او له مخې ئې چا ته د عالِم او چا ته د ناپوه لقب ورکړی شوی؟ او راته ووايه چې د دې الهي او قرآني معيار په تله کې د ځان په اړه څه قضاوت کوې او ځان د کوم لقب وړ او مستحق ګڼې؟!

څوك چې په رياضي، هندسه، فزيك، کيميا او نورو علومو نه پوهېږي؛ هيڅ کسب او کار په سمه او بشپړه توګه نه شي کولی؛ نه يوازي له نورو ملکونو سره په ټيکنالوژي، نظامي وسائلو، صنعت، زراعت، تجارت کې برابري او سيالي نه شي کولی؛ بلکې هيڅ ابتدائي کارونه؛ لکه نجاري، خياطي، دهقاني، د اوسپني، پلاستيك، لرګي، سرو زرو، سپينو زرو؛ کسب، کاروبار او تجارت نه شي کولی؛ نه تکړه او ماهر ترکاڼ، پښ، درزي، کروندګر، سوداګر تري جوړېدی شي؛ نو هغه چې په مدرسې کې ئې دغه علوم نه دي ويلي او په هيڅ کسب او کار نه پوهېږي؛ روزي به له کومه کوي؟ آيا له دې پرته بل بديل لري چې پر اذان، امامت، تعويذ، دم، فال، جادو کول او ماتول، د ماشوم غوږ کې اذان، د قبر پر سر او د فاتحې مراسمو کې د قرآن په تلاوت سره .... شکرانې تر لاسه کړي؛ په داسې حال کې چې دا ټول له شرعي پلوه ناروا او ناجائز دي؛ امام احمد رحمه الله په دې اړه ډېره په زړه پوري وينا لري او وايي: «اِنْ لَمْ تُعَلِّمُوا النّاسَ الْمِهَنَ، بَاعُوا دِينَهُمْ...»؛ که خلکو ته کسبونه ونه ښيئ نو خپل دين به خرڅوي؛ يعنې خلکو ته يوازي دين مه ښيئ؛ کسب او هنر هم ورو ښيئ؛ که نه نو روزي به د دين پلورلو له لاري تر لاسه کوي.

هغه چې ځان ته عالِم وايي خو په ابتدائي رياضي هم نه پوهېږي؛ دا ځکه چې ده خپل کتابونه له داسې استاد لوستلي چې يا ئې اصلاً سواد نه درلود او يا په رياضي؛ جمع، تفريق، ضرب او تقسيم نه پوهېدو؛ له دې علم پرته د ميراث وېشل ممکن نه دي؛ ما ته دې ووايي: ميراث به څنګه ويشي؟ سره له دې چې د ميراث په اړه په قرآن کې تر ټولو نورو موضوعاتو زيات او په ډېر تفصيل سره بحث شوی؛ نن موږ په ټول افغانستان کې لږ داسې علماء مومو چې د ميراث په علم کې مهارت لري

او له اشتباه پرته ئې وېشلی شي. او که دا غوښتنه هم ترې وشي چې د میراث زمکه عملاً هم ووېشي؛ نو دا وېش یوازې هغه څوك کولی شي چې هندسه ئې لوستلې وي؛ له دې علم پرته ئې وېش ممکن نه دئ؛ ټول ساینسي علوم همداسي دي؛ علم د مؤمن بنده ورکه شوې متاع ده؛ هر چېري ئې چې ومومي؛ دی ئې لومړنی مستحق دئ؛ هغه جاهلان دي الله پوه کړي چې له ساینسي علومو سره ځکه مخالفت کوي چې د پوهېدو مجال او ظرفیت ئې نه دئ په برخه شوی؛ په دې هم نه پوهېږي چې نوح علیه السلام لومړی انجنیر دئ چې د لرگی کښتۍ ئې جوړه کړه، داؤد او زوی ئې سلیمان علیهما السلام لومړني انجنیران دي چې اوسپنه او مس ئې کشف کړل، ذوب ئې کړل او د زره (زغري) په څېر وسائل ئې ترې جوړ کړل، سلیمان علیه السلام لومړی شخص دئ چې داسي بادي کښتۍ جوړه کړه چې په نیمایي ورځ کې به ئې د پلي انسان د یوې میاشتې مزل وهلو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم هم شپني کړې او هم تجارت، مېرمني ئې خدیجه رضي الله عنها تجارت کولو او له دې لارې تر لاسه کړې ټوله شتمني ئې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په واك کې ورکړه؛ او هغه په دې اړه فرمایلي: الله تعالی زه د خدیجې په سبب له نیازمنۍ وروسته شتمن کړم؛ یعني خدیجه ئې د دې آیت مصداق وگڼله:

وَوَجَدَكَ عَآئِلٗا فَأَغۡنَىٰ ۝٨ الضحی

او نیازمن ئې ومونده؛ خو غناء ئې کړه درپه برخه.

نو موږ به یوازې هغه څوك د رسول الله صلی الله علیه و سلم حقیقي وارث گڼو چې ویناوې، کړني او اخلاق ئې د ده په څېر وي، هغه او ټولو پیغمبرانو خپلو امتونو ته ویلې: د دین په کار کې له تاسو هیڅ مادي او معنوي اجر او بدله نه غواړو؛ اجر مو فقط پر الله تعالی دئ؛

وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝١٠٩

او له تاسو هیڅ اجر نه پرې غواړم، زما اجر یوازې پر رب العالمین دئ،

په دې او تر دې وړاندي آيت کي د نوح عليه السلام دوه خبري داسي راغلې چي په قرآن کي همدا دواړه د يوه پيغمبر د حقانيت معيار ګڼل شوي: امانت او له الله تعالى پرته له بل چا اجر نه غوښتل، په دې سوره کي او د قرآن په ګڼ شمېر نورو آيتونو کي به وګورئ چي دا دواړه د پيغمبرانو عليهم السلام د شخصيت بارز مواصفات ښودل شوي، هر يوه خپل قوم ته ويلي: زه د الله تعالى له لوري لېږل شوى امين استازى يم، په بشپړ امانت سره د خپل رب پيغام تاسو ته رسوم، د دې دعوت په بدل کي له تاسو هيڅ اجر نه غواړم، زما اجر يوازي پر رب العالمين دئ. دا ښيي چي د صادق او کاذب داعي، زړه سواند لارښود او مکار پير د پېژندو لپاره بايد دغه دوه مواصفات د معيار په توګه په پام کي ولرو؛ يوازي هغه څوك به د پيغمبر صادق وارث بولو چي دا ځانګړتياوي په کي وموමو: امانت او له خلکو د اجر او شکرانو غوښتلو طمع او غوښتنه نه درلودل.

ٱتَّبِعُواْ مَن لَّا يَسۡـَٔلُكُمۡ أَجۡرٗا وَهُم مُّهۡتَدُونَ ﴿٢١﴾ يٰس

د هغو متابعت وکړئ چي کومه بدله نه درنه غواړي او دوى هدايت شوي دي.

دا د يٰس سورې د يوې داسي رکوع يو آيت دئ چي په هغې کي د دريو پيغمبرانو يادونه شوې؛ لومړى دوه تنه د يوې سيمي استوګنو ته ولېږل شول خو هغوى دواړه تکذيب کړل، بيا د دواړو مرستي ته دريېم هم ولېږل شو چي د سيمي استوګنو ته ئې وويل: موږ د الله تعالى له لوري تاسو ته لېږل شوي استازي يو؛ هغوى ورته وويل: تاسو خو زموږ په څېر بني آدمان يئ، له موږ مو په هيڅ څه کي کوم توپير نشته، نه الله تعالى تاسو د استازو په توګه لېږلي يئ او نه ئې ستاسو په لاس کوم پيغام لېږلى؛ تاسو له دې پرته بل څه نه يئ چي دروغ وايئ؛ پيغمبرانو ورته وويل: زموږ رب ښه پوهېږي چي موږ په يقيني توګه ستاسو لوري ته لېږل شوي استازي يو، دنده مو يوازي دا ده چي د الله تعالى پيغام

په بشپړ امانت او په واضح توګه تاسو ته ورسوو، هغوی ورته وويل: تاسو ځان ته د بدمرغۍ سبب بولو، كه له خپلو خبرو لاس وانه خلئ نو هرو مرو مو رجم كوو او حتماً به له موږ دردوونكې عذاب دروررسېږي، پيغمبرانو په ځواب كې ورته وويل: د بدمرغۍ اسباب مو پخپله له تاسو سره دي؛ ستاسو كفر، شرك، ظلم، فساد او ګناهونه د بدمرغۍ اصلي اسباب دي، آيا موږ له دې كبله په رجم او دردناك عذاب ګواښئ چي نصيحت درته كوو؟ آيا سمه ده چي هغه كسان په دردناك عذاب وګواښئ چي تاسو ته پند دركوي؟ اصلي خبره دا ده چي تاسو په خپل چلن كې تل تېری او اسراف كوئ، زموږ په خلاف ستاسو دا ګواښونه هم له همدې اسراف راټوكېدلي.

بيا په همدې حالت كې د ښار له لري څنډې يو سړی په داسي حال كې راغی چي تلوار ئې كولو او وئې ويل: اې زما قومه! د دغو پيغمبرانو متابعت وكړئ، د هغو متابعت وكړئ چي له تاسو د هيڅ بدلې طمع نه لري، مخلص او بې غرضه ناصحان دي، عملاً ګورئ چي دوی په سمه لار روان او هدايت ئې په برخه شوی. ګورئ چي قرآن د هغو پيغمبرانو د صداقت لپاره د يوه صالح بنده دوه دلائل زموږ مخې ته ايښي: دوی له خلكو د هيڅ بدلې او اجر طمع نه درلوده او عملاً پر سمه لار روان او هدايت ئې په برخه شوی.

رسول الله صلی الله عليه و سلم د زكات او صدقات له اموالو هيڅ څه د ځان او خپلې كورنۍ لپاره نه اخيستل؛ زكات او صدقات ئې د خپلې كورنۍ پر غړو تحريم كړي وو. نو څوك چي د پيغمبرانو د وراثت دعوی كوي؛ بايد په دې صفاتو متصف وي؛ موږ بايد د همدې معيارونو له مخې؛ صادق او كاذب داعي وپېژنو.

قرآن موږ ته وايي: كله چي آدم عليه السلام؛ د ممنوعه ونې د مېوې خوړلو په سبب له جنت وايستل شو او په دې سره له خپلې فطري جامې محروم شو؛ نو له پاڼو ئې ځان ته جامه جوړه كړه، زوی ئې قابيل په دې نه پوهېدو چي د خپل شهيد ورور له جسد سره څه وكړي؛ ناڅاپه

ئې يو کارغه وليد چي زمکه ئې په مښوکې وکيندله او څه ئې په کې ښخ کړ؛ له کارغه ئې د خپل ورور د ښخولو چم زده کړ؛ خو نن په ۲۱ مي پېړۍ کي د آدم عليه السلام زامنو داسي تېز جنگي جهازونه جوړ کړل چي جوړښت ئې شاهين ته ورته دئ؛ او داسي اوبتلونه (تر اوبو لاندي کښتۍ) ئې جوړ کړل چي جوړښت ئې سترو کبانو ته ورته دئ، غوښتل ئې داسي سيار ماشين جوړ کړي چي په ناهمواره او له لوړو ژورو او تيږو ډکي زمکي باندي آرام تگ کولی شي؛ هغه هم (د سپوږمۍ په څېر ستوري کي) نو د يوې حشرې په څېر ئې اوږدي کړې پښې ورته جوړي کړې؛ چين ملخ ته ورته داسي جاسوسي وړه ډرون الوتکه جوړه کړه چي کولی شي تر لري واټن الوتنه وکړي، معلومات راغونډ او تصويرونه او غږونه ثبت کړي او مرکز ته ئې مخابره کړي؛ که ئې څوك د خپلي خوني پر شيشه وگوري نو د ملخ گمان به پرې کوي.

يعني چي انسان له خپل ماحول زده کړه کوي؛ علم ئې اکتسابي دئ؛ د پيدايښت په لومړيو کي په هيڅ نه پوهېږي؛ له پيدايښت سره سم ئې څو کارونه په فطري توگه زده وي، خندا، ژړا او لاس پښې خوزول؛ په ژړا سره خپله مور خبروي چي تی ورکړي، د مور تی په خپلو لاسونو کلك نيسي او روي؛ ورو ورو ئې زده کړه زياتېږي؛ او په نويو شيانو پوهېږي؛ د الله تعالی علم ذاتي دئ؛ نه کمېږي او نه زياتېږي، د حال، ماضي او مستقبل په هر څه پوه وو او دئ؛ د دې توصيف دلائل بې شمېره دي؛ يو ئې همدا د مور په تي کي د ماشوم لپاره د شيدو پيدايښت دئ؛ د ماشوم تر پيدايښت وړاندي؛ د ده لپاره د مور په مستقل او له ده بېل بدن کي؛ داسي شيدې پيدا شي چي د ماشوم لپاره هم مکمل او بشپړه غذا ده او هم دوا؛ داسي مکمله غذا چي د نړۍ ټول ډاکټران، ساينسپوهان او انجنيران ئې په گډه او د خپلو ټولو وسائلو او تجهيزاتو په مټ؛ يو ځاځکی هم نه شي جوړولی؛ تر دوه کاله زيات د ده ټولو غذايي اړتياوو ته ځواب وايي؛ د ده تر پيدايښت وړاندي د داسي مور په تي کي تعبيه شي چي د ده لپاره په خپل زړه کي دومره مينه لري چي

تياره وي خپل هر څه تر ده جار کړي؛ دی په غېږ کې کلك نيول، پر مخ ښکولول، ټی ورکول، بدن او جامې ئې پاکول او بدلول ئې د ژوند تر ټولو محبوبه او خوندوره مشغله وي؛ خپل راحت خو پرېږده؛ خپل ځان ترې قربانوي؛ يوازې د انسان مور نه؛ بلکې هره مور؛ که مارغان دي، که د وچې او سمندر حيوانات دي؛ دا هر يو په خپل زړه کې له خپل اولاد سره همداسې مينه لري؛ هر بچې همداسې مور ته ضرورت لري؛ او الله تعالی د ده اړتياوو ته په پام سره همداسې مهربانه ورته پيدا کړې؛ او دا ښيي چې دا عالَم يو مهربان، عليم، حکيم او په هر څه پوه خالق او پالونکی لري.

په طبيعت کې د بېلو بېلو برخو تر منځ؛ د پراخې او ژورې همغږې او تنسيق يوه بله بېلګه هم ستاسو مخې ته ږدم:

قرآن (نهرونه) او (لارې) يو د بل څنګ کې يادوي؛ او په دې سره موږ ته وايي: الله تعالی موږ ته په غرونو کې د اوبو زېرمې او ذخيرې جوړې کړې، په ځمکې کې؛ د غرونو لوړو او ژورو کې واورې ذخيره شي، له ځمې وروسته او هغه مهال چې موږ په هوارو کې اوبو ته ضرورت لرو؛ ورو ورو ويلې کېږي او زموږ لورې ته رابهېږي، کوم خوړونه او درې چې په غرونو کې ګورو ټولې د دغو نهرونو له کبله رامنځته شوي؛ او په درو کې د نهرونو خوا ته دا لارې له همدې امله راپيدا شوې؛ که نه نو سترو سترو غرونو به سيمې داسې سره بېلې کړې وې چې انسانانو ته به له يوې سيمې بلې ته تګ ډېر ګران وو. قرآن فرمايي:

وَأَلْقَىٰ فِى ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِىَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهَٰرًا وَسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ﴿١٥﴾ النحل

او په زمکې کې ئې لنګرونه (غرونه) واچول چې تاسو ونه لړزوي؛ او نهرونه او داسې لارې چې (له يوې سيمې بلې ته) لار پيدا کړئ.

د دې مبارکو آيتونو په ژورو مطالبو د ښه پوهېدا لپاره دا خبرې په پام کې ولرئ:

• دلته د غرونو د پيدايښت په اړه د (ألقى: واچول) صيغه کارول شوې؛ ولې د جوړولو او پيدا کولو پر ځای دا صيغه راغلې؟ ولې د غرونو لپاره د جبال پر ځای د (رواسي: لنګرونه) نوم راوړل شوی؟ آيا د غرونو تر پيدايښت وړاندې زمکه خوځېده؟ غرونو څنګه د هغې خوځښت له منځه يووړ؟ ولې نهرونه او لارې څنګ په څنګ ذکر شوې آيا د نهرونو او لارو تر منځ کوم تړاو شته؟ دې پوښتنو ته بايد دقيق او علمي ځوابونه ولټوو.

• علمي څېړنې ښيي چې غرونه د زمکې له زړه راټوکېدلي، ډېره برخه ئې د زمکې په زړه کې وي او لږ ئې بهر راوتلې وي، دا غرونه هغه مهال راټوکېدل چې د زمکې بهرنۍ قشر سوړ او د ډبرې په څېر کلك شو؛ خو نازك وو او د زمکې په سينه کې د متراکمې انرژۍ د فشار په وړاندې ئې مقاومت نه شو کولی او په پر له پسې توګه چاودېدو، له دغو چاودونو ويلې مواد بهر شيندل کېدل او همدا ورو ورو په غرونو بدلېدل؛ اوس هم دا لړۍ روانه ده او د اورشيندو په ترڅ کې غرونه د جوړېدو په حال کې دي؛ خو په لږ پيمانه. دا ښيي چې د غرونو لپاره د (القى) صيغه کارول ډېر ستر علمي حقيقت افاده کوي او د قرآن يو ځلانده علمي اعجاز زموږ مخې ته ږدي. د زمکې پر سر د غرونو د جوړېدو څرنګوالی له دې سره شباهت لري چې څوك هګۍ په جوش اوبو کې کښېږدي، د هګۍ زېړ او سپين ورو ورو ګرم شي او وپړسېږي، د داخلي فشار له کبله د هګۍ پوستکی وچوي، د هګۍ سپين له چاودونو بهر راووځي او د چاودونو په امتداد لوړ پاته شي؛ غرونه د زمکې پر سر همداسې جوړ شوي.

• د علمي څېړنو په ترڅ کې دا حقيقت هم ثابت شوی چې زمکه د پيدايښت په لومړيو مراحلو کې او هغه مهال چې بهرنۍ قشر ئې لا مضبوط او پرېړ شوی نه وو او غرونه لا نه وو پيدا شوي، د دغو چاودنو له کبله له شديدو او پر له پسې زلزلو سره مخامخ وه، دا غرونه د دې باعث شول چې د زمکې بهرنۍ قشر مضبوط او دروند شي، بېلې بېلې ټوټې

ئې سره وصل او ویلډینګ شي او د زلزلو مخه ونیول شي. دا داسي وګڼئ لکه چي د یخو اوبو پر سر د مات کنګل ټوټې له کوم لوی او درووند او ډېر سوړ کنګل سره ونښلي او په دې توګه ئې ماتېدا او خوځېدا متوقف شي. د غرونو لپاره د لنګر نوم غوره کول په حقیقت کې دغه ستر علمي حقیقت ته اشاره کوي او یقیناً چي دا د قرآن یو بل قاطع او ښکاره علمي اعجاز دئ.

- د علمي څېړنو په ترڅ کې دا حقائق هم ثابت شوي چي د زمکې د سر نهرونه د غرونو له کبله پیدا شوي، دغه نهرونه د دې باعث شوي چي خوړونه او درې رامنځته شي، د اوبو د مسیر ډبري وسولېږي او خوړونه او درې په کې جوړ شي؛ او بیا په همدغو درو کې انسان ته له یوې سیمي بلې ته د تلو لاري پرانیستل شي. تاسو که دا نن د لویو غرونو په سیمو کې تېري شوو لارو ته ځیر شئ نو وبه ګورئ چي ټولې لاري د نهرونو په ژۍ کې او په هغو درو کې تېري شوې چي دغو نهرونو رامنځته کړې دي. او دا له شك پرته د قرآن بل ستر علمي اعجاز دئ چي غرونه، نهرونه او لاري ئې څنګ په څنګ یاد کړي.
- زمکه داسي جوړه شوې چي هري خوا ته علائم او نښې زموږ مخې ته ځلېږي، د همدغو علائمو له مخي موږ د خپل سرمنزل لوری او د تګ سمت ټاکلی او پېژندلی شو، که دا علائم نه وی نو انسان ته به ګرانه او حتی محال وه چي له یوې سیمي بلې ته د سفر په دوران کې د خپل هدف لوری او د تګ مسیر تعیین کړي او لار ترې غلطه نه شي. کله د غرونو څوکې ورته نښه شي، کله نهر، کله وچ خوړ، کله ځنګل، کله یوه ستره ونه، په لویو بېدیاوو، بحرونو او فضاء کې هم د دغو علائمو له مخي خپل مسیر تعیینوي، که دا د زمکې د سر نښې ئې له سترګو غائبې شي نو بیا د ستورو له مخي خپل لوری او سمت ټاکي او لار مومي؛ لکه دا چي د شمالي قطب په ستوري سره د شمال او غرب لوری داسي ټاکي چي ښۍ اوږه د دې ستوري لوري ته برابره کړي، همدا لوري ئې شمال شي او مخامخ ئې غرب.

## د انسان رؤیا؛ د رحمان رب پيرزوينه او د غيب علم نښه

د انسان خوب او رؤيا د دې بل څرګند ثبوت وړاندي کوي چي الله تعالی له ماضي او مستقبل همداسي خبر دئ لکه له حال؛ موږ کله داسي خوبونه ګورو چي عملي تعبير ئې څه موده وروسته په خپلو سترګو وينو؛ تر پېښو وړاندي ئې؛ په خوب کي او د زړه په سترګو ګورو؛ او بيا ئې په دقيقه او بشپړه توګه عملاً د سر په سترګو ووينو؛ يا په خوب کي له داسي نژدې او لري ماضي خبرېږو چي هيڅ اطلاع نه ترې لرو؛ په اړه ئې موږ نه له چا څه اورېدلي او نه مو په کوم کتاب کي څه لوستلي؛ وروسته راته معلومه شي چي په ماضي کي همداسي څه وو او همداسي پېښه شوې. آيا کولی شو د داسي خوبونو له اړخه بې اعتناء تېر شو او تصادف ئې وګڼو؛ مخصوصاً چي د داسي خوبونو بېلګي د ډېری انسانانو په ژوند کي تجربه شوې؛ او ښيي چي دا زموږ پالونکی رب دئ چي د ماضي او مستقبل دروازې زموږ مخې ته پرانيزي او په خپل الهام سره مو له غيب خبروي. د (خوبونه او تعبيرونه) کتاب کي د داسي خوبونو ډېري بېلګي لوستلی شئ. د يوسف عليه السلام، د مصر د ملك او د رسول الله صلی الله عليه و سلم د عمرې خوب ئې څرګندي قرآني بېلګي دي؛ لومړني دوه خوبونه په بايبل کي هم راغلي.

ما په خپل ټول ژوند کي؛ له ماشومتوب تر نن چي عمر مي ۷۸ ته رسېدلی؛ داسي ډېر خوبونه ليدلي؛ چي نه يوازې حيرانوونکي دي؛ بلکي زما ايمان ته ئې صيقل او ځلا بخښلې؛ کله ئې له ځان سره لري ماضي ته بېولی يم او کله نژدې او لري مستقبل ته؛ داسي څه او صحنې ئې د زړه په سترګو راباندي ليدلې چي په ويښه مي د هغوی عملي مصداقونه په دقيقه توګه او له هيڅ تغيير پرته په خپلو سترګو ليدلي؛ له دې خوبونو داسي تجربې او خاطرې لرم چي زړه ته ډاډ او ايمان ته ځلا ورکوي؛ په دې اړه مي د (خوبونه او تعبيرونه) په نامه کتاب ليکلی؛ په دې موخه چي د (رؤيا) په نامه د زيګموند فرويد هغه ډېر معروف او په غرب کي

منلی کتاب نقد کړم؛ چي ما په ځوانۍ کي لوستلی وو او هغه مي د عقل، علم او د خپل ژوند واقعيتونو او خوبونو خلاف موندلی وو. راشئ چي د دې کتاب په پای کي د داسي خوبونو څو بېلګي ستاسو مخي ته کښېږدم:

١- ما څلور ځلي رسول الله صلی الله علیه و سلم په خوب کي ليدلی؛ لومړی ځل هغه مهال چي ديارلس کلن او د حربي ښوونځي په اوم ټولګي کي وم؛ په خوب کي ګورم چي د مازديګر لمانځه لپاره د کعبې له شرقي دروازې ورننوځم، د ننوتلو لار ور (دروازه) نه درلوده، د کعبې سطح له زمکي سره برابره وه، د مخکني معمول په څېر د غرب په لوري په لمانځه ودرېدم، ناڅاپه ګورم چي رسول الله صلی الله علیه و سلم له يو شمېر يارانو سره له غربي دروازې راداخل شي؛ جامې، پټکی او څادر ئې سپين وي، څادر ئې پر سر او اوږو اچولی وي، ږيره ئې توره او لږ مجعده (ګونځي تاوراتاو) وه او مخ ئې غنم رنګی، ملګرو ئې هم ده ته ورته جامه درلوده، رسول الله صلی الله علیه و سلم ما ته وګوري او تبسم وکړي؛ زه له ځان سره ووايم چي ښايي ما به د قبلې لوری غلط کړی وي، نو ځکه رسول الله صلی الله علیه و سلم تبسم وکړ، زه خو د مخکي په څېر د غرب په لوري ودرېدلی يم، اوس خو د کعبې په منځ کي يم، ښايي قبله به ښي اړخ ته وي، په لمانځه کي ښي اړخ ته وګرځم، له ځان سره ووايم: له لمانځه وروسته به له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره مصافحه کوم، په دې لوري کي يو داسي دېوال وګورم چي لوړوالی ئې د يوه متر په اندازه وي، د نيم دائرې په څېر منحني جوړ شوی وي، د ډېرو رنګ ئې خړ سور بخن وي، د رکوع په حالت کي وم چي له خوب راويښ شوم. ډېر کلونه وروسته راته معلومه شوه چي ما په دې خوب کي کعبه په هغي بڼې کي ليدلې وه چي په سر کي د ابراهيم عليه السلام په لاس جوړه شوې وه، او وروسته ځيني تغييرات په کي راغلي، هغه منحني دېوال حطيم دئ چي اوس له کعبې بهر پاته شوی، خو د ابراهيم عليه السلام په وخت کي دا د کعبې جزء وو، د يوې پېښي

په وجه کعبه ورانه شوې وه، قریشو دومره مالي توان نه درلود چي بېرته ئې په خپلي لومړنۍ بڼې جوړه کړي، اوږدوالی ئې راکم کړی او حطیم بهر پاته شوی، دوه دروازې ئې وې چي اوس ئې یوه بنده کړی شوې، دواړه مخامخ او د دېوالونو جنوبي کونج کي، د کعبې سطح له زمکي سره برابره وه خو اوس د یوه سړي د قد په اندازه جګه کړی شوې، ما د دوهمي دروازې ځای هم په خپلو سترګو ولید چي په ډبرو بند شوی، قریشو دا تغییرات د دې لپاره راوړي ول چي کعبې ته اشرافو ننوتلو ته اجازه ورکړي، یوازي خاص خلك هغې ته د ننوتلو اجازه ولري، دا پرېکړه د دوی په واك کي وي چي چا ته د ننوتلو اجازه ورکړي او چا ته نه.

ما ته الله تعالی پنځه ځلي کعبې ته د ننوتلو سعادت او شرف راپه برخه کړ؛ یو ځل په خوب او ۱۳ کلنۍ کي او څلور ځلي په ویښه؛ او د مازیدګر د لمانځه د څلورو رکعتونو په شمېر!! کله چي ما لومړی ځل د سعودي ځوانان په خپلو سترګو ولیدل؛ نو هغوی رنګ ما ته د رسول الله صلی الله علیه و سلم رنګ را په یاد کړ. زما پر ایمان او عقیدې د دې خوب ډېر ژور اغېز وو، په خوب کي د کعبې هغه حالت لیدل چي څلور زره کاله مخکي وو او بیا نژدې څلرویشت کاله وروسته په ویښه کعبې ته د ننوتلو سعادت تر لاسه کول؛ طبعاً چي نه شو کولی هغه عادي او تصادفي پېښه تلقي کړو او له خوا ئې په بې اعتنائي سره تېر شو. ډېر ځلي مي له ځان سره ویلي: آیا کله به کعبه په خپلي هغي اصلي او لومړنۍ بڼې کي هم وګورم چي د ابراهیم علیه السلام په لاس جوړه شوې وه او ما په خپل خوب کي لیدلې ده؟ او که زه د خپل خوب د دې برخي تحقق ته هم هیله من وم؛ هیله ده څوك مي له دې امله ملامت نه کړي.

پوښتنه کوم: په تنکۍ ځواني کي؛ هغه مهال چي د کعبې له تاریخ او لومړني جوړښت هیڅ خبر نه وم، په دې اړه مي نه له چا څه اورېدلي وو او نه څه لوستلي؛ څنګه مي کعبه په هغي بڼې کي ولیدله چي نژدې څلور زره کاله وړاندي وه؟ څنګه پوه شوم چي څلرویښت کاله وروسته

به دې کعبې ته ننوځم، یو ځل نه بلکې پنځه ځلې، یو ځل خوب کې او څلور ځلې په ویښه؟ څنګه مې رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغه رنګ کې ولید چې د سعودي ځوانانو ته ورته وو او کله چې ما د سعودي ځوانان په لومړي ځل په خپلو سترګو ولیدل نو د رسول الله صلی الله علیه و سلم رنګ را په یاد شو؟!

زه د هېواد په یوې لرې سرحدي او آمو دریا ته څېرمه سیمې کې زېږېدلی یم؛ ما او زما کورنۍ ته؛ کعبه په خپلو سترګو لیدل او د حج سعادت تر لاسه کول هم یوازې یوه هیله کېدی شوه؛ نه عادي او آسان کار؛ څه دا چې کعبې ته د ننوتلو طمع ولرو او تصور ئې وکولی شو؛ اوس خو کعبې ته ننوتل یوازې مهمو سیاسی، اجتماعی او مذهبی زعماءو او مشرانو ته مختص شوې؛ زما په څېر کسانو ته ئې د داسې هیلې تر سره کېدا؛ یوه خیالي هیله او تصور هم ناشونی وو؛ خو هر څه زما د رؤیا مطابق تر سره شول؛ دا ولې؟ زه د دې لپاره فقط یو تعبیر او تفسیر لرم: دا رؤیا له دې پرته بل څه نه وو: رحمانی الهام او د عالم الغیب و الشهاده رب له لوري یو بشارت او زېری؛ هر کله چې دا خوب او د تحقق بهیر ئې رایاد شي نو زړه مې درېبږي او د مهربان رب د دې بې انتهاء لطف او عنایت د شکر له اداء کولو د عجز احساس کوي او داسې شایسته الفاظ نه مومي چې له دې عهدې ووتلی شي.

له هغو چې پر الله تعالی باور نه لري؛ او یا په تکلف سره هڅه کوي د خپل زړه او عقل د ګواهي او شهادت خلاف؛ داسې وښیي چې ملحد و خدای نه منونکی دي؛ پوښتم: د دې رؤیا لپاره څه عقلي او علمي تعبیر و تفسیر لرئ؟

انسان د خوب په حالت کې نه یوازې د ویښې په څېر ذهني فعالیت لري او دماغ ئې ویښ او فعال وي؛ بلکې کله کله ئې د خوب حالت کې ذهني فعالیتونه تر ویښې هم ډېر دقیق او ډېر ژور وي. ښه به وي چې ښه به وي دا د یوه خوب په ترخ کې توضیح کړم:

۲- د شیرخان لیسې په لسم ټولګي کې وم، د ریاضي استاد مو در

محمد خان نومېدو، يوه ورځ ئې راته وويل: د لسم ټولګي د مثلثاتو له كتاب لس سوالونه غوره كړه، په يوې پاڼي كې ئې وليكه او اعلان وكړه: چا چې دا سؤالونه تر فلانۍ نېټې حل كړل؛ لس كتابچې به د جايزې په توګه تر لاسه كړي، د پنځو كتابچو قيمت به زه وركړم او د پنځو ته؛ ما موافقه وكړه؛ لس سؤالونه مي غوره او پر يوې پاڼي مي وليكل او پاڼه مي د ښوونځي پر دېوال نصب كړه؛ كله چې هغه نېټه رانږدې شوه نو كښېنستم چې ځوابونه ئې وليكم، نه (۹) سؤالونه مي ځواب كړل؛ خو د لسم په حلولو كې له ستونزي سره مخ شوم؛ د شپې تر ناوخته مي پرې كار وكړ؛ خو موفق نشوم؛ د ماخستن له لمانځه وروسته ويده شوم، خو ټوله شپه په خوب كې پرې لګيا وم؛ د سحر تر لمانځه لږ وړاندي مي په خوب كې حل كړ، د سحر له آذان سره سم راويښ شوم، ژر مي قلم او كاغذ راواخيستل او هغه مي وليكلو چې هېر مي نه شي؛ بيا لاړم اودس او لمونځ مي وكړ، سبا مازديګر مي استاد په داسي حال كې وموند چې واليبال ئې كولو؛ زما خوا ته راغی او وئې ويل: سؤالونه دي حل كړي؟ ما ورته وويل: هو؛ پوښتنه ئې وكړه: هغه سؤال دي هم حل كړی؟ ومي ويل هو؛ ما ترې وپوښتل: تا حل كړی؟ وئې ويل: هو؛ له ما ئې وغوښتل چې توضيح ئې كړم؛ ورته ومي ويل: لومړی به ستا حل وګورو بيا زما؛ هغه په ډېر تكلف او له پېچلو لارو حل كړ؛ ما ورته وويل: تر دې زما حل دقيق او آسان دئ؛ هغه ته مي تشريح كړ او پرې قانع شو؛ بيا مي ورته وويل: دا سؤال مي په خوب كې حل كړی؛ د خوب جريان مي ورته تېر كړ؛ حيران شو!!

دا خوب ښيي چې د انسان ذهن په خوب كې تر ويښي په لازيات دقت سره كار كولی شي؛ زه به له هيچا سره دا ادعاء ونه منم چې وايي په خوب كې د انسان ذهن هم ويده كېږي او خپل فعاليتونه متوقف كوي؛ د غرائزو او احساساتو مهار د عقل له لاس او واك وځي او پر هوس د عقل كنترول پای ته رسي؛ زما لپاره يوازې دا او ګڼ شمېر نور خوبونه د واقعي، عيني او عملي دليل په توګه كافي دي؛ د انسان دماغ

يوازي د مرگ په خوب له ويده کېدو وروسته خپل فعاليتونه متوقف کړي؛ له دې پرته تل فعال وي؛ هم په ويښه او هم د خوب په حالت کې؛ او د انسان عقل په خوب کې د ويښې په څېر؛ غرائز، احساسات، هوی او هوس اداره کوي.

خو د فرويد په کتاب کې لولو: هِبِل په خپلې يوې ټوټې کې چې له هغو اجتماعي ضد تأثراتو سره تړاو لري چې انسان ئې د اجتماعي حساسيتونو او فشارونو له کبله په شا تمبوي او په تکلف سره هڅه کوي هغه پټ کړي؛ داسي ليکي: "د انسان غرائز او تمايلات ځان ته پراخه او خيالي نړۍ لري؛ دا نړۍ د خوب په پای کې راويښه او فعاله شي او ځان د ډول ډول انځورونو او صحنو په بڼې کې موږ ته راښيي؛ خوب خپل وېروونکې وړانگې؛ زموږ د شهواني تمايلاتو او روحي اسرارو لوري ته توجيه کړي؛ له همدې کبله ده چې ديوان، اشباح او وېروونکي انځورونه گورو چې په آزادۍ سره زموږ مخې ته خوځي، په داسي حال کې چې د ورځې له پلوه او د ويښې په حالت کې دا ديوان د عقل په زنځير تړل شوي وي او د ځان ښودلو مجال نشي تر لاسه کولی!!

گورئ چې د هِبِل دا خبرې د فرويد خوښې شوې دي: داسي چې گمان کوي د رؤيا امپراطوري د انسان د خوب په وروستيو شېبو کې راڅرگنده شي، کار ئې دا دئ چې د انسان د شهواني تمايلاتو او روحي اسرارو مختلف اړخونه بربنډ کړي، د وحشتناکو انځورونو په بڼې کې ئې زموږ مخې ته کښېږدي، د ويښې په حالت کې دا کار ځکه نشي کولی چې دا مهال د انسان عقل فعال وي او د خوب په حالت کې نه يوازي ويده وي بلکې هغه ديوان او وحشتناك هيکلونه هم د ده له واك وتلي وي چې يوازي په خوب کې راڅرگندېږي!!

د ده په ځواب کې بايد ووايو: د هبل دا خبرې نه يوازې علمي ارزښت نه لري بلکې د انسان د خوب او ويښې د توپيرونو او د هغه د خوبونو د تعبير په اړه د ده وينا ډېره بې بنسټه او د حقيقت خلاف ده؛ د انسان عقل په خوب کې هم د ويښې په څېر فعال وي، ښايي هبل او

فروید ته به دا د یوه بسیط دلیل په توګه کافي وي چې ورته ووایو: که ستاسو عقل په خوب کې فعال نه وی نو په زړښت کې به مو هم خپله بستره هره شپه همغسې لمدوله چې په ماشومتوب کې مو لمدوله!! موږ ته ووایئ: کوم څه مو په خوب کې نه پرېږدي چې د ماشومتوب د وخت هغه غلطي تکرار کړئ او خپله بستره لمده کړئ؟! نه د خوب او ویښې تر منځ دومره ژور توپیر شته چې هبل او فروید ئې ادعاء کوي او نه د خوب د پیل او پای تر منځ دومره توپیر چې ګواکې یوازې په وروستي پړاو کې ئې امپراطوري راڅرګنده شي؛ د انسان دماغ او عقل په خوب کې همغسې فعال وي او کار کوي چې په ویښه ئې کوي، ډېر ځلې ئې د خوب په حالت کې کار تر ویښې لازیات دقیق وي، د خوب افکار او تمایلات ئې همغسې وي چې په ویښه وي، په خوب کې همغه رموز، کنایې او تشبیهات کاروي چې په ویښه ئې کاروي، وړاندلیدنې او وړاندوینې ئې همغسې لکه د ویښې وړاندوینې او وړاندلیدنې، خوب نه د انسان فطرت بدلوي او نه ئې عقل او طبیعت، یوازې دومره کوي چې د انسان د بدن څو سویچونه غیرفعال کړي او پر څو محدودو حواسو د ده واکمنې په نسبي توګه تضعیف کړي؛ داسې لکه چې سترګې ئې پټې شي او څه نه شي پرې لیدلی او د لاس او پښو له خوځولو عاجز شي.

د رؤیا په اړه؛ د دوی دواړو په تعبیرونو او تفسیرونو کې څو اساسي او جدي اشتباهات مومو: ۱- د خوب په حالت کې له پیل تر پای رؤیا راسره ملګرې وي او زموږ ذهن او دماغ ئې مصروف کړی وي؛ نه دا چې د خوب په آخري ساعت کې راڅرګنده شي؛ خو موږ د خپلې رؤیا یوازې هغه برخه نه هېروو او په یاد مو پاته وي چې یا د خوب په آخري ساعتونو او هغه مهال ئې ګورو چې ژور خوب مو پای ته رسېدلی وي او ساحل ته ئې نژدې شوي وو؛ د خفیف خوب رؤیا مو په یاد پاته کېږي او د ژور خوب رؤیا مو هېرېږي. یا دا چې د مهمې رؤیا په یوې حساسې برخې کې د شپې منځ او بلې برخې کې راویښ شو؛ همغه مهال پرې فکر وکړو او له خامې حافظې (RAM) ئې ثابتې حافظې ته انتقال کړو؛

همغه کار چې په خپل کمپیوټر کې ئې کوو؛ د رؤیا دا برخه هم په یاد پاته کېږي؛ که د (RAM) حافظې مطالب حفظ نه کړو او کمپیوټر مو ویده شي نو ټول ناحفظ شوي مطالب له منځه ولاړ شي. ۲- بلاګاني یوازې هغه څوك په خوب کې ګوري چې په خرافاتو او بلاګانو باور لري او د ویښې په حالت کې ئې د بلاګانو شتون پر خپل ذهن او دماغ تحمیل کړی وي؛ له انا او بابا ئې د بلاګانو قصې اورېدلې او منلې وي؛ څوك چې په ویښه په بلاګانو باور نه لري؛ هیڅکله به په خوب کې بلاګاني ونه ویني. ۳- کوم کارونه چې د انسان عقل، ایمان او باورونه په ویښه کوي؛ همغه د خوب په حالت کې هم کوي؛ د انسان رؤیا په حقیقت کې د هغه د ویښې نړۍ استمرار او دوام وي؛ نه بله او نوې نړۍ. په ویښه کې چې د انسان عقل له کومو بدو او له اجتماعي پلوه منفور او ناوړه کارونو ممانعت کوي؛ په خوب کې ئې هم کوي. ساده مثال ئې دا دئ: د دماغ هغه برخه چې د انسان د بدن فضله او مضر مواد راغونډوی او بهر ته ئې باسي؛ په ویښه هم انسان تشناب ته بیایي او په خوب کې هم؛ خو هغه برخه چې کار ئې له بدو او ناوړو کارونو مخنیوی دئ او د قوانینو، عرف، انساني اخلاق او ادابو التزام او درناوي ته د انسان هڅول او تشویقول دي؛ په خوب کې هم د انسان مخه نیسي او د ماشومتوب د دوران د اشتباهاتو له تکرار ئې راګرځوي؛ داسې صحنې جوړوي او مزاحمتونه انځوروي چې د هغو غلطیو د تکرار مانع شي.

دې خوبونو ته هم لږ ځیر شئ:

۳- د دولسم ټولګي په آخري میاشتو کې د کانکور په اړه مشوش وم؛ یوه شپه مې خوب ولید چې د کانکور امتحان مې ورکړی، د نتائجو پاڼې د یوه دېوال پر مخ نصب شوې، لستونه ګورم؛ خپل نوم مې د یوه لست په سر کې ولید او خوا ته مې ۷۹ نمرې؛ دا طمع هیله مې په زړه کې راولاړه شوه چې ښایي زه په ټول افغانسان کې اول نمره کامیاب شوی یم، له خوب راویښ شوم، خپل همصنفي او د خونې ملګري عبدالله د بغلان اوسېدونکي ته مې وویل چې ما په کانکور کې ۷۹ نمرې اخیستې

دي، خپل خوب مي هغه ته تېر کړ، دوه مياشتي وروسته مي د کانکور امتحان ورکړ، په انجنيري کي مي د شاملېدو پرېکړه وکړه، د پري انجنيري کورس لپاره کابل ته ولاړم، دا دوه مياشتنی کورس هم پای ته ورسېدو او زه له هغه کورس اول نمره فارغ شوم، د کورس په پای کي د کانکور نتيجې اعلان شوې، لستونه د حقوقو د پوهنځي په دېوالونو نصب شوي وو، هلته ورغلم، گورم چي د يوه جدول په سر کي زما نوم ليکل شوی او مخي ته ئې هماغه ۷۹ نمرې، ژر ژر مي ټول جدولونه وکتل چي وگورم دا تر ټولو اوچتي نمرې دي که نه، آيا زما هغه د خوب طمع صحيح وه که نه؟ خو ومي ليدل چي تر ټولو اوچته نمره ۸۱ وه او د ټولو هغو کسانو شمېر چي له ۷۹ تر ۸۱ پوري نمرې ئې اخيستې وې؛ جمعاً يولس تنه وو.

پوښتنه کوم: زه څنگه څلور مياشتي وړاندي له داسي پېښي په ډېر دقت او تفصيل سره خبر شوم چي څلور مياشتي وروسته وزېږېده او تر سره شوه؟! يوه صحنه چي لا عملاً رامنځته شوې نه ده؛ په واقعي نړۍ کي شتون نه لري؛ څنگه مي په خوب کي وليدله؟ دا زما د دماغ کار دئ که کومه خارجي منشأ او منبع لري او له همدې منشأ تر لاسه شوې اطلاع او الهام؟! دا په هيڅ توگه د هغه سؤال د حلولو په څېر زما د دماغ کار نشي کېدی، ځکه دلته له داسي څه خبر شوی يم چي هم له زماني پلوه زما او د هغه تر منځ اوږد او ژور واټن وو او هم له مکاني پلوه، زه نه له دې خبر وم چي د کانکور آزمويني نتائج د لسو نمرو له مخي وي (هغه وخت د ثانوي زده کړو د آزموينو معمول همدا وو) او که د سلو، نتيجه ئې هر چا ته د کومي پاڼي پر مخ ورکول کېږي که د اعلان په توگه او که د دېوال پر مخ د نصب شوي فهرست په ترڅ کي؟ نه پوهېدم چي زه به له دې نتيجې په کندز کي خبرېږم که په کابل کي؟! هغه نتيجه چي له داسي خوبونو تر لاسه کېږي؛ له شك پرته دا ده چي د دې خوبونو د الهام منشأ او منبع زما له واك بهر منبع ده، داسي منبع چي د (زمان) او (مکان) له قيدونو او محدوديتونو آزاده ده، د انسان

علم د هغه د علم په وړاندي ډېر لږ او محدود دئ، په هغه څه پوهېږي چي ما ته پرې پوهېدل په هيڅ توګه او له هيڅ وسيلې په استفادې سره ممکن نه دي. زه وايم دا زما رب دئ؛ څوك چي له دې انکار کوي د هغه ځواب به څه وي او داسي خوبونه به څنګه تعبيروي؟! ما او هغه چا ته به څنګه قناعت راکوي چي همداسي خوبونه ئې ليدلي؟! د فرويد پلويان او سيکولر محققين به دا خوب څنګه توجيه کوي؟ يو داسي کار چي لا نه دئ واقع شوی، تر سره کېدو ته ئې لا څلور مياشتي پاته دي، د صحنې ټولي برخي داسي دي چي د خوب ليدو له نېټې وروسته به رامنځته کېږي؛ زه څنګه له دغي راتلونکې پېښي او اړوند صحنو ئې څلور مياشتي وړاندي او په دومره دقت او تفصيل سره خبر شوم؟! څوك چي له دې حقيقت انکار کوي زه به څنګه د هغه انکار د منلو وړ ګڼم؟!

٤- هغه مهال چي د ظاهر خان د واکمنۍ په دوران کي بندي او په توقيف کي د محکمې حکم ته منتظر وم؛ يوه شپه مي خوب وليد چي زما مشر ورور شهيد اختر محمد (چي د کمونستانو د اقتدار په لومړيو کي زما له پلار او کوچني ورور نورالدين سره په شهادت ورسېدو)؛ زما د توقيف خوني ته راننوت او له روغبړ وروسته زما د زندان د ملګري شهيد ډاکټر محمد عمر پر اوسپنين کټ کښېناست، د سرو زرو ګوتې ئې چي د فيروزې غمی په کي لګېدلی وو په ګوته وه، له څو دقيقو خبرو وروسته ئې دا ګوتې راوايستله او ماته ئې راکړه، د ملاقات په پاي کي کله چي روانېدو؛ جيب ته ئې لاس کړ او درې سليز افغاني نوټونه ئې له جيبه راوايستل او ماته ئې راکړل؛ خوب مي په دغه ځای کي پاي ته ورسېد. د هغي شپې په سبا؛ زما همدا مشر ورور ناڅاپي او پرته له دې چي کابل ته د ده له راتګ خبر وم؛ زما ليدو ته راغی، پوليسانو هماغه خوني ته راوست، په هماغه کټ کښېناست، هماغه ګوتې ئې په ګوته، له څو شېبو خبرو وروسته ئې خپله ګوتې راوايستله او ما ته ئې راکړه، د تلو په وخت کي ئې جيب ته لاس کړ او هماغه درې سليز نوټونه ئې راوايستل او ماته ئې راکړل؛ ما تر لاس ونيو او ورته ومي ويل: په خدای قسم چي

ستا دغه راتگ او د هغه ټولي صحنې مي تېره شپه په خوب کې ليدلې وې، دې ته منتظر وم چي دا آخري برخه ئې هم وگورم او بيا ئې تا ته ووايم.

له ماترياالستانو او د فرويد له پلويانو پوښتنه کوم: د يهودي مارکس او يهودي فرويد په مادي او الحادي مذهب او مسلك کې د داسي خوبونو لپاره څه توجيه او تحليل لرئ؟! زما په څېر په مليونونو انسانانو دې ته ورته خوبونه ليدلي؛ هغوی به څنگه قانع کوئ؟! زما لپاره همدا خوبونه کافي دي چي باور ولرم له مادي نړۍ آخوا د داسي خوبونو لپاره د الهام او إيحاء داسي منبع او مرجع شته چي له غيب او د راتلونکې زمانې له پېښو خبر دئ، دا ځکه چي د دې لپاره بله او مادي توجيه نشو موندلی!!

سُبْحَانَكَ اللهمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ



